جمعية خدمة المحتوى
الإسلامي باللغات

الصف السادس الابتدائي التوحيد والفقه والحديث

بشتو | پښتو

درسي نصاب

توحيد

سويه (شپږمه)



ح جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٧ هـ

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات

منهج الصف السادس ابتدائي التوحيد والفقه - فارسي./ جمعية

خدمة المحتوى الإسلامي باللغات - ط ا. .- الرياض ، ١٤٤٧ هـ

٢٩٠ ص ؛ ..سم

رقم الإيداع: ١٨٠٣٥ /١٤٤٧

ردمك: ١ -٢٨٥-٥١٧-٦٠٣-٩٧٨

لنډه کتنه

دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کوونکو لپاره د تعلیمي نصاب اصلاح شوی لنډیز دی چې په ببلابلو سویو ویشل کیږي، په دې کې یو مضمون توحید ته ځانګړی شوی چې په دولسو (۱۲) سویو ویشل کیږي. ترټولو اړین مسائل چې په شپږمه سویه کې راوړل شوي په لاندې ډول دي:

- د خلورګونو قواعدو تشریح چې له مخې یې شاګرد زده کوي چې یوازې د ربوبیت پر توحید په اقرار کولو سره انسان اسلام ته نه داخلیږي، بلکې خامخا به د الوهیت توحید ورسره وي، چې موخه یې په عبادت سره د الله تعالی ځانګړي کول دي.

- د شرک تعریف، ډولونه او د هر ډول لپاره دلیل.

- د کفر تعریف، ډولونه، د هر ډول لپاره دلیل او مثالونه وړاندې کول.

- د نفاق تعریف، ډولونه، د هر ډول لپاره دلیل او مثالونه وړاندې کول.

- د اسلام د نواقضو (ماتوونکو) تشریح چې عبارت دي له: هغو کارونو څخه چې په کولو سره یې د انسان اسلام باطلیږي او کافر کیږي، داسې کافر چې په بشپړه توګه د اسلام له دایرې وځي - الله دې مورږ تر یې وساتي.

- په عقیده کې یو لنډیز وړاندې کول چې په ترڅ کې یې پر هر مسلمان د رسول الله صلی الله علیه وسلم، د هغه د مېرمنو چې د مسلمانانو مورګانې دي، د هغه د صحابه کرامو، د خلفای راشدینو، د مسلمانانو د امامانو او داسې نورو واجب حقونه بیان شي.

شپږمه سويه

مقدمه

الحمدُلله الذي عَلَّم بِالقَلَم، علَّم الإنسانَ ما لم يَعْلَم، والصَّلاةُ والسَّلام على النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الكَرِيمِ الذي بَعَثَه اللهُ لِيُخرِجَ النّاسَ مِن الظُّلمات إلى النُّور، أمّا بعد:د الله تعالى توحيد تر ټولو ستر واجب او پرې پوهه تر ټولو عزتمند او غوره علم دی، دا هغه بنسټ دی چې د عملونو صحت او قبلیدل پرې بنا کیږي، او بندګان ورته تر هر څه ډیره اړتیا لري؛ ځکه زړونو ته ژوند، نعمتونه او ډاډ نشته پرته له دې چې خپل رب، معبود او خالق د هغه په نومونو، صفتونو او افعالو سره وپیژني، همدا رنګه په دین کې پوهه، د عبادتونو د ادا کولو د طریقې پیژندل لکه: طهارت، لمونځ او داسې نور چې د نیکمرغۍ نښې او د دې علامه ده چې الله جل جلاله خپل بنده ته د خپر اراده کړې ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مَن يُرِدِ اللهُ بِه خيراً يُفقّهه في الدِّين» [۲]. **«د چا لپاره چې الله تعالى د خپر اراده وکړي، هغه ته په دین کې پوهه ورکوي»** [۲].

بخاري په کتاب العلم باب من يرد الله به خيراً يفقهه في الدين کې په [۷] شمیره روایت کړی دی.

نو له همدې ځایه د ټولنو د پوهاوي بنسټ د توحید د مضمون په تدریس ټینګار کوي، تر څو زده کوونکي په سمه عقیده وروزل شي او په خپلو دیني چارو کې روښنایي او بصیرت ولري.د توحید په دې شپږمه سویه کې د څلورو قواعدو یادول شامل دي چې له مخې یې لاندې موضوعات تشریح کیږي: د شرک خطر او د توحید اهمیت، د شرک د تعریف او ډولونو تشریح، د کفر معنا او ډولونه، نفاق او د نفاق څانګې او د دې ټولو لپاره له قرآن او صحیحه سنتو څخه دلایل وړاندې کیږي، سربیره پر دې د اسلام د نواقضو تشریح، هغه نواقض یا ماتوونکي چې انسان د اسلام له دایرې باسي. او (په پای کې)د عقیدې په اړه یو لنډیز وړاندې کیږي.

ښوونکي ته ځينې سپارښتنې:

۱ الله تعالى ته اخلاص د عمل د قبلیدو شرط دی، نو عمل دې خاص د پاک الله لپاره وکړځوه چې د دنیا او آخرت ګټه مو په برخه شي.

۲ امانت ساتل د خلاصون لار ده - ښوونکی وروره - ته د اسلام له سنګرونو څخه په یو سنګر کې یې، او د مسلمانانو د اولادونو په عقلونو او فطرت امانتدار یې، نو د امانت ساتنه وکړه چې په دنیا او اخرت کې کامیابي ترلاسه کړې.

۳ توحید د مضمون زده کړه له سترو عملونو څخه یو عمل دی، له توحید پرته د بندګانو لپاره سمونتیا نشته او نه د دنیا له خواری او د آخرت له عذابه خلاصون، نو د زده کوونکو په ذهنونو کې د سمې عقیدې په کښت کې زیار وباسه، ریښتینی ترجمان او د هغه څه لپاره ترجمان او ژوندی بیلګه اوسه چې د لوړو اخلاقو او عاداتو څخه ورته بلنه کوې.

۴ د الله تعالى د وحدانیت او د هغه د قدرت د بیانولو لپاره له حالاتو ګټه پورته کړه، (د بیلګې په توګه) کله چې ورېځې په اسمان راخپرې شي، بریښناګانې وپرقیږي او غراری شي، بارانونه و اوریږي او داسې نورې پېښې په مسلمانانو کې د ایماني خوځښت لپاره غنیمت وګڼه.

۵ له شک پرته چې د مثالونو په وړاندې کولو او لوست ته د واقعیتونو سره په تړاو ورکولو د مضمون سره د زده کوونکو مینه زیاتیږي چې بیا د مطالبو په زده کولو او پرې عمل کولو کې خورا لویه اغیزه لري.

او په پای کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم پدې وینا سره زیری درکوو چې فرمایي: «إنّ ممّا يَلْحَق المؤمِنَ مِن عَمَلِه وحَسَناتِه بعد مَوْتِه عِلماً علَّمَه ونَشَرَه» [۲]. «د انسان له مرګ نه وروسته د هغه له عمل او نیکیو څخه چې هغه ته رسیږي؛ هغه علم دی چې زده کړی یې دی او په خلکو کې یې خپور کړی دی».

ابن ماجه په:(۲٤۲) شمیره روایت کړی دی.وصلَّى الله على نَبِيّنا محمَّد وعلى آله وصَحْبِه وسلَّم.

لومړی لوست

د توحید اهمیت

"څلورګوني قواعد"

زه [۳] د لوی الله (جل جلاله) څخه سوال کوم؛ هغه ذات چې عزتمند او د لوی عرش خښتن دی چې په دنیا او آخرت کې دې ساتنه وکړي، هر چېرته چې یې برکت دې مل کړي، له هغو کسانو دې وګرځوي چې کله ورکړل شي شکر باسي، کله چې پرې امتحان راشي صبر کوي او کله چې ګناه وکړي نو بخښنه غواړي، او همدا درې شیان د نېکمرغۍ نښې دي.



پوه شه - الله دې تا ته د خپلې بندګۍ لارښوونه وکړي - چې حنیفیت؛ د ابراهیم دین دی، چې تاسو یوازې د الله عبادت کوئ او د هغه لپاره دین خالص کړئ او په دې سره الله ټولو خلکو ته امر کړی او د همدې لپاره یې پیدا کړي دي.

د لوست لارښوونې:

* خوښي د رضایت او امنیت احساس دی، ډیری خلک د پیسو، جامو، سپرلیو او تفریح په وسیلو کې خوښي لټوي، خو خوښي یوازې د دې شیانو په ترلاسه کولو کې نه ده.

ریښتیني خوښي د دریو ځانګړتیاوو په درلودلو سره تر لاسه کیږي چې خلاصه یې په الله تعالی ایمان او هغه ته نږدې کېدل دي:

لومړی: پر تاسو د الله تعالی په نعمتونو اعتراف کول او پر وړاندې یې شکر ویستل دي. دویمه: د الله تعالی په پریکړو، تقدیر او حکمت ایمان او د مصیبت پر وړاندې صبر کول.

دریمه: الله جل جلاله ته تل په توبې او استغفار سره ورګرځیدل، په ځانګړې توګه کله چې ګناه وشي.

*ابراهیم علیه السلام حنیفي (دین) راوړی چې هغه د الله په عبادت کې اخلاص دی او په همدې سره محمد صلی الله علیه وسلم هم راتګ کړی دی، او همدا هغه څه دي چې بشریت ته خوشحالي ورکولی شي.

* له توحید پرته عبادت نه صحیح کیږي لکه چې الله پاک فرمایلي:ژباړه: «ته (دوی ته) ووایه: بېشکه ما ته حکم شوی دی چې زه د الله عبادت کوم، په داسې حال کې چې هغه (الله) لره دین خالص کوونکی یم».[سورت الزمر: ایت ۱۱].

لکه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنّ وَالْإِنسَ إِلّا لِيَعْبُدُونِ﴾

[الذاریات سورت: ٥٦ آیت].

: «او ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي».

کله چې پوه شوې چې الله تعالی د خپل عبادت لپاره پیدا کړی یې، نو پوه شه چې عبادت ته ترهغه پورې عبادت نه ویل کیږي چې توحید ورسره نه وي، لکه څرنګه چې له طهارت پرته لمونځ ته لمونځ نه ویل کیږي، نو کله چې په عبادت کې شرک وکړ شي، داسې یې فاسدوي لکه په طهارت کې چې بې اودسي رامنځته شي.



پوښتنې

س١ د لاندې جملې لپاره سم ځواب غوره کړه:

- ريښتني خوښي يوازې په..... تر لاسه کيږي.

پيسې | تفريحي توکي | استغفار، صبر او الله تعالی ته په شکر ويستلو

س٢ الله تعالی ولې پيريان او انسانان پيدا کړي دي؟

- .....
.....

س٣ حنيفيت څه دی؟

- .....
.....

س٤ د الله تعالی دې وينا ته يو مناسب عنوان غوره کړه: «او ما پيريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي».[الذاريات سورت: ٥٦ آيت].

- .....
.....

س٥ کله چې درڅخه ګناه او يا خطا وشوه نو څه به کوې چې الله تعالی راضي کړې؟

- .....
.....

دويم لوست

په توحيد اقرارکول

يوازې د ربوبيت توحيد منل انسان اسلام ته نه داخلوي.
کله چې په وه شوې چې شرک له عبادت سره ګډ شي نو عبادت فاسدوي، عمل بربادوي، او مرتکب به يې د تل لپاره په جهنم کې وي، نو په وه شه ستا لپاره مهم کار د همدې پېژندل دي، ښايي چې الله تعالی دې لدې جال څخه خلاص کړي چې د الله تعالی سره شرک کول دي، د کوم په اړه چې الله تعالی فرمايلي:



د لوست لاربښوونې:

توحيد د خلاصون يوازينۍ لار ده؛ ځکه يقينا چې څوک د الله تعالی سره توحيد منونکی مخ شو، نجات يې وموند او کامياب شو. او شرک د هلاکت لار ده؛ نو څوک چې له الله تعالی سره مشرک مخ شو، يقينا چې ذليل شو او تاوان يې وکړ.
شرک پليتي ده، کله چې په عبادت ورګډ شي هغه فاسدوي او عمل يې بربادوي، نو پر مسلمان واجب دي چې ځان پرې له ککړيدو وساتي.
* څوک چې د الله تعالی پر شتون اقرار وکړي او پر دې چې هغه د عالَم پيدا کوونکی او هغه ذات دی چې د خلکو چارې سمبالوي او د کائناتو په چارو کې تصرف کوي، نو اقرار يې صحيح دی، خو پدې سره نه مسلمانيږي تر څو ايمان رانه وړي چې له هغه پرته بل څوک د عبادت مستحق نشته او تر څو يوازې د هغه ذات عبادت وکړي چې شريک نه لري.

«إِنَّ اللَّه لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا».[النساء سورت: ٤٨، و١١٦ ايتونه].

: «بېشكه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوك) شريك كړى شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرك) نه كمه وي د چا لپاره چې وغواړي او څوك چې له الله سره شريك ونيسي، نو يقينًا هغه ډېره لويه ګناه راجوړه كړله».

او دا د څلورګونو قواعدو په پېژندلو سره چې الله تعالى په خپل كتاب كې يادې كړې دي.

لومړى قاعده:

پدې پوه شې چې هغه كافران چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورسره جنګيدلى و پدې اقرار كاوه چې الله تعالى پيدا كوونكى او مدبر (چارسمبالى) ذات دى.او دا چې پدې سره هغوى په اسلام كې داخل نه شول.

دليل يې د الله تعالى دا قول دى:ژباړه: (ته ووايه: تاسو ته له اسمان او ځمكې نه روزي څوك دركوي؟ يا د غوږونو او سترګو مالك څوك دى اوڅوك ژوندى له مړي راوباسي او مړى له ژوندي راوباسي او څوك د كارونو تدبير كوي؟ نو يقينًا دوى به وايي چې الله دى، (نو ته ووايه): ايا نو تاسو نه وېرېږئ!).[يونس سورت: ايت ٣١].

پوښتنې

س۱ هغه کوم شی دی چې کله له عبادت سره ګډ شي، نو فاسدوي يې او عمل بربادوي؟

.....

.....

س۲ د انسان د هلاکت لار څه ده؟

.....

.....

س۳ د الله تعالی له عذاب څخه د خلاصون لار څه ده؟

.....

.....

س۴ پر دې دليل وړاندې کړه چې الله تعالی شرک نه بښي.

.....

.....

س۵ د ربوبیت توحید تعریف کړه؟

.....

.....

س۶ آیا د انسان لپاره د ربوبیت توحید بسنه کوي چې مسلمان شي؟

.....

.....

دریم لوست

دویمه قاعده:

له بتانو څخه د تقرب (الله تعالی ته نږدېوالی) او شفاعت غوښتنه شرک دی.

هغوی وایي: مونږ ندي رابللي او نه مو ورته مخ اړولی مګر د قربت او شفاعت غوښتنې لپاره.



د لوست لاربښوونې:

* الشَّفاعَةُ: د بل چا لپاره واسطه جوړېدل چې ګټه ور ورسوې او یا تري زیان چپ کړې.

د جاهلیت د زمانې ډیر خلک پدې باور وو چې خدایان یې دوی ته د الله تعالی په وړاندې واسطه دي، نو دوی یې له دې امله عبادت کاوه چې د الله پر وړاندې ورته شفاعت وکړي، او دا باطل باور دی؛ ځکه په الله تعالی دروغ تړل دي او نبي پرې هم امر نه دی کړی.

د قربت دليل د الله تعالى دا قول دى:

«وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ».

[الزمر سورت: ايت ٣].[٤]

(او کومو خلکو چې له هغه پرته نور چارواکي نيولي (او وايي چې) موږ خو د دې شيانو عبادت صرف د دې لپاره کوو چې الله ته مو په مرتبه کې ورنږدې کړي. بې شکه الله به د دوی تر منځ په هغه څه کې فيصله کوي چې د دوی په کې اختلاف دی، يقينا الله هغه چا ته هدايت نه کوي چې دروغجن او ناشکره وي).

القربة: مرتبه او منزلت. لِيُقَرِّبونا إلى اللهِ: يعني چې الله تعالى ته مو په مرتبه او منزلت کې نږدې کړي.

د شفاعت دليل د الله تعالى دا قول دى:

«وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللَّهِ»

[يونس سورت: ١٨ آيت].

(او هغوی له الله نه پرته هغه څه عبادت کوي چې نه څه زيان ورسولای شي او نه څه ګټه او دوی وايي چې دا د الله په وړاندې زموږ سپارښتکر دي).

پوښتنې

س۱ داسې به چا ویل چې مورِ خپل اولیاء ندي رابللي او نه مو مخ وراړولی مګر د قربت او شفاعت غوښتنې لپاره؟

.....

.....

س۲ د جاهلیت د زمانې خلکو د خپلو معبودانو په اړه څه عقیده درلوده؟

.....

.....

س۳ آیا د جاهلیت د وخت معبودان دوی ته ګټه رسوي او یا ورته د الله تعالی پر وړاندې شفاعت کوي، او ولې؟

.....

.....

س۴ څوک چې د ځان او الله تعالی تر منځه واسطه ګرځوي، هغه ته څه وایي؟

.....

.....

س۵ پدې څه دلیل دې چې د جاهلیت د وخت خلکو به له خپلو معبودانو د شفارش غوښتنه کوله؟

.....

.....


خلورم لوست

د شفاعت ډولونه

شفاعت په دوه ډوله دی: منفي شفاعت او مثبت شفاعت:

منفي شفاعت

دا دی چې له الله پرته له بل چا یو څه غوښتل، حال دا چې له الله پرته يې بل څوک د ورکولو توان نه لري.



د لوست لاربښوونې:

د الله تعالی په نزد شفاعت باید نېغ په نېغه له هغه وغوښتل شي؛ داسې چې شفاعت غوښتونکی د بېلګې په توګه ووايي: ای الله زما لپاره دې نبي محمد صلی الله علیه وسلم شفاعت کوونکی وګرځوه.

* د الله تعالی پر وړاندې شفاعت له دوو شرطونو پرته نه کېږي:۱- له هغه چا څخه د الله تعالی رضایت چې شفاعت يې کېږي. ۲- شفاعت کوونکي ته د شفاعت کولو اجازه.
* له بتانو او یا د قبرونو له خاوندانو په دعا غوښتلو او یا هغوی ته په مخ کولو سره شفاعت غوښتل باطل عمل او الله تعالی سره شرک دی.
* د شفاعت په قبلیدو کې د الله تعالی لخوا د شفاعت کوونکي عزت او د هغه د فضیلت ښکاره کول دي، او د هغه چا لپاره ګټه ده چې شفاعت يې کېږي.

دليل يې د الله تعالى دا وينا ده:

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ ۗ وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ »[البقرة سورت: ٢٥٤ ايت].

(اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! له هغه (مال) نه څه حصه خرچ كوئ چې مونږ تاسو ته دركړى دى، مخكې له دې چې هغه ورځ راشي چې نه په هغې كې اخيستل خرڅول شته، او نه څه دوستانه، او نه څه سفارش، او همدا كافران ظالمان دي).

او مثبت شفاعت هغه دى چې له الله تعالى څخه غوښتل كيږي.

او شفاعت كوونكى په شفاعت كولو سره عزتمند دى، او چاته چې شفاعت كيږي د الله له اجازې وروسته وي او الله تعالى ته يې وينا او كړنې خوښې وي.

لكه چې الله تعالى فرمايلي:

«مَن ذَا الَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ»[البقرة سورت: ٢٥٥ ايت].

ژباړه: (څوك دى چې د هغه له اجازې پرته د هغه پر وړاندې سپارښتنه وكړي).

پوښتنې

س۱ د شفاعت ډولونه بیان کړه.

.....

.....

س۲ منفي شفاعت تعریف کړه، او دلیل یې ووایه.

.....

.....

س۳ مثبت شفاعت تعریف کړه او دلیل یې ووایه.

.....

.....

س۴ لاندې عبارتونه بشپړ کړه: له دوو شرطونو پرته شفاعت نه کیږي چې هغه:

- ..... ته د الله تعالی اجازه.

له هغه چا څخه د الله تعالی رضایت چې .....

س۵ آیا د قبرونو له خاوندانو (مړو) څخه د شفاعت غوښتل روا دي؟ او ولې؟

.....

.....

پنځم لوست

له الله پرته د بل هر چا عبادت ګمراهي ده.

درپيمه قاعده:

رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې خلکو ته راغی چې ډول ډول عبادتونه يې کول: له دوی څخه چا د پريښتو عبادت کاوه، چا د انبياوو او نيکانو عبادت کاوه، چا د ونو او تيږو عبادت کاوه او چا د لمر او سپوږمۍ.

دليل يې د الله تعالى دا وينا ده:

«وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ»(۳۹)

[الأنفال سورت: ۳۹ ايت]

(او تر هغه ورسره وجنګيږئ، چې هيڅ فتنه پاتې نه شي او ټول دين د الله لپاره شي).

دلته له فتنې څخه مراد:
شرک او کفر دی.



د لوست لارښوونې:

* په کائناتو کې هيڅ داسې معبود نشته چې له الله پرته يې په حقه عبادت وشي، مګر يوازې الله دی.
کفر يو دی او معبودان ډول ډول دي، له دوی څخه: د بتانو عبادت کوونکي، د لمر، سپوږمۍ، ملايکو، پيريانو او داسې نورو شيانو عبادت کوونکي دي چې د دې ټولو معبودانو او يا ځينو معبودانو عبادت کوونکي کافر دي، « او کفر ټول يو ملت دی »، لدې امله رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوی په بلنه او يا يې پر وړاندې جهاد کولو کې توپير ونه کړ.

او د لمر او سپوږمۍ دليل د الله تعالى دا قول دى:

«وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ»[فصلت سورت: ۳۷ آیت].

(او د هغه له نښانو څخه شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ ده، مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ ته، او (یوازې) هغه الله ته سجده وکړئ چې هغه (ټول) يې پيدا کړي دي، که چېرې تاسو يوازې د هغه عبادت کوئ).



او د ملایکو دلیل د الله تعالى دا قول دى:

«وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَن تَتَّخِذُوا الْمَلَائِكَةَ وَالنَّبِيِّينَ أَرْبَابًا»[آل عمران سورت: ۸۰ ایت].

(او نه دا (حق لري) چې تاسو ته حکم درکړي چې ملايکې او نبيان پروردګاران (خدايان) ونيسئ).

پوښتنې

س۱ د اسلام له ظهور څخه مخکې د ځینو عبادتونو نومونه یاد کړئ؟

.....

.....

س۲ لاندې خالي ځایونه بشپړ کړئ:

أ- الله تعالى فرمايلي:لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ .....

ب- الله تعالى فرمايلي:وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَن تَتَّخِذُوا الْمَلَائِكَةَ وَالنَّبِيِّينَ .....

س۳ د هغه چا سزا څه ده چې له الله تعالى پرته د بل چا یو ډول عبادت کوي؟

.....

.....



شپږم لوست

د پیغمبرانو، صالحانو، ونو او تیږو عبادت کول شرک دی

د أنبیاوو دلیل:

د الله تعالی دا قول دی:

«وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ ﷺ قَالَ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ إِن كُنتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ».[المائدة سورت: ۱۱۶ ایت].

(او کله چې الله وفرمایل: ای عیسیٰ د مریمې زویه! ایا تا خلکو ته ویلي و چې له الله نه غیر ما او زما مور دوه معبودان ونیسئ؟ عیسیٰ وویل زه ستا پاکي بیانوم، زما لپاره جایز نه دي چې زه هغه خبره وکړم چې د هغې حق ما ته نشته، که چېرې ما دا خبره کړې وَی، نو یقینًا تا ته به معلومه وَی، ته عالم یې پر هر هغه څه چې زما په نفس کې دي او زه نه پوهیږم پر هغه څه چې ستا په نفس کې دي، بېشکه هم ته پر غیبو ښه عالم یې).

د صالحانو دلیل:

د الله تعالی قول دی:

« أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا » (د الإسراء سورت: ۵۷ ایت).

(دوی چې چا ته بلنه ورکوي هغوی خو په خپله د خپل رب لور ته وسیله لټوي چې کوم یو (هغه ته) ورنږدې دی او د رحمت هیله پې کوي او له عذابه پې ویریږي).

د لوست لارښوونې:

* انبیاء او صالحان نه غواړي چې خلک پې عبادت وکړي بلکې له هغه چا نه ېږاره دي چې عبادت پې کوي.
* هغه کسان چې د عیسی علیه السلام او د هغه د مور عبادت کوي، دا کار پې له ځانه جوړ کړی او الله تعالی یا عیسی علیه السلام ورته په دې امر نه دی کړی.
انبیاء او صالحان الله ته محتاج دي او هغه ته په خپلو نیکو عملونو سره د نږدې والي هڅه کوي، نو څنګه کېدی شي چې له الله پرته د دوی عبادت وشي؟!
* په ونو، ډبرو او د صالحانو پر قبرونو تبرک حاصلول له الله تعالی سره شرک دی.
* کوم برکت چې مشرکان پې په ونو، تیږو او قبرونو کې د شتون عقیده لري، له خیالونو پرته بل هیڅ نه دي او حقیقت نه لري، نو دا یوازې ونې او عادي ډبرې دي، لدې امله الله تعالی فرمایي:ژباړه: (دغه (بوتان) نه دي مګر تش نومونه چې تاسو او ستاسو پلرونو دغه ایښي دي، الله په دغو هیڅ دلیل نه دی نازل کړی).[النجم سورت: ۲۳ ایت].

شپږم لوست

د پیغمبر انو، صالحانو، ونو او تیږو عبادت کول شرک دی

د تیږو او ونو د عبادت دلیل:

د الله تعالی قول دی:

﴿أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّىٰ﴾ (١٩)

(ایا تاسې لات او عزی (بتان) لیدلي) (١٩).

﴿وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَىٰ﴾ (٢٠)

(او بل درېیم منات؟)

[النجم سورت: ١٩-٢٠ ایتونه].

دا له اسلام څخه مخکې د عربو په جزیره کې د مشرکانو د معبودانو نومونه وو، اللات: یو سړی و چې حاجیانو ته به یې حلوا جوړوله، کله چې مړ شو خلکو یې عبادت وکړ، او (العزی) ویل کیږي چې دا د غطفان بوت و، او مناة د دوو دریمی بوت و چې د هذیل او خزاعه قبیلو لپاره و.



او د ابو واقد الليثي رضي الله عنه حديث چې وايي:

«مورِ له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره حنين ته ووتو، په داسې حال کې چې مورِ نوي مسلمانان شوي وو، نو د مشرکانو يوه د بېرې ونه وه چې د هغې سره به راتوليدل او پر هغې به يې خپلې وسلې ځړولې، چې هغې ونې ته (ذاتَ أنواطٍ) ويل کېده؛ نو مورِ د بېرې پر دغې ونې تېرشو او ومو ويل: اې د الله رسوله! زمورِ لپاره هم يوه (ذات أنواط) وټاکه لکه د هغوی لپاره چې (ذاتَ أنواطٍ) ده، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله اکبر، قسم په الله چې دا (پخوانۍ) تګلاره ده، زما دې په هغه ذات قسم وي، لکه څنګه چې بنی اسرائيلو ويلي وو چې: (اجْعَلْ لَنا إِلهاً كَما لَهُمْ آلِهةٌ قال: إِنَّكُم قَوْمٌ تَجْهَلُونَ) لَتَرْكَبُنَّ سَنَنَ مَن كان قَبْلَكُمْ» ([٧]).

يعني: زمورِ لپاره يو معبود وګرځوه لکه د هغوی لپاره چې معبودان دي، نو خامخا به تاسو د پخوانيو لار تعقيبوئ».

ترمذي په خپل سنن، كتاب الفتن، باب: ما جاء لتركبُنَّ سنن مَن كان قبلكم کې په: (٢١٨٠)، (٤/٤٧٥) شمېره روايت کړی او ويلي يې دي چې:" حديث حسن صحيح "، او أحمد (٥/٢١٨) او طبراني په الكبير (١٧/٢١) کې روايت کړی او الفاظ د همده دي.

پوښتنې

س١ ولې ځينو صحابه کرامو له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وغوښتل چې دوی ته (ذات أنواط) وټاکي؟

.....

.....

س٢ آیا رسول الله صلى الله عليه وسلم د مشرکانو په څېر د خپلو اصحابو لپاره د (ذات أنواط) په ټاکلو موافقه وکړه؟

.....

.....

س٣ پدې دلیل ووایه چې د نیکانو عبادت شرک دی؟

.....

.....

س٤ پدې دلیل وړاندې کړه چې د ډبرو عبادت شرک دی.

.....

.....

س٥ پدې دلیل وړاندې کړه چې د انبیاوو عبادت کول شرک دی.

.....

.....

اووم لوست

د دې زمانې د خلکو د شرک سختوالی

څلورمه قاعده:



زمور د وخت مشرکان له پخوانیو ډېر بدتر دي، ځکه پخواني داسې وو چې د پراخې پر مهال يې شرک کاوه، خو چې تنګسه به پرې راغله بیا يې خالص توحید ته مخه کوله، خو زمور د وخت مشرکان په پراخې او تنګستیا دواړو کې تل شرک کوي.

دلیل يې د الله تعالی دا وینا ده:

﴿فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ﴾.

[العنکبوت سورت: ۶۵ ایت]

(نو کله چې دوی په کښتۍ کې سواره شي (، نو) دوی الله بولي، په داسې حال کې چې خاص هغه لره دین خالص کوونکي وي، نو کله چې هغه (الله) دوی ته وچې ته نجات ورکړي (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره) شریکان نیسي).

پای، وصلَّى الله على محمَّد وآله وصحبه وسلَّم [۸].
د څلورګونو قواعدو رساله پای ته ورسیده.

د لوست موخې:

* هغه څه چې د دې معبودانو د عبادت پر فساد دلیل دی دا دی چې څوک د دوی عبادت کوي، نو د سختۍ پر مهال يې پریږدي او یوازې الله ته رجوع کوي.
* هغه څوک چې د سختۍ پر مهال هم په خپلې ګمراهۍ پاتې کیږي د هغه چا په پرتله سخت مشرک دی چې یوازې د راحت پر مهال شرک کوي او په سختۍ کې يې نه کوي.

کوم خلک چې نن سبا د قبرونو عبادت کوي، هغوی يې په سختۍ او راحت دواړو کې کوي چې پدې سره دوی له پخوانیو بدتر مشرکان دي.

پوښتنې

س۱ زمونږ د زمانې او پخوانیو مشرکانو ترمنځ څه توپیر دی؟

.....

.....

س۲ د بت پرستۍ د فساد دلیل څه دی؟

.....

.....

س۳ څه دلیل دی چې مشرکانو به د سختۍ پر مهال شرک نه کاوه؟

.....

.....

س۴ په لنډه توګه څلورګوني قواعد وښیه.

.....

.....

.....



شرک او ډولونه يې

اتم لوست

پوه شه چې د توحيد ضد شرک دی او شرک په درې ډوله دی:

لوی شرک | کوچنی شرک | او پټ شرک

د لوی شرک دليل:

د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِنَّ اللَّه لا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْماً عَظِيماً﴾ [النساء سورت: ٤٨ ايت، او المائدة سورت: ١١٦ ايت].

(بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوک) شريک کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرک) نه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي او څوک چې له الله سره شريک ونيسي، نو يقينًا هغه ډېره لويه ګناه راجوړه کړله).

د لوست لاربښوونې:

* لوی شرک: له الله پرته يو ډول عبادت بل چاته کول لکه: له الله پرته بل څوک رابلل، له الله پرته بل چاته حلاله کول. او دا شرک انسان لره د اسلام له دايرې څخه ويستونکی دی، او که خاوند يې پرته له توبې مړ شو، نو د تل لپاره به په اور کې وي.

*د بلنې شرک: د زيان د مخنيوي او يا د ګټې د لاسته راوړلو لپاره له الله تعالی پرته بل څوک رابلل، کوم (شرک) چې له مشرکانو څخه د راحت پر مهال کيږي.

* د مشرکانو يوه ډله په کښتۍ کې سپره شوه، دوی خپلو خدايانو ته غږونه کول او هغوی يې رابلل، پدې وخت کې بادونه راپورته شول او کښتۍ په لړښدو شوه، نو د کښتۍ خلکو وويل: خاص خپل رب ته بلنه ورکړئ ځکه چې دلته بل هيڅوک نجات نه شي ورکولی، پدې کښتۍ کې داسی يو سړی هم و چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه تښتېدلی و کله چې هغه مکې مکرمې ته (فاتح) ننوت، نو دې سړي وويل: کله يې چې په سمندر کې بل څوک نه شي ژغورلی نو په وچه کې هم له هغه پرته بل څوک نجات نه شي ورکولی.

نو راوګرځيد او اسلام يې راوړ، دا سړی عکرمه بن ابی جهل دی رضي الله عنه دی [١٠].

وګورئ: الإصابة في تمييز الصَّحابة (٤٩٦/٢).

له الله تعالی پرته د بل چا رابلل که په راحت کې وي او يا سختۍ کې، لوی شرک دی.

* د نيت شرک له هغه چا څخه کيږي چې آخرت يې هير کړی وي او هيڅ عمل يې ورته نه وي کړی، بلکې فکر، هڅې او حتی عبادت يې يوازې د دنيا لپاره وي، لکه څوک چې يوازې د غنيمت لپاره جهاد کوي.

* مسلمان بايد خپل نيت، اراده او دعا خاص د الله رب العالمين لپاره کړي؛ هغه ذات چې هيڅ شريک نلري.

او لوی څلور ډوله دی:

لومړی ډول د بلنې شرک.

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ﴾ ٦٥

(نو کله چې دوی په کښتۍ کې سپاره شي (، نو) دوی الله رابلي، په داسې حال کې چې خاص هغه لره دین خالص کوونکي وي، کله چې هغه (الله) دوی ته وچې ته نجات ورکړي (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره) شریکان نیسي).

﴿لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ وَلِيَتَمَتَّعُوا ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ﴾[العنكبوت سورت: ٦٥-٦٦ ایتونه].

د دې لپاره چې دوی په هغو (نعمتونو سره) کفر (ناشکري) وکړي چې مونږ دوی ته ورکړي دي او د دې لپاره چې دوی فایده واخلي، نو ژر به دوی پوه شي).

دويم ډول د نيت شرک، چې اراده او قصد دی

دليل يې د الله تعالى دا قول دی:

﴿مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ- أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيۡسَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُواْ فِيهَا وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾ [هود سورت: ١٥ -١٦ ايتونه].

(څوک چې د دنيا ژوند او د هغې ښکلا غواړي؛ نو په دنيا کې به يې د عملونو بدله بشپړه ورکړو او له هغوی به هيڅ هم نه کميږي.

دا هغه کسان دي چې د دوی لپاره په اخرت کې نشته مګر اور او هغه څه برباد شول چې دوی په دې (دنيا) کې کړي وو او باطل دي هغه عملونه چې دوی به کول).

يُبۡخَسُون: کميږي.

او د الله تعالى دا قول:

﴿ وَقَالَ الْمَسِيحُ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ﴾ [المائدة سورت: ٧٢ ايت].

(او وويل مسيح: اې بني اسرائيلو! د هغه الله عبادت وکړئ چې زما پالونکی او ستاسو پالونکی دی، پرته له شکه څوک چې پر الله شرک وکړي پر هغه الله جنت حرام کړی، او ځای به يې اور وي، او ظالمانو لره هيڅ مرستندوی نشته).

پوښتنې

س۱ د شرک ډولونه وښیه؟

.....

.....

س۲ لوی شرک تعریف کړه؟

.....

.....

س۳ د بلنې د شرک معنا تشریح کړه؟

.....

.....

س۴ د لاندې پوښتنو لپاره صحیح ځواب وټاکه:الله تعالی فرمایلي:
(دوی چې کله په بېړیو کې سپاره شي نو په داسې توګه الله رابولي
چې عقیده یې یوازې هغه لره سوچه کړې وي، خو کله چې وچې ته نجات ورکړي،
یو دم ورسره شرک بنا کړي).

- له دوی څخه مراد:

أ - مشرکان دي | ب: منافقان دي | ج: مسلمانان دي

پوښتنې

س۵ د لوی شرک لپاره مثال ووایه؟

.....

.....

س۵ د نیت د شرک دلیل ووایئ؟

.....

.....



په اطاعت او محبت کې شرک

دريم ډول: د اطاعت شرک

دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

﴿اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَٰهًا وَاحِدًا ۖ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾[١١] [التوبة سورت: ٣١ ايت].

(دوی خپل عالمان او خپل عابدان له الله نه غیر خدایان نیولي دي او د مریمې زوی مسیح (یې هم)، حال داچې دوی ته حکم نه و شوی مګر د دې چې دوی دې د یو حق معبود عبادت کوي چې نشته هیڅ حق معبود مګر همدی دی، هغه پاك دی له هغه څه نه چې دوی یې (ورسره) شریکوي).

د لوست لاربښوونې:

* له عدي بن حاتم - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په داسې حال کې راغلم چې په غاړه کې مې د سرو زرو صلیب و نو هغه راته وفرمایل:«ای عدی دا بُت دې له غاړې لرې کړه» نو لرې مې کړ او هغه ته په داسې حال کې ورغلم چې د براءت سورت تلاوت یې کاوه، نو دا آیت یې ولوست: { اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ } یعنې: دوی خپل عالمان او خپل عابدان له الله نه غیر خدایان نیولي دي، تر دې چې ترې فارغ شو، نو ما ورته وویل: مورږ یې عبادت نه کوو. هغه وفرمایل: « أليس يحرّمون ما أحلَّ الله فتُحَرّمونَه، ويحلُّون ما حَرَّمَ اللهُ فتَسْتَحِلُّونَه ». قلت: بلى. قال:« فتِلْكَ عِبادَتهم »[١٣]. «آیا هغوی هغه څه نه حراموي چې الله حلال کړي دي؛ نو تاسو یې حرام ګرځوئ او هغه څه حلالوي چې الله حرام کړي دي؛ نو تاسو یې حلال ګرځوئ. ما ورته وویل: هو همداسې ده». هغه وفرمایل: «فتِلْكَ عِبادَتهم» یعنې: همدا یې عبادت دی.

ترمذي په کتاب تفسیر القرآن باب: « ومن سورة التوبة »، کې په [٣٠٩٥] شمیره روایت کړی، او طبراني في المعجم الكبير کې روایت کړی او دا الفاظ د همده دي [٩٢/١]، شمیره: [٢١٨]، شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله ویلي: «وهو حَدِيث حَسَن» یعنې حسن حدیث دی. لکه څنګه چې په مجموع الفتاوى کې راغلي: كتاب الإيمان [٦٧/٧].

نو رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګنده کړه چې دا شرک چې دوی پکې اخته شوي دا دی چې دوی ورته په نافرمانۍ امر کړی و، نو نافرماني یې وکړه، او له اطاعت څخه یې منع کړي وو، نو پیروي یې پرېښوده.

* چا چې د حلالو په حرامولو او د حرامو په حلالولو کې له الله تعالى پرته د بل چا پیروي وکړه او باور یې دا و چې د دې حق لري؛ نو دا سړی په لوی شرک سره مشرک دی.

له الله تعالى پرته د بل چاسره مینه؛ داسې لکه مشرکان یې چې د خپلو خدایانو او او معبودانو سره لري له: ونې، تیږې، پرېښتې او داسې نورو، او همدا د شرک اصل او بنسټ دی.

محبت د عبادت اصل دی، لدې امله پر مسلمان واجب دي چې له الله تعالى نه زیات د هیڅ شي سره محبت ونه وکړي، او نه د هغه د محبت په څېر، کنه نو په شرک کې به واقع شي.

په اطاعت او محبت کې شرک

الأحبارُ: د يهودو عالمان دي. الرُّهبان د نصاراوو عبادت کوونکي دي.

اوهغه تفسيريې چې هيڅ ستونزه پکې نشته:

د الله تعالى په نافرمانۍ کې د عالمانو او عابدانو اطاعت، نه د هغوی بلنه هغوی لره، لکه څنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم عدي بن حاتم رضي الله عنه ته تشريح کړه، کله چې ترې هغه پوښتنه وکړه نو هغه وويل: مورږ يې عبادت نه کوو. نو هغه ورته يادونه وکړه چې عبادت يې په ګناه کې پيروي ده.

څلورم ډول: په محبت کې

دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

(وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ ۖ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ۗ وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُوا إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ أَنَّ الْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ) [١٢]

[البقرة سورت: ١٦٥ ايت].

(او په خلکو کې ځينې هغه څوك دي چې له الله نه غير شريكان نيسي، له هغوی سره مينه کوي له الله سره د ميني په شان، او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی؛ له الله سره په مينه کې ډير سخت (او کلك) دي، او که چېرته هغه کسان چې ظلم يې کړی دی؛ دا ووينې، کله چې دوی عذاب وينې، چې يقينًا قوت ټول خاص د الله لپاره دی او دا چې يقينًا الله ډير سخت عذاب ورکوونکی دی).

أنداداً: د هغه په څېر، د هغه سره سيالان اوهغه ته ورته.



پوښتنې

س۱ د اطاعت له شرک څخه څه مراد دي؟ سره له دليل؟

.....

.....

س۲ د محبت له شرک څخه څه مراد دي؟ سره له دليل؟

.....

.....

س۳ هغه کومه ډله ده چې عيسى مسيح زوى د مريم عليهما السلام عبادت کوي؟ او د هغوى د دې عبادت حکم څه دى؟

.....

.....

س۴ د هغه چا حکم څه دى چې له الله تعالى پرته د حلالو په حرامولو او د حرامو په حلالولو کې پيروي کوي؟

.....

.....



لسم لوست

کوچنی شرک اوپټ (خفي) شرک

دویم ډول کوچنی شرک چې هغه ځان ښودنه (ریاء) ده.



د لوست لاربښوونې:

* توحید: په عبادت سره الله یو ګڼلو (ته وایي) او شرک: له الله تعالی سره د هغه په حق کې یو څوک شریکول لکه: د هغه په تعظیم او یا د هغه په عبادت کې.
* دا وینا چې "هر څه چې الله وغواړي او ته یې وغواړې" او "که الله او فلانی نه وای" شرک دی. ځکه پدې کې د الله او د هغه د مخلوق ترمنځ مساوات دی، چې الله تعالی ترې ډیر لوړ دی.
* پر مسلمان واجب دي چې داسې ووایي: «هغه څه چې الله یې وغواړي، او بیا یې ته وغواړې» او: «که الله او بیا فلانی نه وای نو...» (یعنې که د الله او بیا د فلاني مرسته نه وای نو...) او که ژبه یې خطا شي نو په کار ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په ثابت شوې دعاء سره بښنه وغواړي.

کوچنی شرک: له ټولو هغو ویناوو او کړنو څخه عبارت دی چې انسان پرې شرک ته رسیږي لکه: له الله تعالی پرته په بل چا قسم خوړل، لږه ریا او داسې نور.

* کوچنی شرک لویه ګناه ده، خو کوونکی یې د اسلام له دایرې نه وځي.

کوچنی شرک اوپټ (خفي) شرک

دلیل پي د الله تعالی دا قول دی:

﴿ فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴾
[الکهف سورت: ۱۱۰ آیت].

(نو هغه څوک چې د خپل رب د ملاقات هیله لري، هغه دې نیک عمل وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې هیڅوک نه شریکوي).

دریم ډول

پټ یا خفي شرک

دلیل پي د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول دی:

« الشركُ في هذه الأمة أخفَى من دَبيبِ النملِ على الصَفاة السَودَاءِ في ظُلمَةِ اللَّيل » [١٤]

پدې امت کې شرک له هغه میږي نه هم زیات خفي دی چې په توره شپه کې په توره تیږه وي.

کوچنی شرک اوپټ (خفي) شرک

دليل پي د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دى:

« اللَّهمّ إني أعوذ بك أن أُشْرِكَ بك شيئاً وأنا أعلمُ، وأستَغْفِرك مِن الذَّنْبِ الذي لا أعلم » [١٦].

ابن عباس رضي الله عنه دا شرک د هغه چا په وينا تفسير کړی چې وايي: «ما شاءَ اللّٰهُ وفلان» [١٥]. «يعني هغه څه چې الله پي وغواړي او فلانی پي وغواړي».

إمام أحمد له أبو موسى رضي الله عنه څخه پدې الفاظو روايت کړی: «أيُّها النّاس اتَّقوا هذا الشِّرْكَ فإنَّه أخفى مِن دَبِيبِ النَّمل» (٤٠٣/٤)، (يعني ای خلکو: لدې شرک څخه ځان وساتئ، يقينا چې دا د مېږي له حرکت نه هم زيات پټ دی). دا حديث چې دی نو پر ابن عباس رضي الله عنه موقوف دی.
ابن ابی حاتم روايت کړی دی.

د دې شرک کفاره د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا ده چې فرمايي:

ژباړه: «يا الله زه تا ته پناه دروړم له دې چې تاسره څه شی شريک کړم، پداسې حال کې چې زه پوهيږم، او زه له تا څخه د هغې ګناه بخښنه غواړم چې زه نه پوهيږم».

إمام أحمد د أبو موسى رضي الله عنه څخه پدې الفاظو روايت کړی:« اللَّهم إنّا نعوذ بِك مِن أن نُشْرِكَ بِك شَيْئاً نَعْلَمُه، ونَسْتَغْفِرك لِما لا نَعْلَمُه» «ای الله موږ پر تا لدې پنا غواړو چې له تا سره څه شی شريک کړو، په داسې حال کې موږ پي پيژنو، او د هغه څه درڅخه بښنه غواړو چې موږ پرې نه پوهيږو».(٤٠٣/٤).



پوښتنې

س١ د خفي يا پټ شرک لپاره مثال وړاندې کړه، او کفاره يې وښيه؟

.....

.....

س٢ د سړي کومه وينا سمه ده: « هغه څه چې الله وغواړي او ته يې وغواړې»، أو که: «هغه څه چې الله يې وغواړي او بيا يې ته وغواړې»؟، علت يې تشريح کړه.

.....

.....

س٣ د لوی او کوچني شرک تر منځ توپير څه شی دی؟

.....

.....

س٤ په کوچني شرک دليل ووايه؟

.....

.....

.....

.....

یوولسم لوست

کفر او ډولونه يې

کفر په دوه ډوله دی: لوی کفر او کوچنی کفر.

لوی کفر دا دی چې: خاوند يې له اسلام څخه وځي او پنځه ډولونه لري:

لومړی ډول د دروغ ګڼلو کفر



د لوست لاربښوونې:

* کفر د ایمان ضد دی، چې په الله تعالی او د هغه پر رسولانو د ایمان نه راوړل دي، برابره خبره ده که له هغه سره انکار وي او که نه؛ بلکي شک، مخ اړول، حسد، غرور او یا د ځینو خواهشاتو پیروي کول دي چې د رسالت د پیروۍ مخه نیسي.
* لوی کفر انسان د اسلام له دایرې څخه وباسي.

د تکذیب (دروغ ګڼلو) کفر په څو شیانو واقع کیږي لکه: ۱- د الله تعالی له وحدانیت څخه انکار کول. ۲ - د رسول الله صلی الله علیه وسلم رسالت دروغ ګڼل.

۳ - قرآن دروغ ګڼل او د الله تعالی د شریعت نه منل.

* که یو څوک د محمد صلی الله علیه وسلم په رښتینولۍ پوه شي، خو په رسالت يې له ایمان راوړلو انکار وکړي هغه کافر دی، لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره ابو طالب په څېر چې هغه وویل:او یقینا پدې پوه شوی یم چې د محمد دین * * د بشریت له غوره دینونو څخه دی.

خو هغه د بتانو په عبادت کې کافر مړ شو، همدا رنګه که څوک د الله تعالی د اطاعت پر وړاندې لویي وکړي نو هغه هم کافر دی، لکه د ابلیس په څېر.

* پر مسلمان واجب دي چې له شکونو او فاسدو افکارو نه ځان وساتي، ځکه چې هغه يې ایمان فاسدوي، او په زړه کې يې شکونه او وسوسې پیدا کوي.

کفر او ډولونه يې

دليل يې د الله تعالى دا وينا ده:

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَافِرِينَ﴾[العنكبوت سورت: ٦٨ ايت].

(او له هغه کس نه لوی ظالم څوک دی چې په الله باندې دروغ تړي، يا د حق تکذيب کوي، کله چې ده ته دغه (حق) راشي، ايا په جهنّم کې د کافرانو لپاره د اوسېدوځای نشته؟)

دويم ډول

له باور کولو سره د انکار، او لويې کفر

دليل يې د الله تعالى دا وينا ده:

﴿إِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ﴾[البقرة سورت: ٣٤ ايت].

(او کله چه مونږ ملايکو ته وويل: ادم ته سجده وکړئ، نو هغوی سجده وکړه خو ابليس نه، هغه انکار وکړ او تکبر يې وکړ، او هغه و له کافرانو نه)

کفر او ډولونه يې

دريم ډول

د شک کفر، چې هغه د ګمان کفر دی

دليل يې د الله تعالى دا وينا ده:

﴿وَدَخَلَ جَنَّتَهُ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ قَالَ مَا أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِ أَبَدًا﴾ (٣٥)

(او دی خپل باغ ته داخل شو، په داسې حال کې چې پر خپل ځان ظلم کوونکی و، ويې ويل: زه ګمان نه کوم چې دا (باغ) به کله هم هلاک (او خراب) شي).

دليل يې د الله تعالى دا وينا ده:

﴿وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنقَلَبًا﴾ (٣٦)

او زه ګمان نه کوم چې قيامت قايمېدونکی دی او قسم دی که (بالفرض) زه خپل رب ته بوتلی شوم، نو خامخا هرومرو به زه له دې (باغ) نه غوره د بېرته ورتلو ځای وومومم.

دليل يې د الله تعالى دا وينا ده:

﴿قَالَ لَهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَكَفَرْتَ بِالَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّاكَ رَجُلًا﴾

ده ته خپل (مومن) ملګري وويل، په داسې حال کې چې ده ته يې جواب ورکاوه: ايا ته په هغه ذات سره کفر کوې چې ته يې له خاورو پيدا کړې، بيا يې له نطفې نه، بيا يې ته سړی برابر کړې.

﴿لَّٰكِنَّا هُوَ اللَّهُ رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِرَبِّي أَحَدًا﴾[الكهف سورت:٣٥-٣٨ ايتونه].

لېکن زه چې يم (زه وايم چې) شان دا دی چې همدا الله زما رب دی، او زه له خپل رب سره هيڅوک نه شريکوم).

پوښتنې

س۱ کفر په څو ډوله دی؟

.....

.....

س۲ د دروغ ګڼلو د کفر لامل څه شی دی؟

.....

.....

س۳ د لوی کفر درې ډولونه له دلیل سره ووایه.

.....

.....

س۴ په آیت کریمه کې د هغې کلمې لاندې کرښه کش کړئ چې پر یو ډول کفر دلالت کوي:

الله تعالی فرمایلي: (او له هغه کس نه لوی ظالم څوك دی چې په الله باندې دروغ تړي، یا د حق تکذیب کوي، کله چې ده ته دغه (حق) راشي).[العنکبوت سورت: ٦٨ ایت].

دولسم لوست

د لوی کفرپاتې ډولونه

څلورم ډول

د مخ اړولو کفر.

دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا عَمَّا أُنذِرُوا مُعْرِضُونَ﴾[الأحقاف سورت: ۳ آيت].

(او هغه کسان چې کافران شوي له هغه (قرآن) نه چې دوی پرې وړولی شي، مخ ګرځوونکي دي).

د لوست لاربښوونې:

* له کفر څخه د مخ اړولو معنا دا ده چې د اسلام له دين څخه په نه زده کولو، او عمل نه کولو سره مخ واړوي.

*رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل شاوخوا قريش راغونډ کړل او توحيد ته يې بلنه ورکړه، نو ابولهب وويل: تبا شې، آيا د دې لپاره دې مونږ راغونډ کړو؟ او هغه څه يې ورسره ونه منل چې راوړي يې و([۱۸]) نو د ابولهب دغه دريځ ته: له حق څخه مخ اړول وايي: او دا د کفر يو ډول دى.

وګورئ: صحيح البخاري، په کتاب التفسير، باب: سورة « تبَّت يدا أبي لهب » کې، شمېره (٤٩٧١).

* پر مسلمان واجب دي چې کله يو څوک حق ته بلنه ورکړي چې بلنه يې ومني، او تکبر يې په ګناه کولو سره ونه نيسي، چې ځان به بدبخته کړي، الله پاک فرمايلي:ژباړه: (نو ته نصيحت (پند) کوه که نصيحت کول نفع رسوي (يا بېشکه نصيحت کول نفع رسوي).

ژر ده چې هغه څوك به پند واخلي چې وېرېږي.

او له دغه (نصيحت) نه به تر ټولو بدبخته ډډه کوي.

هغه چې تر ټولو لوى اور ته به ننوځي).[الأعلى سورت:۹ -۱۲ ايتونه]

* نفاق: اسلام ښکاره کول او د کفر پټول دي، لکه: کله چې انسان په ژبه اسلام ښکاره کوي او له خلکو سره لمونځ کوي، خو زړه يې په الله ايمان نه لري، او د هغه له شريعت څخه کرکه کوي، نو نه د هغه لمونځ او نه هم د هغه مسلماني اعلانول ورته ګټه رسوي او دا د (نفاق کفر) دى.

د لوی کفرپاتې ډولونه

پنځم ډول د نفاق کفر.


دلیل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ﴾ (٣)

[المنافقون سورت: ۳ ایت].

(دا ځکه چې یقینًا دوی ایمان راوړ، بیا کافران شول، نو د دوی په زړونو باندې مهر ولګول شو، پس (اوس نو) دوی نه پوهیږي).

طُبِعَ: یعنې په زړونو یې مهر لګول شوی او د دوی د کفر او په دین د ملنډو له امله یې زړونه له حق منلو څخه پټ شوي دي.



پوښتنې

س١ د مخ اړولو د کفر (كفر الإعراض) معنی بیان کړئ او دلایل یې ووایه؟

.....

.....

س٢ نفاق له مثال بیانولو سره تعریف کړه.

.....

.....

س٣ د ابولهب کفر کوم ډول کفر و، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم قریش توحید ته راوبلل؟

.....

.....

س٤ مسلمان ته څه کول په کار دي کله چې څوک حق ته بلنه ورکړي؟

.....

.....

پوښتنې

س ۶ يو سړی چې په ژبه اسلام بيانوي خو زړه يې په الله تعالی ايمان نه لري څه ورته وايي؟

.....

.....

س ۷ د نفاق د کفر دليل ووايه؟

.....

.....



دیارلسم لوست

کوچنی کفر

کوچنی کفرهغه کفردی چې انسان پرې له اسلام څخه نه وځي، اوهغه له نعمتونود انکارکفردی.

دلیل پې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ﴾

[النحل سورت: ۱۱۲ ایت].

(او الله د یو کلي مثال بیانوي چې د امن والا (او) اطمینان والا و، دغه (کلي) ته به د هغه رزق له هره ځایه پربمانه راته، نو دغه کلي د الله د نعمتونو ناشکري وکړه، نو الله په دغه کلي باندې د لوږې او وېرې لباس وڅکاوه (لوږه او وېره یې پرې راوستله) په سبب د هغو عملونو چې دوی به کول).

او د الله تعالی دا وینا:

﴿إِنَّ الْإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ﴾ [إبراهیم سورت: ٣٤ ایت].

(بېشکه انسان خامخا ډېر ظلم کوونکی، ډېر ناشکره دی)

د لوست لاربښوونې:

* کوچنی کفر: هغه ګناهونه دي چې په قرآن او سنت کې ورته کفر ویل شوی دی خو د تر تولو لوی کفر حد ته نه دي رسیدلي لکه: د نعمت ناشکري او له الله تعالی پرته پر بل څه قسم خوړل.
* د نعمت ناشکري لویه ګناه ده، او د انسان د ایمان په کموالي دلیل دی، خو خاوند یې د اسلام له دایرې څخه نه وځي.

پوښتنې

س۱ کوچنی کفر تعریف کړه؟

.....

.....

س۲ آیا تر ټولو کوچنی کفر انسان د اسلام له دایرې څخه باسي؟

.....

.....

س۳ چا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیغمبري دروغ وګڼله، نو آیا تر ټولو لوی کفر یې کړی که تر ټولو کوچنی کفر؟

.....

.....



ثوارلسم لوست

نفاق او ډولونه يې

نفاق په دوه ډوله دی: اعتقادي نفاق او عملي نفاق:

لومړی

اعتقادي نفاق په شپږ ډوله دی:

۱ د رسول الله صلی الله علیه وسلم تکذیب (هغه دروغ ګڼل او انکار ترې کول).
۲ ځینې هغه څه دروغ ګڼل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې راتګ کړی دی.
۳ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره کینه ساتل.
۴ ځینې هغه څه بد ګڼل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې راتګ کړی.
۵ پدې خوشحالیدل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دین کمزوری شي.
۶ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دین له بري څخه نفرت کول.

دا شپږ د نفاق هغه ډولونه دي چې خاوند به یې د دوزخ په تر ټولو ټیټې طبقې کې وي - مورږ له تفرقې او نفاق څخه پر الله جل جلاله پنا غواړو.

د لوست موخې:

* نفاق، کفر او مؤمنانو ته فریب ورکول سره یو ځای کوي، لدې امله یې الله تعالی خاوندانو ته سخته سزا ټاکلې ده، الله پاک فرمایلي:
(بېشکه منافقان د اور تر ټولو لاندینۍ طبقه کې دي او ته به کله هم د هغوی لپاره څوك مدد کوونکی ونه مومې).[النساء سورت: ۱٤٥ آیت].

نفاق او ډولونه يې

دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دى:


"منافق درې نخښې لري: کله چې خبرې کوي دروغ وايي، کله چې وعده وکړي؛ وفا پرې نه کوي، او کله چې امانت وروسپارل شي خيانت کوي".

بخاري په کتاب الإيمان، باب: علامات المنافِق کې د أبو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه په: (۳۳) شمیره روایت کړی دی.

او په يو بل حديث کې راځي:

«کله چې شخړه وکړي بدرد وايي، او کله چې ترون وکړي خيانت کوي».بخاري په: کتاب الإيمان، باب: علامَة المنافق کې د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه له حديث څخه او مسلم په: کتاب الإيمان، باب: بيان خصال المنافق، کې روايت کړی دی. فَجَر: ژبه يې په پوچو او بدو الفاظو پرانيسته پرته لدې چې پروا يې ولري.

او الله پاک ډير ښه پوهيږي، وصلَّى الله على سيِّدنا محمَّد وعلى آله وصحبِه وسلَّم تسلِيماً كثيراً.



پوښتنې

س١ ولې الله تعالى منافقان په سختې سزا سره ځانګړې کړې دي؟

.....

.....

س٢ د اعتقادي نفاق ډولونه وښیه.

.....

.....

س٣ له قرآن څخه داسې دلیل وړاندې کړه چې د منافقانو برخلیک بیانوي.

.....

.....

س٤ د منافقت ځینې ډولونه وښیه؟

.....

.....

س٥ له حدیث شریف څخه د نفاق نښې بیان کړه؟

.....

.....

س٥ د اعتقادي نفاق او عملي نفاق تر منځ توپیر په ګوته کړه؟

.....

.....

د اسلام ماتوونکي (نو اقض)

پوه شه[۲۱] چې د اسلام ماتوونکي لس شیان دي:

لومړی د الله تعالی سره په عبادت کې شرک کول.

الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ اللَّه لا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْماً عَظِيماً﴾ [النساء سورت: ٤٨ آیت].

(بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوك) شریك کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرك) نه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي او څوك چې له الله سره شریك ونیسي، نو یقینًا هغه ډېره لویه ګناه راجوړه کړله).

د لوست لاربښوونې:

د اسلام نواقض (ماتوونکي) هغه کارونه دي چې څوک یې وکړي اسلام یې باطلیږي، کافر کیږي او له اسلام څخه وځي، والعیاذ بالله.

* شرک: د الله تعالی سره د هغه په چارو کې د نورو برابرول دي چې یوازې د هغه له ځانګړتیاوو څخه وي، شرک تر ټولو لویه ګناه ده چې د الله تعالی نافرماني پرې کیږي، ربوبیت پرې له منځه ځي، او الوهیت پکې نېمګړی کیږي لکه: یو څوک چې د الله تعالی سره د بل چا عبادت وکړي لکه: عیسی علیه السلام، یا یوه ملایکه، یا دا چې د بل چا یو ډول عبادت وکړي لکه څوک چې پیریانو او یا قبر ته قرباني کوي او یا له الله تعالی پرته بل چاته نذر وړاندې کوي.
* د دویم ماتوونکي بېلګه: له مړو دعا او مرسته غوښتل، له هغوی د شفاعت سوال کول چې د بنده او الله تعالی تر منځه واسطه شي، دا هغه ماتوونکی دی چې ډېر پېښیږي او انسان ته یې خطر زیات دی، ولا حول ولا قُوَّةَ إِلّا بِالله.
* څوک چې مشرکانو ته کافر نه وایي، یا یې په کفر کې شک کوي او یا یې عقیده صحیح ګڼي نو کافر دی؛ ځکه چې قرآن او سنت لره دروغ ګڼونکی دی.
* له نواقضو څخه یو دا هم دی چې یو څوک هغه کفري مذهبونه صحیح وبلي چې د اسلام خلاف دي؛ ځکه د دې معنا دا ده چې اسلام باطل دی، نو پدې سره کافر کیږي.

د اسلام ماتوونکي (نو اقض)

او الله تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ﴾

[المائدة سورت: ۷۲ ایت].

(بېشکه خبره دا ده چې څوک له الله سره شریک نیسي، نو یقینا په هغه باندې الله جنت حرام کړی او د هغه استوګنه اور دی او د ظالمانو لپاره هیڅوک مرستندوی نشته).

او له الله پرته بل چاته قرباني کول، لکه څوک چې پیریانو او یا قبر ته قرباني کوي.

دویم

څوک چې د ځان او الله تعالى تر منځ واسطې ګرځوي، سوال ترې کوي د شفاعت غوښتنه ترې کوي او توکل پرې کوي نو په اجماع سره کافر دی.

د اسلام ماتوونکي (نو اقض)

دريم

خوک چې مشرکانو ته کافر نه وايي، يا د هغوی په کفر کې شک کوي، يا د هغوی عقيده صحيح ګڼي نو کفر يې کړی دی.



پوښتنې

س۱ د اسلام نواقض څو دی؟ او معنا يې څه ده؟

. . . . . .

. . . . . .

س۲ آیا الله تعالی هغه چاته ښښنه کوي چې مشرک مړ شي؟، دلیل يې څه دی؟

. . . . . .

. . . . . .



شپاړسم لوست

د اسلام له نو اقضو څخه

څلورم

دا چې څوک باور ولري چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له لارښوونې پرته د نورو لارښوونه بشپړه ده، يا د بل پريکړه د هغه له پريکړې غوره ده، لکه څوک چې د طاغوتانو پريکړه د هغه پر پريکړې غوره ګڼي، نو هغه انسان کافر دی.

پنځم

څوک چې يو شی بد وګڼي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې راتګ کړی، او که چيرته يې عمل پرې وکړ کافر شو.

دليل پې د الله تعالى دا قول دی:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ﴾ [محمد سورت: ۹ آيت].

(دا ځکه چې يقينا دوی هغه (قرآن) بد ګڼلی چې الله نازل کړی دی، نو هغه (الله) د دوی عملونه برباد کړل)

د لوست لارښوونې:

* څوک چې په دې باور وي چې د انسانانو له خوا وضع شوي قوانين او نظريات له هغه څخه ښه او غوره دي چې د الله تعالى او د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم له خوا راغلي دي، کافر ګڼل کيږي. ځکه چې هغه په (لا اله الا الله) د شاهدۍ غوښتنه پر ځای نه کړه؛ بلکې داسې څه يې وکړل چې هغه ماتوي، ولا حول ولا قوة إلا بالله.
* د پنځم ماتوونکي مثال: چې د لمانځه فرضيت بد وګڼي اګر که لمونځ هم کوي، يا دا چې د شرابو حرامېدل بد وګڼي اګر که پرېښي يې وي، يا دا چې له هغو ويناوو او کړنو څخه يو شی بد وګڼي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې راتګ کړی دی.
* د شپږم ماتوونکي له مثالونو څخه: په قرآن کريم، رسول او يا د اسلام په ځينو شعائرو ملنډې وهل لکه: لمونځ، امر بالمعروف او نهی عن المنکر، يا پر هغه چا د سود د پرېښودو له امله ملنډې وهل چې سود يې پرېښی وي او داسې نور، پدې کې د هغه چا تر منځ توپير نه شته چې توکې کوي او يا په ريښتيا وي.
* جادوګران کافر دي؛ ځکه چې هغوی دا کار د شيطانانو په مرسته کوي، وروسته له دې چې په کفر کولو ورته ځان نږدې کړي، لدې امله هغوی ته ورتلل، له هغوی سوال کول او يا پرې درملنه کول حرام دي.

د اسلام له نو اقضو څخه

شپږم

چا چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دين په کوم شي ملنډې ووهلې، يا د الله په ثواب او يا سزا نو هغه کافر دی.

دليل پې د الله تعالى قول دی:

﴿قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ﴾ (٦٥)

(ته (ورته) ووايه: آيا تاسو په الله او د هغه په آيتونو او د هغه په رسول پورې استهزا او مسخرې کولې

﴿لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ﴾

[التوبة سورت: ٦٥-٦٦ ايتونه].

(عذر مه کوئ، تاسو له ايمان وروسته کفر کړی دی).



د اسلام له نو اقضو څخه

اووم

سحر - او له هغه څخه: صرف او عطف دي: نو چا چې وکړ او یا پرې راضي شو، نو کفر یې کړی دی.

صرف: د دې لامل ګرځیدل چې یو څوک د خپر له کار څخه منع شي، او یا له ښځې زړه توری شي، او عطف: د دې لامل ګرځیدل چې ښځه او یا خاوند یو بل ته د سحر له لارې ګران شي.

دلیل پې د الله تعالی قول دی:

﴿وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ﴾

[البقرة سورت: ۱۰۲ ایت].

(او دغو دواړو به هیچا ته ښودنه نه کوله، مګر دا چې ویل به یې: اصل خبره دا ده چې مونږ یَو ازمېښت یو، نو ته مه کافر کېږه)،

پوښتنې

س۱ د هغه چا حکم څه دی چې باور لري نظر يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لارښوونې ډير کامل دی؟

.....

.....

س۲ د هغه چا حکم څه دی چې د طاغوت پريکړه د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم پر پريکړه غوره وګڼي؟

.....

.....

س۳ د هغه چا حکم څه دی چې د دين په يوه چاره ملنډې ووهي، که څه هم د ټوکې په بڼه وي؟ سره له دليل؟

.....

.....

س۴ سحر ولې کفر دی؟

.....

.....

س۵ که په يوه ناروغۍ اخته شې، نو آيا درته روا دي چې په جادوګر درملنه وکړې؟ او ولې؟

.....

.....

د اسلام نورپاتې نو اقض

اتم د مشرکانو ملاتړ او د مسلمانانو پر ضد يې مرسته کول.



د لوست لارښوونې:

*د اتم باطلوونکي له مثالونو څخه: د کفارو سره مينه او د هغوی ملاتړ کول او د مسلمانانو په مقابل کې د هغوی سره مرسته کول، او څوک چې دا کار وکړي د دوی په څير به د الله او د هغه د دين دښمن وي، مګر دا چې څوک دا کار په ناپوهۍ سره کوي او يا جبر سره کوي، الله تعالى فرمايي:(ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو يهوديان او نصرانيان په دوستۍ مه نيسئ، دوی ځينې د ځينو نورو دوستان دي او په تاسو کې چې چا له دوی سره دوستي وکړه، نو يقيناً هغه له همدوی څخه دی، بېشکه الله ظالم قوم ته نېغه لار نه ښيي).[المائدة سورت: ۵۱ ايت].

د نهم ماتوونکي مثال: په دې باور وي چې د هغه لپاره د ځينو شرعي واجباتو پرېښودل روا دي لکه لمونځ او يا ځينې حرام کارونه ورته روا دي لکه شراب څښل.

* د لسم ماتوونکي څخه مراد: د دين د اساس له زده کړې بشپړ وتل دي چې يو سړی پرې مسلمان کيږي.

* مسلمان بايد له دې نواقضو (اسلام ماتوونکو) ځان وساتي او خلک يې په اړه خبر کړي، چې شيطان يې دوکه نه کړي او د ځينو نواقضو مرتکب نه شي؛ ځکه کيدی شي دوی د ځينو مرتکب شي پرته له دې چې په ځان پوه وي، لکه څنګه چې ډيری د اسلام دعوه لرونکي ليدل کيږي، ولا حول ولا قُوَّةَ إلّا بالله.

د اسلام نورپاتې نو اقض

دليل پې د الله تعالى قول دى:

﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾

[المائدة سورت: ٥١ ايت].

(او په تاسو کې چې چا له دوی سره دوستي وکړه، نو يقينًا هغه له همدوی څخه دی، بېشکه الله ظالم قوم ته نېغه لار نه ښيي).

نهم

څوک چې په دې باور وي چې ځينې خلک کولی شي د محمد صلى الله عليه وسلم له شريعت څخه ووځي، هغه کافر دی.

لسم

د الله تعالى له دين څخه مخ اړول چې نه يې زده کوي او نه پرې عمل کوي.

او دليل يې د الله تعالى قول دى:

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا ۚ إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ﴾

[السجدة سورت: ٢٢ ايت].

(او څوك دی لوی ظالم له هغه چا نه چې هغه ته د خپل رب په ايتونو سره پند ورکړی شي، بيا هغه له دغو (ايتونو) نه مخ وګرځوي، بېشکه مونږ له مجرمانو نه انتقام اخيستونکي يو).

په دې ټولو نواقضو کې د ټوکې کوونکي، جدي او ډارن کس تر منځ هېڅ توپير نشته، پرته له هغه چا چې مجبور وي [٢٣].

دلته له مکره څخه مراد: هغه څوک دی چې د کافرانو لاس ته ولويږي، هغوی يې د کفر کلمې په ويلو مجبور کړي نو ويې وايي، خو زړه يې په ايمان ډاډه وي

دليل د الله تعالى دا قول دى چې فرمايي:

﴿مَن كَفَرَ بِاللَّهِ مِن بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ [النحل:١٠٦]

(څوک چې وروسته له ايمان څخه په الله کافر شي، مګر هغه څوک چې مجبور شي خو زړه يې په ايمان ډاډه او مطمئن وي، او لېکن هغه څوک چې په کفر سره خپله سينه فراخه کړي (له زړه نه پرې راضي شي)، نو په دغو خلکو د الله له جانبه غضب دی او د دوی لپاره ډېر لوی عذاب دی).

دا ټولې له لويو خطرناکو او ډېرو واقع کېدونکو پېښو څخه دي، نو مسلمان ترې بايد په ويره کې وي او ځان ترې وساتي.

مورږ د الله جل جلاله د غضب د اسبابو او دردناک عذاب څخه پناه غواړو.

وصَلَّى اللهُ على خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ، وعلى آلِهِ وصَحْبِهِ وسلَّم .

" نواقض الإسلام " رساله پای ته ورسيده.

پوښتنې

س١ د سم ځواب لاندې کرښه کش کړئ.

- دا عقیده درلودل چې ځینې خلک کولی شي د محمد صلی الله علیه وسلم شریعت پریږدي:

جائز | حرام | کُفر

- څوک چې د الله تعالی له دین څخه په نه زده کولو او عمل نه کولو سره مخ اړوي نو هغه:

کافِر دی. | مُشْرِك دی | هیڅ شی پرې نشته

س٢ د یو ملکري څخه دې واوریدل چې په لمونځ کوونکو یا د تقوا او اصلاح پر خلکو ملنډې وهي، نو د دې کار حکم یې څه دی؟

- .....
.....

س٣ په لنډه توګه د اسلام نواقض وښیه؟

- .....
.....

پر مسلمان د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حق کې واجب.

د اهل سنت و الجماعت له اصولو څخه [٢٥]:

اهل سنت والجماعت: هغه څوک دي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه د اصحابو له طريقې پيروي کوي، او دوی ته اهل سنت ځکه ويل کيږي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو پيروي کوي او منکولې پرې لکوي، او والجماعت ورته ځکه ويل کيږي چې: دوی په حق سره راټول شوي دي او په دين کې ډلې ډلې نه دي او پر هغه څه سره راټول شوي چې سلفو صالحينو پرې اتفاق کړی دی.

١ پدې ايمان چې هغه په حقه د الله رسول دی، او دا چې رسالت يې د ټولو خلکو لپاره عام دی.

الله تعالى فرمايلي:

﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا﴾ [الأعراف سورت: ١٥٨ آيت].

(ووايه: اې خلکو! پرته له شکه زه تاسو ټولو ته د الله استازی يم).

٢ پدې باور چې هغه د پيغمبرانو سردار او وروستی پيغمبر دی، نو له هغه وروسته بل نبي نه راځي.

الله تعالى فرمايلي:

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾

[الأحزاب سورت: ٤٠ آيت].

(محمد (ﷺ) ستاسو په سړيو کې د هيڅا پلار نه دی، مګر د الله رسول او د نبيانو (د لړی) پای ته رسوونکی دی)

د اهل سنت و الجماعت له اصولو څخه [۲۵]:

۳ له هغه سره مینه کول او په هغه څه کې يې اطاعت کول چې هغه پرې يې امر کړی او له هغه څه څخه ډډه کول چې هغه ترې يې منع فرمايلې ده.

دلیل د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا﴾ [الحشر سورت: ۷ آیت]

ژباړه: (او رسول چې تاسو ته څه درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې هغه تاسو منع کړي ياست، نو ترې منع شئ).

۴ دا عقیده چې د قیامت په ورځ به د خلکو په منځ کې د هغه له شفاعت پرته قضاوت نه کېږي، چې هغه تر ټولو ستر شفاعت دی، له کوم څخه چې اولوالعزم پیغمبران په شا کیږي [۲۶] تر دې چې ده ته راورسیږي، نو دی به د عرش لاندې سجده وکړي، او د شفاعت اجازه به وغواړي، نو رب تبارک وتعالی به ورته ووايي: «سر پورته کړه، سوال وکړه درکول کیږي او شفاعت وکړه، شفاعت دې منل کیږي».

پوښتنې

س۱ پر مسلمان د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حق کې څه واجب دي؟

.....

.....

س۲ رسول الله صلی الله علیه وسلم چاته لیږل شوی دی؟ دلیل یې ووایه.

.....

.....

س۳ خاتم النبیین څه معنا؟

.....

.....

س۴ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ستا د محبت کولو نښه څه ده؟

.....

.....

س۵ هغه کوم شفاعت دی چې اولو العزم پیغمبران ترې په شا کیږي؟

.....

.....

نولسم لوست

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابه كراموپه حق كې واجب (دريځ)

د اهل سنت و الجماعت له اصولو څخه:

١ صحابه ټول د عدل خاوندان دي.

٢ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابه كرامو سره محبت كول، ځكه چې له هغوى سره محبت كول دين او ايمان دى، او له هغوى كركه كول؛ كفر او نفاق دى.

٣ له هغوى رضايت، او هغوى ته ښنه غوښتل.

٤ باور درلودل چې هغوى د دې امت تر ټولو غوره او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ګواهۍ سره بهتر خلک دي لكه چې فرمايي:ژباړه: «تر ټولو غوره پيړۍ زما پيړۍ ده».
او هغوى ته له سپكو سپورو ويلو او يا يې ازارولو منع فرمايلې ده.

بخاري په كتاب الشَّهادات، باب: لا يشهد على شهادة جور إذا أُشهد كې په (٢٦٥٢) شمېره، او مسلم په كتاب فضائل الصحابة باب: فضل الصحابة ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم كې په (٢٥٣٣) شمېره د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه له حديث څخه روايت كړى دى.



د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابه كراموپه حق كې واجب (دريځ)

الله تعالى د هغو مؤمنانو د مينې يادونه كوي چې د خپلو پخوانيو ورونو سره يې لري:

﴿وَالَّذِينَ جَاءُوا مِن بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾

[الحشر سورت: ١٠ ايت].

ژباړه: (او هغه كسان چې له دوى (هجرت كوونكو او انصارو) نه وروسته راغلي دي؛ دوى وايي: اى زمونږه ربه: ته مونږ ته مغفرت وكړه او زمونږ هغو ورونو ته چې زمونږ نه يې په ايمان سره مخكى والى كړى دى، او زمونږ په زړونو كې د هغو كسانو لپاره هېڅ بغض (او كينه) مه پيدا كوه چې ايمان يې راوړى دى، اى زمونږه ربه! بېشكه ته ډېر نرمي كوونكى، بې حده رحم كوونكى يې).

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

ژباړه: «زما له ملګرو څخه هيڅا ته كنځلې مه كوئ، يقينا كه ستاسو څخه يو څوک د اُحد د غره په اندازه سره زر خيرات كړي، نو د هغوى د يو يا نيم موټي په اندازه خيرات ته به ونه رسيږي».

بخاري په كتاب فضائل أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم، باب: قول النبي صلى الله عليه وسلم:« لو كنت متخذاً خليلاً » كې په (٣٦٧٣) شميره، او مسلم په: كتاب فضائل الصحابة، باب: تحريم سب الصحابة رضي الله عنهم كې په: (٢٥٤١) شميره كې روايت كړى دى، او دا الفاظ د همده ده.

٥ پر دين پوهيدلو او پرې عمل كولو كې د هغوى د لارې پيروي.

پوښتنې

س١ پر مسلمانانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو په حق کې څه کول واجب دي؟

. . . . . .

. . . . . .

س٢ په لاندې ځوابونو کې سم ځواب غوره کړئ:

- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو سره مینه کول.

د اهل سنت و الجماعت له اصولو څخه یو اصل دی.

له سنتو څخه یو سنت عمل دی.

له مکروهاتو څخه یو مکروه دی.

- مسلمان باور لري چې صحابه کرام:

یوازې په عربو کې غوره دي.

د مکې په اوسیدونکو کې غوره دي.

په ټول امت کې غوره دي.

پوښتنې

س۳ له يو چا دې واوريدل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم يو صحابي ته کنځلې کوي، نو حکم يې څه دی؟ او په څه ورته نصيحت کوې؟

.....

س۴ له قرآن او سنت څخه صحابه کرامو ته د کنځلو کولو د ممانعت دليل ذکر کړه؟

.....

.....



شلم لوست

د خلفای راشدینو - رضي الله عنهم - په حق کې واجب

د اهل سنت و الجماعت له اصولو څخه:

خلفای راشدین؛ هغه څلور کسان دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته يې خلافت په غاړه واخیست، دوی:

ابوبکر صدیق | ابو حفص الفاروق | عثمان بن عفان | علي بن ابي طالب

رضي الله عنهم دي، دوی پر امت حقونه لري چې ځینې يې دا دي:

١ د هغوی سره محبت کول او ترې راضي کېدل.

٢ د فضیلت او خلافت له مخې يې ترتیب، لکه څنګه چې د سلفو صالحینو نه راغلي دي چې لومړی يې ابوبکر، بیا عمر، بیا عثمان او بیا علي رضي الله عنهم اجمعین و.
نو د ابوبکر رضی الله عنه مخکی والی؛ د هغه لومړیتوب پر بنسټ دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټولو صحابه کرامو کې په لمانځه کې وړاندې کړی و او د هغه صلی الله علیه وسلم د دې وینا له امله چې فرمایي:

ژباړه: «که چېرته ما له خپل امت څخه څوک په ځانګړې دوستۍ نیولی، نو خامخا به مې ابوبکر نیولی و، مګر هغه مې ورور او ملګری دی».
بخاري په: کتاب فضائل أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم، باب: قول النبي صلى الله عليه وسلم: «لو كنت مُتَّخِذاً خليلاً» کې په (٣٦٥٦) شمیره روایت کړی دی.

د اهل سنت و الجماعت له اصولو څخه:

٣ د هغوی د لارښوونو سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم په لارښوونو عمل، لکه څنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې په خپلې وینا کې امر کړی دی:

ژباړه: «تاسې زما په طریقه او زما نه وروسته د هدایت موندونکو خلیفه ګانو په طریقه منګولې ولګوئ، او د ژامې غاښونه پرې کلک کړئ».

أبو داود په کتاب السنة کې په (٤٦٠٧) شمیره، او ترمذي په: كتاب العلم، باب: ما جاء في الأخذ بِالسُّنَّة واجتِناب البدع کې په: (٢٦٧٦) شمیره، روایت کړی او أبو عيسى ويلي:" هذا حديث حسن صحيح "، او دا الفاظ د همده دي، او ابن ماجه په المقدمة، باب: اتِّباع سنَّة الخلفاء الرّاشدين المهديين کې په: (٤٢) شمیره او أحمد په: المسند (١٢٦/٤، ١٢٧) کې روایت کړی. نواجذ: د ناجِذ جمع ده چې: د ژامې غاښونو ته وایي، دا یو متل دی چې د یو کار په کلکه نیولو لپاره کارېږي.



پوښتنې

س١ خلفای راشدین وښیه؟ او په غوره والي کې يې ترتیب څه دی؟

.....

.....

س٢ لاندې نص بشپړ کړه:

قال صلى الله عليه وسلم:« فعليكم بِسُنَّتي وسُنَّة .....المهدِيِّين .....».

س٣ د خلفای راشدینو په حق کې پر موږ څه کول واجب دي؟

.....

.....

س٤ ولې ابوبکر رضي الله عنه په صحابه کرامو کې غوره دی؟

.....

.....

س٥ د خلفای راشدینو رضي الله عنهم په لارښونو عمل څه حکم لري، سره له دلیل.

.....

.....

س٥ له یو چا دې واوریدل چې له خلفای راشدینو رضي الله عنهم څخه یو ته کنځلې کوي، نو د دې عمل يې څه حکم دی؟ او په څه سره ورته نصیحت کوې؟

.....

.....

زمور د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بيبيانو حق

د اهل سنت والجماعت له اصولو څخه:

دا چې زمور د پېغمبر صلى الله عليه وسلم بېبيانې د ټولو مؤمنانو مورګانې دي [٣١]، الله تعالى فرمايلي: ژباړه: (او د ده بنځې د دوى مينډې دي).[الأحزاب سورت: ٦ ايت].

ابن قيم الجوزي رحمه الله په زاد المعاد (١/١١٤): کې ويلي " پدې کې هيڅ اختلاف نشته چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له نهه ميرمنو څخه وفات شو، يا دا چې له دوى څخه يې اتو ته برخې ويشلې: عائشة بنت الصديق، حفصة بنت عمر، زينب بنت جحش، أمّ سلَمة هند بنت أبي أمية، صفِيَّة بنت حُيي بن أخطب، أم حبيبة رملة بنت أبي سفيان، ميمونة بنت الحارث، سَوْدَة بنت زمعة او جويرية بنت الحارث المصطلقية رضي الله عنهن أجمعين ".

دوى پر امت حقونه لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

١- له دوى سره مينه کول او ترې راضي کېدل.

٢ - دا عقيده چې هغوى پاکې او له هر عيب څخه پاکيزه وې، لکه څنګه چې الله تعالى فرمايلي: ژباړه: (په حقيقت کې الله غواړي چې له تاسي ګناه لرې کړي اى (د نبي) کور والاوو، او بنه مو پاک کړي په پاکولو سره).[الأحزاب سورت: ٣٣ ايت].

زمورږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بيبيانو حق

د اهل سنت و الجماعت له اصولو څخه:

- په دوی کې غوره خديجه بنت خويلد او عائشة بنت الصديق رضي عنهن أجمعين دي.

خديجه بنت خويلد د رسول الله صلى الله عليه وسلم لومړۍ مېرمن وه، او هغه لومړۍ مېرمن وه چې د هغه په رسالت يې ايمان راوړ، مرسته يې ورسره وکړه او ملاتړ يې ترې وکړ، له ابراهيم پرته ټول اولادونه يې له هغې څخه وو؛ او ابراهيم له ماريه القبطية څخه و.

او عايشه صديقه رضى الله عنها چې د ابوبکر صديق رضي الله عنه لور ده، هغه مېرمن ده چې د اوو اسمانونو د پاسه يې پاک لمني ثابته شوې ده، او په رسول الله صلى الله عليه وسلم لدې پرته د بلې هيڅ مېرمنې سره په بستر کې وحی نده نازل شوې، هغه په صحابه کرامو کې يوه له هغو کسانو وه چې ډير علم او پوهه يې په دين کې درلوده، او صحابه کرامو به ترې د شريعت په چارو او احکامو کې پوښتنې کولې.



پوښتنې

س۱ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مېرمنو حقونه کوم دي؟

.....

.....

س۲ د هغه چا حکم څه دی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مېرمنو ته کنځلې کوي، او يا يې په يو ډول سپکه کوي؟

.....

.....

س۳ د خديجه بنت خويلد رضي الله عنها ځيني صفتونه بيان کړه؟

.....

.....

س۴ د عائشة صديقه بنت الصديق رضي الله عنها و عن أبيها ځيني صفتونه بيان کړه.

.....

.....

س۵ له يو چا دې واوريدل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم يوې مېرمنې ته کنځلې کوي، د هغه د دې کار حکم څه دی؟ او په څه ورته نصيحت کوې او په وړاندې يې ستا دريځ څه دی؟

.....

.....

دوه ویشتم لوست

د واکمنو مسلمانانو واجب (حقونه)

د اهل سنت والجماعت له اصولو څخه:

۱ د مسلمانانو له امامانو اوریدل او اطاعت يې کول، هغه که نیک وي او یا فاسق، تر څو يې چې د الله تعالی په نافرمانۍ امر نه وي کړی، ځکه چې د الله تعالی په نافرمانۍ کې د مخلوق اطاعت نشته.

الله تعالی فرمایلي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ﴾

[النساء سورت: ۵۹ آیت].

[ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! د الله خبره منئ او د رسول خبره منئ او د خپلو د امر د خاوندانو (واکمنانو)]،



د واکمنو مسلمانانو واجب (حقونه)

د اهل سنت والجماعت له اصولو څخه:

او رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي:

﴿ على المرءِ المسلِم السّمع والطّاعة فِيما أَحَبّ وكَرِه◉ إلّا أن يُؤمَر بمعْصِيَة◉ فإن أُمِرَ بمعْصِيَةٍ فلا سَمْعَ ولا طاعَة ﴾ (٣٩).

ژباړه: «په مسلمان باندې خبره منل او تابعداري لازم ده، په هغه څه کې چې هغه يې خوښوي او يا يې بد ګڼي، مګر دا چې په ګناه ورته امر وشي؛ نو که په ګناه ورته امر وشي بيا نه خبره منل شته، او نه تابعداري».

بخاري په کتاب الأحكام، باب: السَّمع والطّاعة للإمام ما لم تكن معصية، کې په (٧١٤٤) شمیره او مسلم په کتاب الإمارة، باب: وجوب طاعة الأمراء في غير معصية وتحريمها في المعصية کې په (١٨٣٩) شمیره روایت کړی او الفاظ د ابن عمر رضي الله عنهما له حديث څخه د همده دي.

٢ حج، د جمعې لمونځونه او د الله په لار کې جهاد د هغوی سره یو ځای کول.

٣ د مسلمانانو تر منځ د تفرقې او شخړو راپارېدلو د مخنیوي لپاره د هغوی پر خلاف له بغاوت نه ډډه کول.



پوښتنې

س۱ مسلمانانو ته د خپل واکمن په حق کې څه کول په کار دي؟

.....

.....

س۲ دمسلمانانو دحاکم په مقابل کې بغاوت ولې روا نه دی که څه هم هغه فاسق وي؟

.....

.....

س۳ کله چې واکمن په ګناه امر وکړي نو آیا اطاعت يې جایز دی؟ دلیل يې څه شی دی.

.....

.....



درويشتم لوست

پرهغه څه ايمان راوړل واجب دي چې له صحيحه احاديثو څخه په سنت کې ثابت دي.

د اهل سنت والجماعت له اصولو څخه:

په ټولو معتبرو احاديثو ايمان راوړل ضرور دي چې په سنتو کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت دي، لکه د اسراء او معراج، د قيامت نښې، د قبر نعمتونه او عذاب او د قيامت د ورځې د حالاتو په اړه حديثونه.

اسراء او معراج:

الإسْراءُ: د شپې مهال پر براق له مکې مکرمې څخه بيت المقدس ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم تګ.

المِعْراجُ: د جبريل عليه السلام په ملتيا اووم اسمان ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم ختل او په همغه شپه کې يې بېرته مکې ته راګرځيدل.



پرهغه څه ایمان راوړل واجب دي چې له صحیحه احادیثو څخه په سنت کې ثابت دي.

د دې خبرې تفصیل د انس بن مالک رضي الله عنه په حدیث کې راغلی دی چې فرمایي:

« أنَّ رسولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم أُتي بِالبُراقِ فَرَكِبَه حتى أتى بَيْت المقدِس فدخل المسجِد وصلَّى فيه ركعتين، ثم عُرِجَ بِه إلى السَّماء، فاسْتَفْتَح جَبريل فَفُتِح لهما، وصَعدَ رَسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وجِبريل السَّمواتِ السَّبع، وبَلَغَ الرَّسولُ صلى الله عليه وسلم سِدْرَةَ المنْتَهى، وفُرِضَت عليه الصَّلَوات الخمْس، ثم عادَ مِن لَيْلَتِهِ » (٣٣)

ژباړه: "رسول الله صلى الله عليه وسلم ته براق راوستل شو او هغه پرې سپور شو، تر دې چې بيت المقدس ته راغی، نو جومات ته ننوت او دوه رکعته لمونځ يې وکړ، بيا اسمان ته پورته کړی شو، نو جبريل د دروازې د پرانيستو غوښتنه وکړه، چې دواړو ته دروازه خلاصه شوه او رسول الله صلى الله عليه وسلم او جبريل عليه السلام اووم اسمان ته پورته شول تر دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم سدرة المنتهى ته ورسيد او پنځه وخته لمونځونه پرې فرض شول، بيا په همغه شپه کې بيرته راوګرځيد.

بخاري في كتاب بدء الوحي، باب: ذكر الملائكة صلوات الله عليهم کې په (٣٢٠٧) شمیره، او مسلم په كتاب الإيمان، باب: الإسراء برسول الله صلى الله عليه وسلم إلى السموات، وفرض الصلوات کې په (١٦٢) شمیره په لوی حدیث کې روایت کړی دی. او بُراق: هغې اوږدې سپینې سپرلۍ ته وایي چې د خره نه پورته او د قچرې نه ښکته وي، چې یو قدم به یې د سترګو د لید په اندازه اېښود. سدرة المنتهى: دا په اووم اسمان کې یوه لویه ونه ده چې د مخکنیو او وروستنیو علم تر همغه ځایه رسیږي او له هغه ځایه نه تیریږي.

* د اسراء او معراج (پېښه) د رسول الله صلى الله عليه وسلم له معجزو څخه ده او د هغه د پېغمبرۍ په ریښتینولۍ دلیل دی.

پوښتنې

س۱ په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطې اصلاح کړئ:

- معراج: د رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه سفر دى چې له مکې څخه يې بيت المقدس ته کړى و.

- د اهل سنت والجماعت له اصولو څخه: په هر هغه صحيح حديث ايمان راوړل دي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت شوى وي.

-إسراء: د جبريل عليه السلام په ملتيا اووم اسمان ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم له ختلو څخه عبارت دى.

س۲ اسراء او معراج څه معنا؟

- .....
.....

س۳ اسراء او معراج د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پيغمبرۍ ثبوت دى، تشريح يې کړه.

- .....
.....

س۴ لمونځ کله فرض شوى؟ او دا په څه دلالت کوي؟

- .....
.....

د قبر نعمتونه او عذاب

- **د قبر په ازمايښت ايمان :** له مړي څخه په قبر کې له خښېدلو وروسته د هغه د رب، دين، او نبي صلى الله عليه وسلم په اړه پوښتنه کېدل دي.

- **د قبر په نعمتونو او عذاب ايمان،** دا چې هغه به د جنت له باغچو يوه باغچه وي او يا د دوزخ له کندو څخه يوه کنده.

د قبر د حالاتو تفصيل د أنس رضي الله عنه په حديث کې راغلی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:


ژباړه: «بنده چې کله په قبر کې کېښودل شي او دوستان يې تر لاړ شي- په داسې حال کې دی به د هغوی د څپليو کشاری اوري - نو دوه ملايکې ورته راشي، هغوی يې کېنوي او محمد -صلى الله عليه وسلم- ته په اشارې کولو -ورته ووايي- د دې سړي په اړه دې څه ويل؟ نو مؤمن ورته وايي: زه ګواهي ورکوم چې هغه د الله بنده او رسول دی، نو ورته به وويل شي: په اور کې دې ځای ناستې ته وګوره چې الله تعالى درته په جنت کې په ځای ناستي بدل کړ، نو دواړه به وګوري، او منافق او کافر ته به وويل شي چې: د دې سړي په باره کې دې څه ويل؟ نو هغه به ووايي: نه پوهيږم، ما هغه څه ويل چې خلکو به ويل، نو ورته به وويل شي: نه پوهېدلې او نه دې د نورو (نجات موندونکو) پيروي کوله، نو په اوسپنيزو ماتوړونو به ووهل شي، نو چيغه به کړي په چيغې وهلو سره چې خواوشا به يې له انسانانو او پيريانو پرته نور ټول مخلوقات واوري».

بخاري په کتاب الجنائز، باب: ما جاء في عذاب القبر کې په (١٣٧٤) شميره روايت کړی او دا الفاظ د همده دي، او مسلم په کتاب الجنة ونعيمها، باب: عَرْض مَقْعَدِ الميِّتِ مِن الجنَّةِ والنّارِ عليه، کې په (٢٨٧٠) شميره روايت کړی.

د قبر نعمتونه او عذاب

او دا دواړه (پريښتې) منكر او نكير دي لكه څنګه چې د ابو هريرة رضي الله عنه په حديث كې راغلي دي وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: :« كله چې مړی ښخ شي دوه توري شني پريښتې ورته راشي چې يوې ته يې: منكر او بلې ته : نكير ويل كيږي» ترمذي په كتاب الجنائز، باب: ما جاء في عذاب القبر كې په [٧١] شميره روايت كړی او أبو عيسى ويلي " حديث حسن غريب " دی.

لدې امله پر مسلمان واجب دي چې د قبر پر عذاب او نعمتونو ايمان ولري او هغو حالاتو ته چمتووالی ولري چې له مرګ نه وروسته يې كورنۍ او ملګري په قبر كې يوازې پريږدي، او له نېک عمل پرته ورته هيڅ ګټه نه رسوي.



پوښتنې

س۱ د قبر له فتنې یا ازمویني څخه څه مراد دي؟

.....

.....

س۲ انسان چې کله په قبر کې کېښودل شي په څه شي سره امتحانېږي؟

.....

.....

س۳ کله چې له مؤمن څخه په قبر کې سوال وشي نو جواب یې څه وي؟

.....

.....

س۴ د کافر او منافق جواب څه وي چې په قبر کې ترې پوشتنه وشي؟

.....

.....

س۵ مؤمن ته څه کول په کار دي چې د قبر له عذاب څخه وژغورل شي؟

.....

.....

پوښتنې

س ٤ **الله تعالى فرمايلي:**﴿يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ۖ وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّالِمِينَ ۚ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ﴾

(الله هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی په ثابته خبره مضبوطوي، په دنیایي ژوند کې او په اخرت کې هم او الله ظالمان ګمراه کوي او الله چې څه وغواړي هغه کوي).[إبراهيم سورت: ٢٧ ایت].

له دې آیت څخه ځینې ګټې او درسونه وښیئ؟

.....

.....

.....



پنځه ویشتم لوست

د قیامت د ورځې له حالاتو څخه

د قیامت له راتلو مخکې ډیری نښې شته

چې ځینې یې د حذیفه بن اسید الغفاري رضي الله عنه په حدیث کې راغلي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مورږ ته په داسې حال کې رانښکاره شو چې مورږ سره بحث کاوه نو ویې فرمایل:

ژباړه: « د څه شي په اړه مو بحث کاوه» هغوی وویل: د قیامت په اړه مو بحث کاوه، هغه وفرمایل: «هغه به رانشي - یعني قیامت - تر دې چې مخکې ترې لس نښې وګورئ، نو له هغو یې ځینې (نښې داسې بیان کړې): لوګی، دجال، دابة (حیوان رانښکاره کېدل) د لویدیځ له لورې لمر راختل، (له اسمان) نه د عیسی ابن مریم علیه الصلاة والسلام راکوزیدل، یأجوج او ماجوج، درې ځمکنښوینې: په ختیځ کې ځمکنښوینه، په لویدیځ کې ځمکنښوینه او د عربو په جزیره کې ځمکنښوینه، او وروستۍ نښانه به یې اور وي چې له یمن څخه به راوځي او خلک به د محشر لور ته شړي».

مسلم په کتاب الفتن وأشراط الساعة، باب: في الآيات التي تكون قبل الساعة، کې روایت کړی د حدیث شمیره ده: (۲۹۰۱)

- او د لوګي په اړه ویل شوي چې: هغه لوګی دی چېپه کافرانو به سخت وي او مؤمن ته به لکه د زکام په څېر رسیږي، دا به د قیامت په نږدې وخت کې وي.

د قيامت د ورځې له حالاتو څخه

- دجال: دا يو دروغجن کافر انسان دی چې په اخره زمانه کې به راوځي او د ربوبيت دعوه به کوي، په لاس به يې ډيری خارق العاده کارونه کيږي، نو ډيری خلک به پرې دوکه شي او پيروي به يې وکړي، په ټوله ځمکه کې به وګرځي چې بيا به يې عيسى بن مريم عليه الصلاة والسلام ووژني.

- او دابة: يو حيوان دی چې الله تعالى به يې قيامت ته په نږدې وخت کې راوباسي

الله تعالى فرمايلي:

﴿وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِّنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ﴾[النمل:٨٢]

(او کله چې په دوی (د عذاب) خبره ثابته شي (او قيامت رانږدې شي، نو) مونږ به دوی ته له ځمکې نه يوه دابّه (ژوندی خوځنده) راوباسو، چې له دوی سره به خبرې کوي، چې بېشکه خلکو به زمونږ په ايتونو يقين نه کاوه).

د قيامت د ورځې له حالاتو څخه

- نو کله چې قيامت قايم شي، الله به ټول مخکني او وروستني مړي راژوندي کړي.

بيا به الله بندګان راپورته کړي او تر منځه به يې پرېکړه وکړي لکه څنګه چې د عبد الله بن أُنيس رضي الله عنه په حديث کې راغلي چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل چې ويل يې:

ژباړه: « د قيامت په ورځ به خلک لوڅ، ناسنت شوي او (بُهماً) راپاڅيږي، مور ووېل چې: (بُهماً) څه دي؟ هغه وفرمايل چې: هيڅ ورسره نه وي، بيا به په داسې غږ ورغږ کړي چې لرې به يې لکه د نږدې په څېر اوري چې: زه پادشاه يم، زه قاضي يم، او له دوزخيانو هيڅ يو ته نه ښايي تر هغه پورې دوزخ ته ننوځي چې د کوم جنتي سره يې حق وي تر څو يې ترې واخلم، او هيڅ جنتي ته نه ښايي جنت ته ننوځي، پداسې حال کې چې د کوم دوزخي ورسره حق وي، تر څو يې ترې واخلم، که څه هم يوه څپېړه وي، وايي: مور ووېل: څنګه، په داسې حال کې چې مور به الله تعالى ته لوڅ، ناسنت شوي او په داسې حال کې راشو چې هيڅ به راسره نه وي، هغه وفرمايل: په نيکيو او بديو سره »[٣٧].

إمام أحمد روايت کړی (٤٩٥/٣)، او حاکم په المستدرك في كتاب التفسير، باب: تفسير سورة حم المؤمن کې روايت کړی (٤٣٨/٢). غُرلاً: ناسنت شوي. الدَيّان: قاضِي او حاكِم و هغه څوک چې په کړنو سره خلکو ته سزا ورکوي. أقصه: يعني له قصاص او حق اخيستلو واک ورکړم. اللَّطْمَة:پر مخ څپېړه.

د قيامت د ورځې له حالاتو څخه

- د بندګانو ترمنځ قصاص به داسې وي چې مظلوم ته به د ظالم له نیکیو ورکول کیږي، که چیرته یې نیکۍ نه درلودې د مظلوم له بدیو به راواخیستل شي او په ظالم به ورواچول شي.



پوښتنې

س۱ لاندې عبارتونه بشپړ کړئ:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: « إنها لن تقوم -يعني السّاعة -حتى تَرَوا قبلَها عَشرَ آياتٍ، فذكر: الدّخان والدَّجّال و .... ».

س۲ تشريح کړه چې خلک به څنګه د قيامت په ورځ راپورته کيږي؟

- .....
.....

س۳ الله تعالى به مړي کله راپورته کوي؟

- .....
.....

س۴ هغه څوک به کله جنت ته ننوځي چې پر چا يې تيری کړی وي او يا يې پرې قرض وي؟

- .....
.....

س۵ هغه څوک به کله دوزخ ته ځي چې د چا سره يې ظلم کړی وي او يا يې پرې قرض وي؟

- .....
.....

پوښتنې

س۶ رسول الله صلی الله علیه وسلم ولې د دجال په اړه خبرداری ورکړی دی؟

- .....
.....



شپږويشتم لوست

د قبلې له خلکو د هيڅا په اړه د جنت او يا دوزخ حکم نه کيږي.

د اهل سنت والجماعت له اصولو څخه:

- له اهل قبلې څخه د هيڅا په اړه د جنت او يا دوزخ قطعي پريکړه نه کيږي مګر هغه څوک چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه شاهدي ورکړې وي؛ بلکې نيکي کوونکي ته د ثواب هيله مندي لري او پر ګناهګار د سزا ويره لري.

- د چا په اړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ګواهي ورکړي وي چې جنتي دی، نو مونږ په ټينګار سره باور لرو چې هغه به جنت ته ننوځي؛ ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له ځانه وينا نه کوي، ځينې هغه خلک چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه شاهدي ورکړې ده دا دي: أبو بكر، عمر، عثمان، علي، طلحة بن عبيد الله، زبير بن العوام، سعد بن أبي وقاص، سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل، عبد الرحمن بن عوف او أبو عبيدة عامر بن الجراح رضي الله عنهم.

- رسول الله صلى الله عليه وسلم له دوی پرته د نورو لپاره هم د جنت شاهدي ورکړې ده لکه: حسن او حسين رضى الله عنهما،

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ»[٣٨].

«حسن او حسين د جنتي ځوانانو سرداران دي».ترمذي په: كتاب المناقب، باب: مناقب الحسن والحسين کې روايت کړی، د حديث شمیره ده: [٣٧٦٨]، او أبو عيسى الترمذي ويلي:" حديث حسن صحيح".

د قبلي له خلکو د هيڅا په اړه د جنت او يا دوزخ حکم نه کيږي.

شپږويشتم لوست

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

او عکاشة بن محصن هغه کس دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه خبر ورکړی چې له هغو اويا زره کسانو څخه دی چې جنت ته به له حساب او عذاب پرته داخليږي [٣٩].بخاري په کتاب الرقاق، باب: يدخل الجنة سبعون ألفاً بغير حساب کې په (٦٥٤١) شميره روايت کړی، او مسلم په: کتاب الإيمان، باب: الدَّليل على دخول طَوائف مِن المسلمين الجنَّة بغير حسابٍ ولا عَذاب کې په: (٢١٦) شميره روايت کړی.

- **هغه کافر چې د اسلام له اوريدو وروسته د کفر په حالت کې مړ شوی، له شک پرته دوزخي دی.**



پوښتنې

س۱ آيا مسلمان ته روا دي چې د اهل قبلې څخه يو څوک جنتي او يا دوزخي وګڼي، په داسې حال کې چې رسول صلی الله علیه وسلم يې په اړه شاهدي نه وي ورکړي؟

.....

.....

س۲ آيا جايز دي چې د اسلام له اوريدلو وروسته يو کافر دوزخي وګڼل شي، حال دا چې لا مړ شوی نه وي؟

.....

.....

س۳ کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د يو چا په اړه شاهدي ورکړي چې جنتي دی، نو په اړه يې مورږ ته څه په کار دي؟

.....

.....

س۴ د هغو لس کسانو نومونه واخله چې د جنت زيری ورکړل شوی دی؟

.....

.....

درسي نصاب

فقه

سویه (شپږمه)

لنډه کتنه

دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کوونکو لپاره د تعلیمي نصاب اصلاح شوی لنډیز او غورچاڼ دی چې په بېلابېلو سویو ویشل کیږي، په دې کې یو مضمون فقهي ته ځانګړی شوی چې دولس [۱۲] سویې لري. هغه اړین موضوعات او مسائل چې په لومړۍ سویه کې راوړل شوي په لاندې ډول دي:

- د هغو احکامو بیان چې جمعې لمانځه، د اخترونو لمونځونو، لمر نیونې (کسوف) او باران غوښتلو لمونځونو سره تړاو لري.
- د فرضي زکات د أحکامو بیان، د زکات وجوب شرطونه، هغه مالونه چې زکات په کې کیږي او د مستحقو کسانو ډولونه.
- د روژې تعریف، د روژې د حکم، شرطونو، فاسدوونکو، ادابو او داسې نورو مسائلو بیان.
- د حج او عمرې د طریقې اړوند وینا، د مېقاتونو ډولونه، د احرام موانع، فدیه او داسې نور.

لومړی لوست (۲)

د جُمعې لمونځ

حکم يې: د جمعې لمونځ په هر مسلمان، بالغ، عاقل، نر او خپل ځای کې میشت فرض دی.نو په کوچني، لیوني، ښځې او مسافر واجب نه دی.



د استوګنې معنا :

هر یو ځای کې دایمي استوګنه چې د جمعې د وجوب او صحت لپاره شرط دی، نو پدې سره مسافر او د باندو هغه اوسیدونکي له دې حکم څخه وځي چې په خیمو او څپړو کې اوسیږي، او یا د باران او واښو په لټه کې کډوالي کوي چې د فقهې په کتابونو کې یې په بشپړ توګه حکمونه راغلي دي.

د جمعې لمونځ

د وجوب دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

﴿يَـا أَيُّهَـا الَّذِيـنَ آمَنُـوا إِذَا نُـودِيَ لِلصَّـلَاةِ مِـن يَـوْمِ الْجُمُعَـةِ فَاسْـعَوْا إِلَىٰ ذِكْـرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾[الجمعة سورت: ۹ ايت].

(اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی! کله چې د جمعې د ورځې د لمانځه لپاره اذان وشي، نو تاسو د الله ذکر ته بيړه وکړئ او اخيستل خرڅول پرېږدئ، دا ستاسو لپاره ډير غوره دی که تاسو پوهيږئ).

د جمعې د لمانځه د صحت شرطونه:

د جمعې د لمانځه د صحت لپاره څلور شرطونه دي چې په لاندې ډول دي:

۱ وخت، چې هغه لکه د ماسپښين وخت دی چې د لمر له زوال څخه پيليږي (يعنې کله چې لمر د آسمان له مينځ نه لويديځ طرف ته کوږ شي) او هغه مهال پای ته رسيږي چې د هر شي سيوری د هغه په اندازه شي.

۲ د جماعت (ډلې) حضور، ځکه له يو څخه نه صحيح کيږي.

۳ هستوګنه، چې هغه دايمي استوګنه ده.

۴ چې وړاندې تري دوه خطبې وويل شي.



د جمعې لمونځ

د جمعې د لمانځه طريقه:

د جمعې لمونځ دوه رکعته دی، لکه د سهار د لمانځه په څېر، امام يې قراءت په جهر سره لولي، او سنت طريقه ده چې په لومړي رکعت کې - له فاتحې وروسته - الأعلى سورت او په دويم رکعت کې الغاشية سورت ولولي.

د جمعې لپاره مستحب کارونه:

د جمعې په ورځ د مسلمان لپاره ځينې کارونه مستحب دي لکه:

١ غسل کول، پاکوالی، خوش بويي لګول، لمانځه ته د تللو لپاره ښايسته جامې اغوستل.

٢ لمانځه ته وختي تلل او امام ته نږدې کېناستل.

٣ د الکهف سورت لوستل.

٤ ډيرې دعاګانې او په رسول الله صلى الله عليه وسلم ډير درود ويل.

٥ د جمعې د لمانځه پسې دوه يا څلور رکعته لمونځ کول.





د جمعې لمونځ

هغه څه چې د جمعې په ورځ ترې منع راغلې ده:

- کله چې امام د جمعې خطبه وایي نو خبرې کول حرام دي؛ ځکه چې خطبې ته غوږ نیول واجب دي، لیل یې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دی:

ژباړه: «کله چې تا د جمعې په ورځ خپل ملګري ته وویل: چپ شه، په داسې حال کې چې امام خطبه وایي، نو لغوه دې وکړه».

بخاري په: کتاب الجمعة، باب: الإنصات يَوْم الجمُعَة والإمام يخطُب کې په (٩٣٤) شمیره روایت کړی، او د لغوتَ معنا ده: یعنې لغوه دې وکړه: او لغو: ګناه ته وایي.

- د مسلمان لپاره مکروه دي چې د خلکو په اوږو واوړي، مګر دا چې خالي ځای وګوري.

د جمعې لمونځ

د جمعې د لمانځه خطبه:

د جُمعې د لمانځه د صحت لپاره د لمانځه نه مخکې دوه خطبې ویل سنت دي، چې هره یوه یې لاندې ټکوته شامله ده:

١ د الله جل جلاله حمد ویل.
٢ له قرآن کریم څخه یو آیت لوستل.
٣ نصیحت.
٤ په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ویل.
٥ د الله تعالی څخه په ویره وصیت.

هغه څه چې خطبه ویونکي ته یې کول سنت دي

١ د خطیب لپاره سنت دي چې په منبر او یا لوړ ځای خطبه ورکړي.
٢ جومات ته د ننوتو او منبر ته د ختلو پر مهال په خلکو سلام واچوي.
٣ د دوو خطبو تر منځه یوه لنډه ناسته وکړي.
٤ چې مسلمانانو ته دعا وکړي.
٥ چې خطبې لنډې ووایي.

پوښتنې

س۱ د جمعې د لمانځه حکم څه شی دی؟ پر چا واجب ده، او د وجوب دلیل يې څه شی دی؟

- .....
.....

س۲ لاندې جملې بشپړې کړئ:

د جمعې د لمانځه وخت له ..... پیلیږي او
هغه مهال پای ته رسیږي چې .....

د جمعې د لمانځه په لومړي رکعت کې د ..... سورت لوستل او
په دویم رکعت کې د ..... سورت لوستل سنت دي.



پوښتنې

س۳ د (أ) په ستون کې د عبارت شمیره د (ب) د ستون د مناسبې جملې مخې ته ولیکه:

د (أ) ستون		د (ب) ستون
۱ - د جُمعې د صحت له شرطونو څخه		د امام د خطبې پر مهال خبرې کول
۲ - د جمعې په ورځ د مسلمان لپاره مستحب دي		چې په لوړ غږ خطبه ورکړي
۳ - د مسلمان لپاره مکروه دي		د الله جل جلاله حمد ویل
۴ - پر مسلمان حرام دي چې		د خلکو پر اوږو واوړي
۵ - د خُطبې له سنتونو څخه		د سورت الکهف تلاوت کول.
		د جماعت یا ډلې حاضریدل

س۴ د جمعې د لمانځه د صحت لپاره شرط دا دی چې مخکې تر دې دوه خطبې وویل شي چې هره یوه یې باید پنځو کارونو ته شامله وي. هغه کوم دي؟

أ-..... ب-.....

ج-..... د-.....

هـ-.....

دويم لوست (٤)

د اخترونو لمونځ

- مسلمانان په کال کې دوه اخترونه لري چې کوچنی او لوی اخترونه دي، چې مسلمانان په کې له رمضان نه وروسته او د ذوالحجې د میاشتې د لومړۍ لسیزې په پای کې راټولیږي او د الله تعالی د نعمت شکر پر ځای کوي، چې د رمضان د میاشتې روژه نیول یې ورته اسان کړل او د نېکو عملونو توفیق یې ورکړ، دوی له الله تعالی څخه سوالونه کوي چې عملونه یې قبول کړي. د اختر په ورځو کې خلک یو د بل لیدلو ته ورځي، خپلوي پالي او د خوښیو اظهار کوي، او ټول د اختر د لمانځه د ادا کولو لپاره راوځي.

- او یو بل اختر هم شته چې د جمعې ورځ ده، لدې درېو اخترونو پرته نور ټول اخترونه بدعت او په دین کې نوښت دی.



ښوونکی په عملي توګه د اختر لمونځ ادا کوي او د تکبیرونو طریقه ورښيي او له زده کوونکو یې غواړي.

د اخترونو لمونځ

د اخترونو د لمانځه حکم:

کفايي فرض دی (چې ځينې يې وکړي له نورو خلکو ساقطيږي) دليل يې د الله تعالى دا قول دی:ژباړه: (نو ته د خپل رب لپاره لمونځ کوه او قرباني کوه)[الکوثر سورت: ۲ ايت].

وخت يې:

(د لمر سترکې) د نيزې په اندازه لوړوالي څخه (د سترګو په نظر کې ، يعنی د لمر له راختلو شاوخوا يو ساعت وروسته) تر زوال پورې (يعنې چې لويديځ لور ته لږ کوږ شي).

طريقه يې:

۱ - د اخترونو لمونځونه دوه رکعته دي او امام يې په جهر سره قراءت کوي.
۲ - په لومړي رکعت کې له تحريمه تکبير او سبحانک اللهم نه وروسته شپږ تکبيرونه کوي.
۳- په دويم رکعت کې د انتقال له تکبير نه وروسته پنځه تکبيرونه کوي او له هر تکبير سره لاسونه پورته کوي.
۴- په لومړي رکعت کې له فاتحې وروسته سورة الاعلى او په دويم رکعت کې سورة الغاشيه ويل سنت دي.

د اخترونو لمونځ

د اخترونو خطبه:

د لمانځه له پای ته رسېدو وروسته امام دوه خطبې ورکوي، چې په هغه کې له الله تعالی څخه د وېرې، له حرامو څخه د ځان ساتلو، او خلکو ته د هغوی د حقونو په سپارلو، د الله تعالی پر کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر سنتو منګولې لګولو ټینګار کوي، او د لوی اختر په خطبه کې خلک قربانۍ کولو ته هڅوي او دا ورته تشریح کوي چې په کوم مال قرباني کېږي او په کوم نه کېږي.



د اخترونو لمونځ

د اخترسنتونه:

۱- د ښار سره په نږدې دښته کې د لمانځه ادا کول او د ضرورت پر مهال يې په لوی جومات کې په اداء کولو کې کوم حرج نشته.

۲- لمانځه ته وختي پياده تلل.

۳- په يوه لار تلل او په بله بيرته راتلل.

۴- د کوچني اختر لمانځه ته له تللو مخکې خرما خوړل، او غوره دا ده چې طاق عدد وي (درې يا پنځه خرما...).

۵- لمانځه ته په ښايسته شکل کې وتل، چې تر ټولو ښايسته جامې واغوندي، او مېرمنې به لمانځه ته سينګار نه کوي او نه به خوش بوی لګوي.

د اختر د لمانځه له احکامو څخه:

لومړی: د اختر د لمانځه لپاره اذان او اقامت نشته.

دويم: د اختر له لمانځه نه مخکې او وروسته نفل کول مکروه دي، که چيرته لمونځ په عيدګاه کې کېده، خو که د اختر لمونځ په مسجد کې کېده، نو مسجد ته له ننوتلو وروسته تحية المسجد لمونځ کيږي.

دريم: د هغه چا لپاره چې د اختر ټول او يا لږ لمونځ ترې تللی وي، نو سنت طريقه دا ده چې د اختر د لمانځه په څېر يې راوګرځوي، داسې چې دوه رکعته له ټولو تکبيرونه سره ادا کړي.

د اخترونو لمونځ

په اخترکې تکبیر:

په لوړ غږ د اختر په دوو شپو، د ذو الحجې په لسیزه، د تشریق په ورځو کې چې یوولسمه، دولسمه او دیارلسمه ورځې دي تکبیر ویل سنت دي.

د تکبیر (ویلو) طریقه:

اللهُ أكبَر، اللهُ أكبَر، لا إله إلّا الله، واللهُ أكبَر، اللهُ أكبَر، ولله الحمْدُ.



پوښتنې

س١ د اختر د لمانځه په اړه په لاندې ټکو کې وغږیږئ:

أ. حکم يې. | ب: دليل يې. | ج: وخت يې. | د: طريقه يې.

.....

.....

س٢ په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطې اصلاح کړئ:

١- د اختر لمونځ له ښار سره نږدې په دښته کې ادا کول سنت دي.

٢ - د اختر لمونځ له اذان او اقامت سره ادا کيږي.

٣- د اختر له لمانځه مخکې او وروسته نفل کول سنت دي.

٤- د تشريق ورځې عبارت دی له: د ذوالحجې د مياشتې (١٠، ١١ او ١٢) ورځو څخه.

س٣ د اختر له سنتونو يې څلور وښيه.

.....

.....

پوښتنې

س۴ د جمعې او اختر د لمونځونو تر منځ توپیر وښیه.

- .....

.....



دريم لوست (٥)

د کسوف لمونځ

- لمر او سپوږمۍ د الله تعالی د (قدرت) له نښانو څخه دوه نښې دي چې د هغه ذات د قدرت او عظمت څرګندونه کوي، د دوی نیونه (کسوف) یوه بله نښانه ده چې د دې کائناتو چارې د الله تعالی په لاس کې دي او څنګه چې وغواړي همې یې چلوي.

په کسوف کې د الله تعالی له حکمت څخه:

د بندګانو ویرول؛ تر څو دوی په دعا، استغفار او لمانځه سره الله تعالی ته رجوع وکړي، نو د کسوف له امله د الله تعالی ډول ډول عبادتونه وکړي چې په پایله کې یې لوی اجر او فضیلت ور په برخه کړي، لدې امله الله تعالی د کسوف پر مهال لمونځ روا کړی دی.



ښوونکی په عملي بڼه د اختر لمونځ ادا کوي او له زده کوونکو غواړي چې ادا یې کړي.

د کسوف لمونځ

د کسوف معنا

د لمر یا سپوږمۍ د ټولې یا ځینې رڼا له منځه تلل.

د کسوف د لمانځه حکم

موکد سنت دی، دلیل یې د عائشې رضي الله عنها حدیث دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي:

ژباړه: «لمر او سپوږمۍ د الله تعالى له نښانو څخه دوه نښې دي، د چا د مرګ او یا ژوند له امله پرې کسوف نه راځي، نو کله مو چې دا ولیدل، له الله تعالى څخه دعا وغواړئ، تکبیر ووایئ، لمونځ وکړئ او صدقه ورکړئ».

بخاري په کتاب الکسوف، باب: الصَّدَقَة في الكسوف کې په (١٠٤٤) شمیره روایت کړی، او مسلم په کتاب الکسوف، باب: صلاة الكُسوف کې په (٩٠١) شمیره روایت کړی دی.

د کسوف لمونځ

د کسوف د لمانځه وخت

- د کسوف له پیل څخه تر پای پورې.

- کله چې کسوف وشي، د لمانځه لپاره بلنه ورکول کیږي چې (الصَّلاة جامِعَة) یعنې د جماعت لمونځ ودریدونکی دی. نو د کسوف تر له منځه تللو پورې لمونځ کوي.

- او کله چې د کسوف له پای ته رسیدو وړاندې لمونځ خلاص شي، نو خلک د الله تعالی ذکر او دعا کوي، او بیا ځلې لمونځ نه کوي، کله چې کسوف پای ته ورسید، په داسې حال کې چې دوی په لمانځه کې وو، نو امام دې پاتې لمونځ په لنډ ډول بشپړ کړي.

طریقه یې:

د کسوف لمونځ دوه رکعته دی چې څلورکوع ګانې او څلورسجدې پکې کیږي، امام په دواړو رکعتونو کې په جهر سره قراءت لولي او په لاندې ډول یې کوي:

۱- تحریمه تکبیر کوي، سبحانک اللهم وایي، بیا اعوذ بالله وایې، بیا فاتحه سورت او ورپسې یو لوی سورت لولي، بیا اوږده رکوع کوي، بیا د (سمع الله لمن حمده) په ویلو سره سر راپورته کوي او (ربنا ولک الحمد) وایې او سجده نه کوي.

د کسوف لمونځ

طريقه يې:

۱ بيا فاتحه او يو لوی سورت لولي، بيا اوږده رکوع کوي، بيا د (سمع الله لمن حمده) په ويلو سره سر راپورته کوي او (رَبَّنا ولك الحمد) وايي.

۳ بيا دوه اوږدې سجدې کوي، او تر منځه يې اوږده ناسته نه کوي، او پدې سره لومړی رکعت پای ته ورسيد.

۴ بيا دويم رکعت لکه د لومړي په څېر کوي، د دوو اوږدو رکوع ګانو او اوږدو سجدو سره، بيا تشهد وايي او سلام ګرځوي.

د کسوف د لمانځه سنتونه:

د کسوف پر مهال لاندې کارونه سنت دي:

۱ چې د کسوف لمونځ په جماعت سره وشي.

۲ ډيره دعا کول، بښنه غوښتل، صدقه او داسې نور نېک کارونه کول.

۳ د لمانځه پسې وعظ او نصيحت او خلک د الله تعالى تقوا او د منکراتو پرېښودلو ته هڅول.

پوښتنې

س١ د کسوف د پېښېدو تر شا حکمت څه دی؟

.....

.....

س٢ لاندې جملې بشپړې کړئ:

أ- کسوف عبارت دی له .....

ب- د کسوف د لمانځه حکم .....

ج- د کسوف د لمانځه وخت له: ..... تر ..... دی.

س٣ په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطې اصلاح کړئ:

أ- کله چې کسوف د لمانځه له پای ته رسیدو مخکې خلاص شي، نو امام به په لنډ ډول لمونځ بشپړوي.

ب- کسوف لمونځ څلور رکعتونه دي چې امام یې په جهر سره قراءت لولي.

ج- د کسوف له سنتونو څخه یو دا دی چې دا لمونځ په جماعت سره وشي.

پوښتنې

س۴ د کسوف د لمانځه طریقه بیان کړه.

- .....

.....



ځلورم لوست (۷)

د استسقا (باران) لمونځ

- باران د الله جل جلاله له لوري د بندګانو لپاره يو نعمت او رحمت دی، چې په دې سره وابنه راشنه کيږي، ځمکه خړوبيږي او د انسان، حيواناتو او نباتاتو د ژوند لامل ګرځي، او کله چې بارانونه نه وي، يا لږ شي، خلکو ته لويه ستړيا پيدا کيږي او له ډيرې سختۍ سره مخ کيږي، لدې امله خلک خپل الله ته رجوع کوي چې د دوی او د باران پيدا کوونکی دی، غني او سخي ذات دی، نو هر وخت ترې د باران غوښتنه کوي، ځينې وختونه په يو ځای کې سره راټوليږي، لمونځ او دعا کوي چې دې لمانځه ته د استسقاء لمونځ وايي.

د استسقاء تعريف

له الله تعالی څخه د باران اوريدو غوښتنه کول.



ښوونکي ته:

- د باران غوښتنې (استسقاء) لمونځ په وخت، طريقه او احکامو کې لکه د اختر د لمانځه په څېر دی، نو ښوونکی بايد دلته له زده کوونکو سره دا موضوع ګاڼې مراجعه کړي.
- ښوونکی دا تشريح کوي چې د باران د مخنيوي لوی لامل د ګناهونو او سرغړونو زياتوالی دی په تېره بيا زکات نه ورکول.
- ښوونکی په عملي توګه زده کوونکو ته د استسقاء لمونځ ورښيي او بېرته له زده کوونکو غواړي چې عملي يې کړي.

د استسقا (باران) لمونځ

د باران غوښتلو لمونځ کله روا کيږي؟

د باران غوښتني لمونځ هغه وخت روا کيږي چې ځمکه وچه او باران بند شي.

د باران غوښتلو لمونځ کله روا کيږي؟

مؤکد سنت دی او د ليل يې دا دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د باران سوال وکړ، دوه رکعته لمونځ يې وکړ او خپل څادر يې په څټ واړوه [٨].

بخاري په کتاب الاستِسْقاء، باب: صلاة الاستِسْقاء رکعَتَيْن کې په: [١٠٢٦] شميره روايت کړی دی.

طريقه يې:

د استسقاء لمونځ د رکعتونو په شمېر، تکبيرونو او سنتونو کې لکه د اختر د لمانځه په څېر دی.



د استسقا (باران) لمونځ

د استسقا خطبه:

- د لمانځه له پای ته رسيدو پسې امام يوه خطبه ورکوي چې په تکبير سره يې لکه د اختر د خطبې په څېر پرانيزي، زيات استغفار وايي او هغه آيتونه پکې لولي چې په استغفار پکې امر شوی دی، د دعا لپاره لاسونه پورته کوي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دعاګانو سره دعا کوي چې ځينې يې په لاندې ډول دي:ژباړه: «يا الله، ته الله (په حقه معبود ذات) يې، له تا پرته بل حق معبود نشته مګر همدا ته يې، ته غني او موږ اړمن يو، پر موږ باران و اوروه، او څه دې چې موږ ته نازل کړل، زموږ د ځواکمنۍ او تر يوې نېټې پورې د رسيدو لامل وګرځوه (يعنې چې تر يوې نيټې پورې پرې ستا د عبادت لپاره پياوړي او ځواکمن شو)».أبو داود په كتاب الصَّلاة، باب: رَفْع اليَدَيْن في الاستِسْقاءِ کې په: (١١٧٣) شمېره روايت کړی دی.

- بيا قبلې ته مخ کوي، خپل څادر او يا چپن په څټ اړوي، داسې چې ښۍ پېڅکه په چپه اوږه او چپه پېڅکه په ښۍ اوږه راړوي، لمونځ کوونکي هم همداسې کوي او په ټټ غږ دعا کوي.

- او کله چې باران وشو نو سنت طريقه ده چې دا دعا وويل شي: اللَّهمَّ صَيِّباً نافِعاً. يعنې ای الله ! ګټور باران يې وګرځوې.

پوښتنې

س١ د صحيح ځواب لاندې کرښه کش کړئ:

أ- د استسقا معنا ده: (د باران د بندیدو غوښتنه - له الله تعالی څخه د باران د اوریدو غوښتنه - د لمر رڼا له منځه تلل).

ب - د استسقا لمونځ: (واجب - موکد سنت - کفايي فرض) دی.

س٢ لاندې عبارتونه بشپړ کړئ:

أ- کله چې باران وشو نو سنت طریقه ده چې وویل شي: .....
.....

ب - د رسول الله صلى الله عليه وسلم له دعاګانو څخه : اللَّهمَّ أنت ..... وبَلاغاً إلى حِين.

س٤ د استسقاء د لمانځه طریقه څنګه ده؟

- .....
.....

پنځم لوست

جنازه (د جنازې احکام)

مړي ته د غسل ورکولو، کفنولو، پرې جنازه کولو او ښخولو حکم:

مړي ته غسل ورکول، کفن ورکول، جنازه پرې کول او خښول يې کفايي فرض عمل دی (که دومره خلک چې بسنه کوي دا کار وکړي، له نورو ګناه ساقطيږي).

پر مړي د جنازې کولو طريقه:

په جنازه کې څلور تکبيرونه دي چې طريقه يې په لاندې ډول ده:

١ لومړی تکبير کوي، اعوذ بالله او بسم الله وايي (او سبحانک اللهم نه وايي) بيا فاتحه لولي.

٢ بيا دويم تکبير کوي او په رسول الله صلى الله عليه وسلم درود وايي.

٣ بيا دريم تکبير کوي، مړي، ځان او مسلمانانو ته دعا کوي.

٤ بيا څلورم تکبير وايي، ورپسې لږ چوپ پاتې کيږي، بيا ښي لور ته يو سلام اړوي.

په رسول الله صلى الله عليه وسلم د درود ويلو طريقه:

ژباړه: (يا الله! پر محمد - صلى الله عليه وسلم - او د هغه پر کورنۍ رحمت و اوروه، لکه پر ابراهيم - عليه السلام - او د هغه پر کورنۍ دې چې ورولې و، بېشکه ته ستايل شوی او لوی يې. يا الله ! پر محمد - صلى الله عليه وسلم - او د هغه پر کورنۍ برکتونه و اوروه، لکه پر ابراهيم - عليه السلام - او د هغه پر کورنۍ دې چې ورولې و، بېشکه ته ستايل شوی او عزتمند يې).

جنازه (د جنازې احکام)

د مړي لپاره له دعاګانو څخه یوه دا ده چې وو ایې:

ژباړه: «اې الله! بخښنه ورته وکړه او رحم پرې وکړه، له سختیو یې وساته، او معافي ورته وکړه، عزتمنده میلمسیا یې وکړه، د ورتلو ځای یې پراخه کړه، او په اوبو، واوره او ګلی یې ووینځه، او له ګناهونو یې داسې پاک کړه لکه څنګه چې سپینه جامه له خیرې پاکیږي، او د ده د کور په بدل کې ښه کور ورکړه، او له کورنۍ غوره کورنۍ ورکړه؛ او له ښځې یې غوره ښځه ورکړه، او جنت ته یې داخل کړه او د قبر او جهنم له عذابه یې وساته».

د جنازې سنتونه:

١ د جنازې سره تلل تر څو چې دفن شي.

٢ جنازه په بیړه تر قبره رسول.

٣ د مړي کورنۍ ته د هرې کلمې په کارولو سره تسلیت ویل لکه: (عَظَّمَ اللهُ أَجْرَك، وأَحْسَن عَزاءَك، وغَفَرَ لِمَيِّتِك). (الله دې تاسو ته لوی اجر درکړي، او تاسو ته دې صبر درکړي او ستاسو مړي ته دې بخښنه وکړي).

٤ د سړیو لپاره هدیرو ته تلل، او دا چې هدیرې ته د ورتللو پر مهال ووایي: (السَّلام عليكُم دارَ قَوْمٍ مُؤمِنِينَ، وإنّا إن شاءَ اللهُ بِكُم لاحِقُونَ، يَرْحَم اللهُ المستَقْدِمِينَ مِنْكُم والمسْتَأخِرِينَ). ژباړه: «سلام دې وي پر تاسو ای د دې کور مؤمنو استوګنو، او اِن شاء الله چې موږ درسره یو ځای کېدونکي یو، الله دې ستاسو پر مخکنیو او وروستنیو رحم وکړي».

٥ څوک چې په کوم مصیبت اخته شي نو (إنّا للهِ وإنّا إليه راجعون) وایي: یعنې (موږ د الله یو او د هغه لورې ته ورګرځیدونکي یو).

جنازه (د جنازې احکام)

په جنازه کې ناروا (عملونه):

۱ د مصیبت پر مهال بې صبري، په چېغو ژړا کول، کالي څیرې کول، په څپېړو مخ وهل او داسې نور کارونه حرام دي.

۲ په قبرونو کېناستل او د پاسه پرې تېریدل حرام دي.

۳ د جنازې د لمانځه پرته د قبرونو تر څنګ لمونځ کول حرام دي.

۴ په جنازه کې غږ پورته کول مکروه دي، حتی که په ذکر او د قرآن کریم په تلاوت هم وي.

۵ پر قبرونو جوماتونه ودانول حرام دي.

پوښتنې

س١ په جنازه کې لمونځ کوونکی له لومړي، دويم، دريم او څلورم تکبير وروسته څه کوي؟

.....

.....

س٢ د لاندې (مسألو) حکم بيان کړه:

أ - مړي ته غسل ورکول

ب - تعزيت:

ج- د قبر سره لمونځ کول.

د - د جنازې سره غږ پورته کول

هـ - مړي ته کفن ورکول.

س٣ په لاندې حالاتو کې څه ويل روا دي؟

أ - هديرې ته د تلو پر مهال: .....

ب- د مړي کورنۍ ته د تعزيت ويلو پر مهال: .....


ج - د مصيبت پر مهال: .....

پوښتنې

س۴ د مصیبت پر مهال د بې صبرۍ ځینې بیلګې ووایه.

.....

.....



شپږم لوست

زکات

حکم يې:

زکات د اسلام له ارکانو څخه دريم رکن او له هغو فرايضو يو فرض دی چې الله تعالی په خپلو بندګانو فرض کړي دي

الله تعالی فرمايلي

﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ﴾ [البقرة: ٤٣].

(او تاسو لمونځ قايموئ او زکات ورکوئ او له رکوع کوونکو سره رکوع کوئ).

او (رسول الله) صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

« الإسلامُ أن تَشْهَدَ أن لا إلـه إلّا الله، وأنَّ محمَّداً رسولُ اللهِ، وتُقِيم الصَّلاةَ، وتُؤتي الزَّكاةَ، وتَصُوم رَمَضان، وتحجّ البَيْتَ إن اسْتَطَعْتَ إليهِ سَبِيلاً ».

«اسلام دا دی چې ګواهي ورکړي پدې چې په حقه د عبادت وړ نشته مګر يوازې الله دی او دا چې محمد د الله رسول دی، لمونځ قائم کړي، زکات ورکړي، د رمضان روژه ونيسي، او د بيت الله حج وکړي که د لارې د ورتلو وسه دې پوره وه».

مسلم في كتاب الإيمان، باب: بيان الإيمان والإسلام والإحسان، کې په (٨) شمیره روایت کړی دی.



زکات

د وجوب شرطونه يې:

۱ اسلام.

۲ نصاب درلودل (معنا يې: په شريعت کې د مال تاکلې اندازه ده چې په درلودلو يې په انسان زکات واجبيږي).

۳ پوره يو کال تېريدل، البته د ځمکې له حاصلاتو پرته، ځکه د هغې زکات د دانو په رسيدو او يا د ميوو په پخېدلو سره واجبيږي.

هغه مالونه چې زکات پکې واجبيږي:

۱ څاروي: (اوښان، غواګانې او پسونه).

۲ د ځمکې حاصلات (دانې او ميوې).

۳ سره زر او سپين زر.

۴ سوداګريز توکي.

آداب يې:

د زکات له آدابو څخه:

۱ چې زکات د الله تعالى د رضا لپاره وباسي.

۲ د زړه له کومې يې وباسي.

۳ چې اړمنو ته يې ورکړي.

۴ پر چا يې احسان ونه کړي.

پوښتنې

س۱ زکات د اسلام له پنځو ارکانو څخه یو رکن دی، له قرآن او سنت څخه يې پر وجوب دلیل ووایه.

.....

.....

س۲ د زکات له آدابو څخه درې آداب وښیه.

.....

.....

س۳ د زکات و جوب شرطونه وښیه.

.....

.....

س۴ نصاب څه معنا؟

.....

.....


لومړی: د څارويو زکات

په بهيمة الأنعام (اوښانو، غواګانو او پسونو کې) په دريو شرطونو زکات واجبيږي:

١ چې له ساتلو څخه يې موخه شېده او د څارويو بچي لاسته راوړل وي او يا د خرڅولو لپاره ساتل کيږي، خو که چېرته د کار لپاره وي لکه قُلبه کول نو بيا پکې زکات نشته.

٢ چې سائمة وي، يعنې د کال ډيرى وخت په خپله څريږي، ځکه که چېرته ورته وابنه (چمتو) کيږي نو زکات پکې نشته.

٣ چې نصاب ته ورسيږي.



ښوونکي ته:


ښوونکی په ګوته کوي چې که څاروي د سوداګرۍ لپاره چمتو شي نو د سوداګريزو توکو په څېر يې زکات ورکول کيږي که څه هم وابنه خوري.

اووم لوست (۱۱)

د څارويو زکات

د څارويو لږترلږه نصاب په لاندې جدول کې بيان شوی دی::

د څاروي نوعيت	ترتولو لږ نصاب	هغه مقدار چې بايد ورکړل شي
اوښان	۵	يو پسه
غوا/غوايي	۳۰	يو کلن (خوسی يا خوسی).
پسونه، ميږې، وزې	۴۰	يو پسه



د ځمکې د حاصلاتو زکات



- دانې پخبدل: چې کله ورسيږي او کلکې شي، په ميوو کې د پخيدو بڼه د دوی ډولونو پورې اړه لري، د بيلګې په توګه، په کجورو کې چې کله سرې او يا زيړې شي، په انګورو کې چې کله خوارې شي.

- کله چې ځيني دانې او ميوې د کال يوه برخه په پيسو خړوبه شي او نوره برخه يې له خواري پرته اوبه شي نو د لسمې درې پر څلورمه برخه زکات پکې کيږي: (۷,۵٪).

د ځمکې حاصلات ډولونه لري لکه:

۱. غلې دانې، لکه: غنم، وربشې، وريجې او جوار.
۲. هغه ميوې چې له خرابيدو پرته د ډير وخت لپاره ساتل کيدای شي، لکه: خرما، ممیز، بادام او پسته.

د ځمکې د حاصلاتو زکات

په غلو دانو او میووکې له شر ایطو سره سم زکات واجبیږي لکه:

١ نصاب ته رسیدل.

٢ دانې کلکیدل او میوې پخیدل.

٣ چې د ساتلو وړ وي، که چېرته نه ساتل کیږي نو زکات پکې نشته لکه مېوې.

د غلو دانو او میوو نصاب:

پنځه وسقه دی. یو وسق شپیته پیمانې دی، نو نصاب درې سوه نبوي پیمانې دي، او د معاصرو معیارونو له مخې شاوخوا ۶۱۲ کیلوګرامه دی

دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول دی:

«له پنځو وسقو څخه په کمه اندازه کې زکات نشته».

بخاري په کتاب الزکاة، باب: زکاة الوَرِق کې په (١٤٤٧) شمیره روایت کړی دی.



د ځمکې د حاصلاتو زکات

په غلو دانو او میووکې د زکات واجبه اندازه:

اوبه خور ته په لیدو غلې دانې او میوې په دوه ډوله ویشل شوي دي:

لومړی ډول يې هغه دي چې له زیار پرته خړوبیږي لکه: د باران او یا چینو په اوبو خړوبیدل.

پدې کې واجبه اندازه عشر (لسمه برخه) ده (۱۰ ٪).

دویم ډول: هغه چې په زیار سره خړوبیږي لکه هغه چې د څاګانو په اوبو د ماشینونو، سپرینلرونو او داسې نورو په واسطه خړوبیږي.

پدې کې د زکات واجب اندازه: د لسمې نیمه برخه ده، یعنې: (۵ ٪).



پوښتنې

س١ په څارويو کې د زکات د وجوب شرطونه وښيه.

- .....
.....

س٢ لاندې عبارتونه بشپړ کړئ:

أ - په پسونو کې د نصاب لږه اندازه ..... پسونه دي چې په هغې کې ..... زکات ورکول کيږي.

ب- د غلو دانو او ميوو د زکات نصاب ..... وسقه دی، دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دی: "..... په کمه اندازه کې زکات نشته."

س٣ د ځمکې د حاصلاتو ډولونه او د هر ډول لپاره يو مثال بيان کړه.

- .....
.....

س۴ لاندې عبارتونه بشپړ کړئ:

أ - د غلو دانو اومیوو نصاب (۳۰۰ پیمانې- ۳۵۰ پیمانې- ۶۰ پیمانې دی).

ب - هغه غلې دانې چې له زیار پرته خړوبیږي په هغې کې: (لسمه، د لسمې نیمه، د لسمې څلورمه) برخه زکات کیږي.

س۵ په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطې اصلاح کړئ:

أ - په اوښانو کې د نصاب لږه اندازه: (پنځه) اوښان دي چې یو پسه پکې کیږي.

ب - د هغه څه ښلکه چې په زیار سره خړوبیږي دا ده چې: په باران او د چینو په اوبو سره خړوب شي.

ج - په میوو کې د زکات د واجبېدو له شرطونو څخه د پوره یو کال تېریدل دي.

د - که چېرته څارویو ته وابنه ورکول کیږي نو زکات پکې نشته.

پوښتنې

س ۶ يو سړی سل سره پسونه لري چې دی يې له يو کال راهيسې خاوند دی، څلويښت يې په دښتو کې څريږي، او شپږتو نورو ته په خپله ځمکه کې وربشې او بوس ورکوي، نو په ده څو پسونه زکات ورکول واجب دي او ولې؟

.....

.....

س ۷ يو سړی د پسونو رمه لري، له تا يې وپوښتل چې څومره زکات پرې کيږي، نو ته ترې بايد کومې پوښتنې وکړې چې سوال يې ځواب کړی شې؟

.....

.....



نهم لوست

دريم: د سرو او سپينو زرو زکات

په سرو او سپينو زرو کې په دوو شرطونو زکات واجبيږي:

١ چې هر يو يې نصاب ته ورسيږي.

٢ د يو بشپړ کال تېريدل

د واجب مقدار اندازه چې ويستل کيږي:

- که چيرته مخکيني دوه شرطونه پوره شوي وي نو په سرو او سپينو زرو کې د لسمې خلورمه برخه زکات ورکول واجب دي چې: د (٢,٥٪) سره مساوي دی.

د سرو او سپينو زرو نصاب او هغه څه چې په معاصرو معيارونو کې ورسره برابر دي

ډول	نصاب	واجب مقدار چې بايد ادا شي د لسمې خلورمه = ٢.٥ ٪
سره زر	٢٠ مثقال د ٨٥ ګرامو سره مساوي کيږي	٠.٥ مثقاله = ٢.١٢٥ ګرامه
سپين زر	٢٠٠ درهمه = ٥٩٥ ګرامه.	٥ درهمه = ٨٧٥/١٤ ګرامه

لسم لوست (١٤)

د سوداګريزو توکو زکات

سوداګريز توکي: له هغو شيانو څخه عبارت دي چې د ګټې په خاطر پېر او پلور ته چمتو کيږي لکه: کالي، موټرونه، د کور اسباب، اوسپنه او داسې نور توکي چې خاوند يې خرڅلاو ته وړاندي کړي وي.

په سوداګريزو توکو کې په دريو شرطونو زکات واجبيږي:

١ چې د توکو قيمت نصاب ته ورسيږي.
٢ چې د تجارت نيت ولري.
٣ يو کال پرې تېر شي.



بنوونکي ته:

د لسې څلورمه برخه، داسې چې ١٠٠ په (٤٠) وويشل شي د لسې څلورمه برخه ترلاسه کيږي چې، ٢.٥ ٪ کيږي.

- د سوداګریزو توکو نصاب د سرو او یا سپینو زرو د نصاب قیمت دی.
  په سوداګریزو مالونو کې د زکات مقدار: د لسمې څلورمه برخه ده، یعنې (۲,۵٪).

مثال:-

- که یو سړی د درې زره ریالو په ارزښت توکر (رختونه) ولري او وغواړي پوه شي چې زکات پرې شته او که نه؟ نو بازار ته ځي او د سپینو زرو د نصاب د ارزښت پوښتنه کوي، ځکه چې د نصاب ارزښت وخت په وخت بدلیږي او دا معلومه ده چې د سپینو زرو نصاب ۵۹۵ ګرامه دی، نو که ورته وویل شي چې د ۵۹۵ ګرامو قیمت ۳۰۰۰ ریال یا لږ دی، نو د توکرونو (رختونو) زکات پرې واجب دی؛ ځکه چې قیمت یې د سپینو زرو د نصاب ارزښت ته رسیږي، او که ورته وویل شي چې د سپینو زرو د نصاب ارزښت ۴۰۰۰ ریال دی نو د توکرونو زکات پرې نشته، ځکه چې (ده سره د ۳۰۰۰ ریالو په ارزښت توکرونه دي) او ارزښت یې د سپینو زرو د نصاب ارزښت ته نه دی رسېدلی.

- کالي، موټر، د کور فرنیچر او داسې نور؛ که مالک یې د استفادې لپاره تیار کړي وي او د سوداګرۍ نیت یې ونه لري نو زکات پرې نشته.

- کورونه، موټرونه او داسې نور که مالک یې د کرایې لپاره چمتو کړي وي او په پیر او پلور سره یې د سوداګرۍ نیت ونه لري، نو زکات پرې نشته.

پوښتنې

س ۱ لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

۱ - په سرو او سپینو زرو کې زکات په دوو شرطونو واجبیږي:
أ- ....
ب- ....

۲- د سرو زرو نصاب ..... مثقاله دی چې له .....
.....ګرامو سره برابریږي.

۳- د سپینو زرو نصاب ..... درهمه دی چې د .....
..... ګرامو سره برابریږي.

٤- د سوداګریزو توکو نصاب: ارزښت یې .....
او د زکات اندازه یې: ..... ده.

س ۲ له سوداګریزو توکو څخه مراد څه شی دی؟ او د زکات د فرضیت شرطونه یې کوم دي؟

- .....
.....

س ۳ که جامې او موټرونه يې خاوند د شخصي استعمال لپاره ولري، نو آيا زکات پکې شته؟

.....

.....

س ۴ عبدالرحمن پنځه ودانۍ جوړې کړې، چې د هرې يوې قيمت يې پنځه سوه زره ريال اټکل کيږي، او کله يې چې آبادي سرته ورسوله، يوه يې د اُستوګنې او بله يې د معاملاتو لارښود (رهنمای معاملات) دفتر د اداري لپاره وټاکله، او درې نورې يې د خرڅلاو لپاره وړاندې کړې، نو آيا په ودانيو کې يې زکات شته، پداسې حال کې چې پر ودانيدو يې له يو کال څخه زيات وخت تېر شوی دی؟

.....

.....

س ۶ احمد له يو کال راهېسې څلور زره ريال لري او په بازار کې د سرو زرو د نصاب قيمت ۳۵۰۰ ريباله دی؟ نو آيا زکات پرې شته؟ او اندازه يې څومره ده؟

.....

.....

یوولسم لوست

په رمضان کې د فطر صدقه (سرسایه)

د رواوالي حکمت:

الله تعالی پر مسلمانانو د رمضان د روژو له بشپړېدو وروسته د فطر صدقه روا کړې ده، چې په دې وخت کې يې مشروعيت ډير حکمتونه لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

١ ځينې نيمګړتياوې چې له روژه دار څخه منځ ته راځي.

٢ د غريبانو او مسکينانو د اړتياوو پوره کول، تر څو له خلکو سره د اختر په خوښيو کې ګډون وکړي.

٣ د روژې د فرضيت په پوره کولو سره د الله تعالی شکر ادا کول.

حکم يې:

د فطر صدقه په هر مسلمان فرض ده؛ نارينه وي که ښځينه، لوی وي او که کوچنی، پدې شرط چې د اختر په شپه او ورځ کې يوه پيمانه او يا له يوې زيات خواړه ولري چې د ده او د کورنۍ له نفقې يې اضافه وي،

دليل يې د ابن عمر رضي الله عنهما وينا ده :

«رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمانانو په غلام او آزاد، نارينه او ښځينه، کوچني او لوی يو صاع خرما، يا يو صاع وربشې د فطر صدقه فرض کړې ده».

بخاري په کتاب الزكاة، باب: فَرض صَدَقَة الفِطْر کې په: (١٥٠٣) شمیره روایت کړی او مسلم په کتاب الزكاة باب: زكاة الفِطْر على المسلِمين مِن التَّمر والشَّعِير کې په (٩٨٤) شمیره روایت کړی دی.

په رمضان کې د فطر صدقه (سرسايه)

اندازه يې:

د کجورو، کشمشو، کرتو، غنمو، وريجو او داسې نورو دوديزو خوراکي توکو څخه يو صاع (پيمانه) ورکول کيږي، او د فطر په صدقه کې د زکات قيمت ورکول جايز نه دي.

د ويستلو وخت يې:

غوره دا ده چې د اختر په ورځ د لمانځه څخه مخکې وويستل شي، او له اختر څخه يوه او يا دوه ورځې مخکې يې ورکول هم روا دي.



پوښتنې

س١ د فطر صدقې په مشروعيت کې څه حکمت دی؟

.....

.....

س٢ د صحيح ځواب لاندې کرښه راکاږئ:

أ- د فطر زکات (سنت - کفايي فرض - واجب) دی.

ب- د فطر د صدقې اندازه (يو صاع - دوه صاعه - څلور صاعه) ده.

ج- غوره ده چې د فطر صدقه (د اختر د لمانځه نه وروسته - د اختر د لمانځه نه يوه ورځ مخکې - د اختر په ورځ د لمانځه نه مخکې) وويستل شي.

س٣ د فطر زکات پر چا واجب دی؟ او له څه شي نه ورکول کيږي؟

.....

.....

دولسم لوست

له زکات سره تړلي احکام

١ له کوم عذر پرته زکات باید سم د لاسه وویستل شي، او د زکات ورکولو وخت:
أ- د حیواناتو، سرو او سپینو زرو او سوداګریزو توکو لپاره یو کال تېریدل دي.
ب- د غلو دانو او میوو لپاره د زکات وخت د فصل رسیدل او راټولول دي.

دلیل یې د الله تعالی قول دی چې فرمایي:

﴿وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ﴾ [الأنعام سورت: ١٤١ ایت].

ژباړه: (او د هغهٔ حق (عشر، زکات) د ربېلو په ورځ ورکړئ)

٢ څوک چې په داسې حال کې له زکات ورکولو انکار وکړي چې له فرضیت څخه یې منکر وي کافر دی، او که د بخل له امله یې له ورکولو انکار وکړ خو له وجوب څخه یې منکر نه و نو په زوره ترې اخیستل کیږي، او د نه ورکولو له امله سزا ورکول کیږي.

٣ غوره دا ده چې زکات په هغه هیواد کې وویشل شي چې مال پکې دی، خو د شرعي مصلحت لپاره یې په بل هیواد کې ویشل هم روا دي لکه چې: د بل هیواد خلک د هغه هیواد په پرتله زیات اړمن وي چې مال پکې دی.

پوښتنې

س١ لاندې جملې بشپړې کړئ:

١ - له کوم .....پرته بايد زکات .....وويستل شي.

٢ - د زکات ويستلو وخت:

أ- د حيواناتو،.....،..... لپاره يو کال تېريدل دي.

ب- د .....او ميوو لپاره د زکات وخت د..... او .....دي.

دليل يې د الله تعالى دا قول دى: ﴿ ..... ﴾.

س٢ د لاندې (مسألو) حکم بيان کړئ:

١ - څوک چې له دې امله له زکات ورکولو ډډه کوي چې له فرضيت څخه يې منکر وي.

٢ - څوک چې د بخل له امله زکات نه ورکوي خو له فرضيت څخه يې منکر نه وي.

٣- په يو بل هېواد کې زکات ويشل چې پيسې پکې نه وي.

دیارلسم لوست

د زکات مستحق خلک

اته ډوله خلک دي چې زکات ورکول کیږي، دوی د

الله تعالی پدې وینا کې ذکر شوي دي:

﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾[التَّوبة سورت: ٦٠ ایت].

(بېشکه همدا خبره ده چې صدقې (زکاتونه) یوازې د فقیرانو او مسکینانو او هغو کسانو لپاره دي چې پر دغو باندې عامل (راټولوونکي) مقرر وي او د هغو لپاره دي د چا په زړونو کې چې الفت (مینه او اسلام ته رغبت) اچولی شي او په (ازادولو د) څټونو (د مریانو مکاتبانو) کې (لګول کیږي) او تاوان موندونکو (قرضدارانو) لپاره دي او د الله په لار کې او د مسافرو لپاره (به صرف کولی شي) دغه مقرره فریضه ده د الله له جانبه او الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی).

د دوی تشریح په لاندې ډول ده:

١ - فقیران، هغه خلک دي چې دومره څه نه لري چې بسنه ورته کوي.

٢ - مسکینان، دوی هم هغه خلک دي چې دومره څه نه لري چې بسنه ورته کوي، خو له فقیرانو څخه یې حال یو څه ښه وي.

٣ - په زکات راټولولو ګمارل شوي، هغه خلک چې له خلکو زکات راټولوي، ساتنه یې کوي او بیا یې په ارمنو خلکو ویشي، پدې شرط چې د دولت له طرفه پدې کار معاش اخیستونکي نه وي.

د زکات مستحق خلک

د دوی تشریح په لاندې ډول ده:

۴ - هغه خلک چې د زړونو د ساتلو په موخه يې زکات ورکول کيږي، دا هغه مشران دي چې په خپلو قومونو کې يې پيروي کيږي نو د دوی د مسلمانېدو، يا يې د شر د مخنيوي او يا يې د ايمان د پياوړې کولو لپاره زکات ورکول کيږي.

۵ - مريان چې دوی ته مکاتب هم ويل کيږي، هغه غلام يا مريی چې خپل ځان له خپل بادار څخه واخلي، همدا رنګه مسلمان بندي، چې په زکات سره له بنده خلاصيږي.

۶- پوروړی، هغه څوک دی چې د خلکو د پخلاينې لپاره يې پور اخيستی وي، يا داسې پوروړی چې خپل پور نه شي خلاصولی.

۷- د الله په لاره کې، دوی هغه جنګيالي دي چې د الله په لاره کې جنګيږي او معاش نه لري.

۸- مسافر، هغه مسافر دی چې د لارې توښه ورسره خلاصه شوې ده.



نفلي صدقه

خوارلسم لوست

- د مسلمان لپاره مستحب ده چې زياته صدقه ورکړي او په مختلفو خيريه کارونو کې لګښت وکړي، او خپل ځان په سخاوت عادت کړي او بخل ونه کړي، ځکه په دې کې د الله تعالى له لوري لوى اجر دى

الله تعالى فرمايي:

﴿مَّن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً﴾

ژباړه: (څوك دى هغه كس چې الله ته قرض وركوي، قرضِ حسنه، نو هغه (الله) به د هغه لپاره دا (قرض) زيات كړي په ډېرو زياتولو سره).[البقرة سورت: ٢٥٤ ايت].

اورسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

ژباړه: «له اور څخه ځان وژغورئ، كه څه هم د خرما په يوه برخه وي، كه څوك يې نشي موندلى نو په نيكه وينا سره».

مسلم په كتاب الزكاة، باب: الحثّ على الصَّدَقَة ولو بِشِقّ تمرَةٍ أو كَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ، وأنها حِجابٌ مِن النّارِ كې په (١٠١٦) شميره روايت كړى دى.



نفلي صدقه

اورسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

ژباړه: «هيڅ داسي ورځ نشته چې بنده ګان پکې سهار کړي مګر دا چې دوه ملايکې راښکته کيږي، يوه يې وايي چې: اې الله هغه چاته د ورکړې بدله ورکړه چې (په نورو) انفاق او لګښت کوي او بله يې وايي: اې الله! د هغه چا مال برباد کړه چې له نورو يې سپموي».مسلم په کتاب الزكاة، باب: في المُنْفِق والمُمْسِك کې په [۱۰۱۰] شمیره روایت کړی دی.


صدقه په ټولو وختونو کې مستحب ده، او په لاندې مواردو کې ډېره صدقه ورکول غوره دي:

١ غوره وختونه لکه د رمضان مياشت.

٢ په غوره ځايونو کې لکه: حرمين شريفين.

٣ د اړتيا او حاجت په وختونو کې.

٤ پر اړمنو خپلوانو.



پوښتنې

س١ د هغو خلکو ډولونه وښیئ چې زکات ورکول کیږي.

- .....
.....

س٢ په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطې اصلاح کړئ.

١ - زکات هغه چاته ورکول کیږي چې د الله په لار کې جهاد کوي.

٢ - زکات هغه چاته ورکول کیږي چې زکات راټولوي.

٣ - مسلمان بندي د زکات په پیسو راخلاصیږي.

٤- خپلوانو ته صدقه ورکول مستحب دي.

س٣ تش ځایونه ډک کړئ:

١ - زکات راټولوونکو ته په زکات ورکولو کې شرط دا دی چې: .....
.....

٢- هغو مشرانو ته چې اطاعت یې کیږي پدې هیله زکات ورکول کیږي چې .....
..... او ..... او .....

۳- مسافر هغه څوک دی چې: ....

س۴ د صدقې په فضیلت یو دلیل له قرآن او بل له حدیث څخه وړاندې کړه؟

.....

.....

.....

.....

س۵ په ځینو حالاتو کې زیاته صدقه ورکول مستحب دي لکه:

۱- .....

۲- .....

۳- .....

۴- .....

پنځلسم لوست

روژه

د روژې تعريف:

روژه: د الله تعالی د عبادت په نيت د لمرختو څخه تر لمر پرېوتو پورې د ټولو هغو شيانو څخه ډډه کول دي چې روژه ماتوي.

حکم يې:

د رمضان روژه د اسلام له پنځو رکنونو څخه يو رکن او د الله تعالی لخوا پر بندګانو يوه فريضه ده.

دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾(البقرة سورت: ۱۸۳ ايت) آيت.

ژباړه: [اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! پر تاسو روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقيان شئ].

او د كُتِبَ معنا ده: فرض کړی شوې

او د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول:

ژباړه: «اسلام په پنځو شيانو ولاړ دی: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته او دا چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله رسول او بنده دی، لمونځ کول، زکات ورکول، د بيت الله حج او د رمضان روژه نيول».

بُخارِي په كتاب الإيمان، باب: دعاؤكم إيمانكم كې په [۸] شمېره او مسلم په كتاب الإيمان، باب :بيان أركان الإسلام ودعائمه العِظام كې په [۱٦] شمېره روايت کړی او دا الفاظ د همده دي.

پنځلسم لوست

روژه

- روژه د هجرت په دويم کال فرض شوې ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم نهه رمضانه روژه نېولې ده.

شرطونه يې:

د رمضان د مياشتې روژه نيول څلورشرطونه لري چې په لاندې ډول دي:

١ اسلام، نو په کافر روژه فرض نده.

٢ بلوغ، نو په کوچني روژه فرض نده.

٣ عقل، نو په ليوني فرض نده.

٤ د روژې نيولو توان، نو پر عاجز سړي واجب نده.

مياشت په څه شي داخليږي:

د رمضان مياشت په دوو کارونو داخليږي:

١ د رمضان مياشت ليدل، دليل يې

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول دی:

ژباړه: "د مياشتې په ليدلو روژه ونيسئ، او د مياشتې په ليدلو سره يې ماته کړئ".

بخاري په کتاب الصَّوم، باب: قَوْل النَّبيِّ صلی الله علیه وسلم :" إذا رَأَيْتُم الهلالَ فَصُوموا " کې روايت کړی او الفاظ د همده دي. او مسلم په کتاب الصِّيام، باب: وُجوب صَوْمِ رَمَضان لِرُؤْيَة الهلالِ والفِطْر لِرؤيَةِ الهلالِ کې په (١٠٨١) شميره روايت کړی.

روژه

مياشت په څه شي داخليږي:

٢ که چيرته مياشت ونه ليدل شي نو د شعبان د مياشتې دېرش ورځې پوره کيږي

دليل پي د رسول الله صلى الله عليه وسلم قول دى چې فرمايي:

ژباړه: «که مياشت درځخه (د وړېځو) له امله پټه شوه نو د شعبان د مياشتې دېرش ورځې پوره کړئ».

په روژه کې نيت:

- په فرض روژه کې د روژې د صحت لپاره د شپې نه د روژې نيت شرط دى، لکه: د رمضان روژه، د فرض روژې قضا راوړل، او نذر روژه.

- د نفلي روژو په اړه لکه د دوشنبې، پنجشنبې او أيام البيض (دياارلسم، خوارلسم او پنځلسم) روژې، نو د دې روژو لپاره د شپې لخوا نيت شرط نه دى، که چېرته يې د ورځې د روژې نيولو نيت وکړ؛ روژه يې صحيح ده، پدې شرط چې له سهار نه وروسته يې روژه ماته کړې نه وي.

پوښتنې

س١ روژه تعريف کړه.

- .....
.....

س٢ د رمضان د روژې د فرضيت دليل ووايه.

- .....
.....

س٣ د لاندې هرې فقرې لپاره سم ځواب غوره کړئ:

أ- رسول الله صلى الله عليه وسلم (نهه رمضانه - لس رمضانه - اووه رمضانه) روژه نيولې ده.

ب - د رمضان روژه د نبوي هجرت په (دويم کال - څلورم کال - نهم کال) فرض شوې ده.

ج - د رمضان د روژې له شرطونو څخه يو (کال تېريدل - عقل - تميز) دی.

د - د رمضان مياشت (د شوال د مياشتې په دېرش پوره کېدو - د شعبان د مياشتې په ديرش پوره کېدو - د شعبان د مياشتې په نهه ويشت پوره کېدو) سره ثابتيږي.

پوښتنې

س۴ د روژې مياشت د دوو شيانو څخه په يوه سره پيليږي، له دليل سره يې وښيئ.

- .....
.....

س۵ د لاندې مسألو حکم بيان کړئ:

أ - د شپې لخوا د روژې نيت کول.

ب - د نفلي روژې لپاره د ورځې لخوا نيت کول.

س۶ د فرضي او نفلي روژو لپاره مثالونه ووايه.

- .....
.....



د رمضان د روژې له احکامو څخه

په رمضان کې چاته روژه ماتول روا دي:

اسلام د اسانتیا او مهربانۍ له مخې شرعي عذر درلودونکو ته روژه ماتول روا کړي دي لکه:

١ ناروغ.

٢ مسافر.

نو هغه ناروغ، چې روژه نیول ورته سخت وي، همدا رنګه مسافر ته په رمضان کې روژه ماتول روا دي، او قضا راوړل پرې شته

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾

[البقرة سورت: ١٨٤ ایت].

ژباړه: (نو څوک چې په تاسو کې مریض یا په سفر وي، (په هغه) د نورو ورځو شمېرل دي).

٣ څوک چې د زیات عمر یا ناروغۍ له امله چې د روغتیا هیله مندي یې نه وي روژه نشي نیولی، نو هغه روژه ماتوي، او د هرې ورځې په بدل کې یو مسکین ته خواړه ورکوي

دلیل یې د الله پاک دا قول دی:

﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ [البقرة سورت: ١٨٤ ایت].

ژباړه: (او په هغو کسانو چې د دې (روژې) طاقت لري، د یو مسکین خوراک فدیه لازم ده).

د رمضان د روژې له احکامو څخه

د روژې قضا راوړل:

- څوک چې د رمضان په ورځ کې روژه ماته کړي، په نورو ورځو کې پرې قضا راوړل واجب دي مګر په هغه حالت کې چې زیات بوډا وي یا ناهیلي ناروغي ولري، په داسې حالتونو کې پرې یوازې کفاره ورکول واجب دي.

- مستحب دي چې د روژې په قضاء راوړلو کې بیړه وشي او پرله پسې روژې ونیول شي، خو په جلا جلا ورځو کې یې نیول هم روا دي.

- هغه کس ته چې روژه یې ماته کړې وي، د راتلونکي رمضان نه مخکې وخت پورې د روژې قضایي ځنډول روا دي، که چېرته یې د کوم عذر له امله تر راتلونکي رمضان پورې ځنډولې وه نو ګناهګار نه دی او یوازې باید قضایي راوړي، خو که له عذر پرته یې ځنډولې وه نو حرام کار یې کړی دی چې باید توبه وباسي او د هغو ورځو قضایي راوړي، او د هرې ورځې په سر باید یو مسکین ته خواړه هم ورکړي.



د رمضان د روژې له احکامو څخه

د روژې ماتوونکي:

۱ په رمضان کې په قصدي ډول د ورځې لخوا خوړل یا څښل، خو که څوک په هېره یا جبر سره څه وخوري یا وڅښي، نو روژه یې نه فاسدېږي.

۲ په ښکر لګولو (حجامت) سره وینه ویستل [۲۰]، یا ډیره وینه په کش کولو سره ویستل روژه فاسدوي، خو که لږه وي په روژه اغېز نه لري، د بېلګې په توګه: پوزه وینې کېدل، غاښ ویستل، زخمي کېدل او یا وینه معاینه کول.

حجامت: په ځانګړې وسیلې او طریقې سره له بدن څخه وینې ویستلو ته حجامت وایي.

۳ په قصدي توګه قی کول؛ له معدې څخه د خولې له لارې بېرته د خوراک یا څښاک راویستل، خو که په قصدي توګه نه وي په روژې اغېز نه لري.

۴ د خولې یا بلې لارې بدن ته یو څه داخلول، لکه: د تغذیې ستن، او روژه دار ته وینه خېږول.

چا چې لدې فاسدوونکو څخه یو هم وکړ روژه یې فاسده شوې ده، نو که روژه یې فرضي وه قضا راوړل پرې واجب دي.



د رمضان د روژې له احکامو څخه

- که یو څوک دې ولېدہ چې د رمضان په روژه کې د ورځې په ناپامۍ سره خوراک یا څښاک کوي نو ورياد کړه چې روژه دی، او مه يې پرېږده چې خوراک او څښاک ته ادامه ورکړي،

دلیل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ (المائده سورت: ۲ ایت)

ژباړه: (او تاسو له یو بل سره په نیکۍ او پرهېزګارۍ کې مرسته کوئ او د ګناه او ظلم په کار کې د یو بل سره مرسته مه کوئ).

- د روژه دار لپاره خولې او پوزې ته په اوبو اچولو کې مبالغه کول مکروه دي، د دې لپاره چې اوبه يې تېرې نه شي.



پوښتنې

س١ هغه کسان وښيئ چې په رمضان کې ورته روژه خوړل روا دي؟

.....

.....

س٢ لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

أ- کیدای شي یو څوک د ..... او یا .....
..... له امله د روژې نیولو توان و نه لري.

ب- د هغه ناروغ لپاره روژه خوړل روا دي چې .....
.....

ج- چاچې د عذر له امله روژه وخوړه نو پر هغه ..... واجب دي.

س٣ د روژې درې فاسدوونکي وښیه.

.....

.....

پوښتنې

س۴ په (√) او (×) سره ځواب ورکړئ او غلطي اصلاح کړئ:

أ- که څوک په هېره سره خوراک يا څښاک وکړي، روژه يې فاسدېږي.

ب- که له روژه دار څخه ډيره وينه وويستل شي روژه يې فاسديږي.

ج- د روژه دار لپاره خولې او پوزې ته په اوبو اچولو کې مبالغه روا ده.

د- که بې اختياره در څخه استفراق وشو روژه دې ماته شوه.

س۵ له صحيح ځواب څخه کړی تاوه کړئ:

أ- که څوک په هېره سره خوراک يا څښاک وکړي، روژه يې فاسدېږي.

۱ - پريږده چې خوراک يا څښاک وکړي، ځکه چې الله تعالى خواړه او څښاک ورکړي دي.

۲ - ور په ياد کړه چې روژه دی.

۳- پام ورته نه کوم.

ب- خولې او پوزې ته په اوبو اچولو کې مبالغه کول مکروه دي:

۱ - په هر اودس کې.

۲ - د جنابت په غسل کې.

۳ - په روژه کې.

اوولسم لوست

د روژې آداب

● د روژې په میاشت کې ځینې واجب او ځینې نور مستحب آداب شته چې روژه نیوونکی یې باید مراعات کړي لکه:

۱- په روژه دار او نورو انسانانو واجب دي چې له دروغو، غیبت، چغلخورۍ او کنځلو څخه ډډه وکړي

دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم قول دی چې فرمایي:

ژباړه: «څوک چې درواغ ویل، عمل پرې کول او جهالت نه پریږدي، نو الله تعالی یې خوراک او څښاک پرېښودلو ته اړتیا نه لري».

بخاري په کتاب الأدب، باب: قول الله تعالى: (وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ) کې په (٦٠٥٧) شمیره روایت کړی او الفاظ د همده دي، او أبو داود په کتاب الصوم، باب: الغِيبَة لِلصّائم کې په (٢٣٦٢) کې روایت کړی اوترمِذي په کتاب الصَّوم، باب: ما جاء في التَّشدِيد في الغِيبَة لِلصّائم کې په (٧٠٧) شمیره روایت کړی دی.

۲ - د روژه دار لپاره لاندې کارونه مستحب دي:

أ- د ډول ډول عبادتونو زیاتوالی لکه: د قرآن کریم تلاوت، د الله تعالی ذکر، د خیر په لارو کې لګښت او د تراویحو لمونځ.



د روژې آداب

ب - که څوک ورته کنځلې وکړي نو ووايي:(إنّي امرؤٌ صائِمٌ)(٢٢). «زه روژه يم».
بخاري په کتاب الصَّوم، باب: هل يقول: إنّي صائِم إذا شُتِم کې په [١٩٠٤] شميره روايت کړی دی: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :" فإن سابَّه أَحَدُ أو قاتَلَه فَلْيَقُل: إنّي امرؤٌ صائِمٌ ".

ج- پېښلمی وروسته کول او په روژه ماتي کې بېړه کول.

د - چې په رطب (تازه کجورو) روژه ماته کړي، که يې ونه موندلې نو په عامو کجورو دې ماته کړي، که يې ونه موندلې نو په اوبو دې ماته کړي.

هـ- چې د روژه ماتي پرمهال دعا وکړي، ځکه روژه دار داسې دعا لري چې الله تعالى يې نه ردوي لکه چې ووايي:

ژباړه: «تنده لاړه، رګونه لامده شول او ان شاء الله چې اجر (د الله تعالى) سره يقيني شو».
أبو داود په کتاب الصّوم، باب: القول عند الإفطار کې په [٢٣٥٧] شميره د ابن عمر رضي الله عنهما له حديث څخه روايت کړی دی.

* مسلمان ته په کار دي چې الله تعالى ته په طاعتونو سره د نږدې کېدو لپاره له رمضان څخه ګټه پورته کړي، د بېلګې په توګه په دې مياشت کې د قرآن کريم زيات تلاوت وکړي، د مسلمانانو سره په تراويحو لمونځ ادا کولو پابندي وکړي، عمره وکړي، او په داسې کوم کارترې ځان مشغول نه کړي چې په دين او دنيا کې يې ورته هيڅ ګټه نه لري.

پوښتنې

س۱ د غيبت او چغلۍ حکم څه شی دی؟

.....

.....

س۲ روژه يوازې خوراک او څښاک پرېښودل نه دي، دليل يې څه شی دی؟

.....

.....

س۳ درې نېک عملونه وښيه چې د رمضان په مياشت کې يې زيات کول په کار دي؟

.....

.....

س۴ روژه دار به څه وايي چې:

أ - کله ورته څوک ښکنځل وکړي: .....

ب - د روژماتې پر مهال .....

پوښتنې

س٥ په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطي اصلاح کړئ:

أ - په پېشلمي کې بېړه کول او روژه ماتی وروسته کول مستحب دي.

ب- د روژه دار لپاره په رطب روژه ماتول مستحب دي.

س٦ روژه دار به څه وايي چې:

أ - کله ورته څوک ښکنځل وکړي: .....

ب - د روژماتې پر مهال .....

اتلسم لوست (٢٤)

نفلي روژه

- **زياتې نفلي روژې نيول سنت عمل دی اولوی اجر او فضيلت لري، د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنت په ټاکلو ورځو کې روژو نيولو ته هڅونه کوي، لکه:**

١ يوه ورځ روژه نيول او بله ورځ بوزه کېدل، غوره نفلي روژه ده.

٢ له هرې مياشتې درې ورځې روژه نيول او غوره دا ده چې أيام البيض ديارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه (١٣،١٤،١٥) ورځې وي.
أيام البيض ورته ځکه ويل کيږي چې پدې شپو کې سپوږمۍ روښانه وي.

٣ د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ روژه نيول.

٤ د شوال د مياشتې شپږ ورځې روژې نيول.

٥ د عاشورا د ورځې روژه نيول، چې د محرم د مياشتې لسمه ده. له هغې څخه يوه ورځ مخکې يا يوه ورځ وروسته روژه نيول سنت دي.

٦ د عرفې د ورځې روژه د غير حاجيانو لپاره.

د دې ورځو په روژو نيولو دا حديثونه دلالت کوي لکه: د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: " أَحَبّ الصِّيَامِ إلى اللهِ تعالى صِيام داوُد، كان يَصُومُ يَوْماً، ويُفْطِر يَوْماً ". «الله تعالى ته تر ټولو خوښه روژه د داود عليه السلام روژه ده؛ هغه به يوه ورځ روژه او بله ورځ بوزه و». بخاري په (١٩٧٩) شمېره، او مسلم په (١١٥٩) شمېره روايت کړی دی. او له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي:" أوصاني خليلي صلى الله عليه وسلم بِثَلاثٍ: صِيام ثَلاثَة أيّام مِن كلِّ شَهْرٍ، وركعَتي الضُّحى، وأن أُوتِرَ قبل أن أنامَ " «ماته مې محبوب په درېو شيانو وصيت کړی دی: له هرې مياشتې درې ورځې روژه نيول، د څاښت دوه رکعته لمونځ کول، او دا چې له ويده کېدو وړاندې وتر وکړم». بخاري په (١٩٨١) او مسلم په (٧٢١) شمېرو روايت کړی دی. له أسامة بن زيد رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: ما وويل: ای د الله رسوله، ته دومره روژه کيږې تر دې چې نږدې ده هيڅ بوزه نه شې، او بوزه کيږې تر دې چې نږدې ده هيڅ روژه نه شې، پرته له دوو ورځو مګر دا چې ستا په روژو کې راشي، که نه هغه دوه هم روژه کيږې، هغه وفرمايل: کومې دوه ورځې؟ ما وويل: دوشنبه او پنجشنه، هغه وفرمايل:" ذانِك يَوْمان تُعْرَض فيهِما الأعمال على ربّ العالَمِين، فأُحِبّ أن يُعْرَضَ عَمَلِي وأنا صائِمٌ ". «دا دوه هغه ورځې دي چې الله رب العالمين ته پکې عملونه وړاندې کيږي، نو زه غوره ګڼم عمل مې په داسې حال کې وړاندې شي چې زه روژه يم». نسائي په خپل سنن کې په (٢٣٥٨) شمېره روايت کړی دی.

له أبو أيوب الأنصاري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:" مَن صامَ رَمَضان، ثمّ أتْبَعَه سِتّاً مِن شَوال، كان كَصِيامِ الدَّهْرِ". «چا چې د رمضان مياشت روژه ونيوله، بيا يې ورپسې د شوال شپږ روژې ونيولې، نو داسې شوه لکه ټول عمر چې روژه وي». مسلم په (١١٦٤) شمېره روايت کړی. له أبو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:" صِيام يَوْمِ عَرَفَة أحتَسِب على اللهِ أن يُكَفِّرَ السَّنَة التي قَبْلَه والسَّنَة التي بَعْدَه، وصِيام يوم عاشوراء أحتَسِب على اللهِ أن يُكَفِّر السَّنَةَ التي قَبْلَه)". «د عرفې د ورځې په روژه تمه لرم چې الله تعالى به پرې يو کال مخکېنې او يو کال وروستني ګناهونه وبخښي، او د عاشورا د ورځې په روژه تمه لرم چې الله تعالى به پرې د يو کال مخکېنې ګناهونه وبښي». مسلم په (١١٦٢) شمېره روايت کړی دی.

پوښتنې

س١ لومړۍ پوښتنه: هغه ورځې وښيئ چې روژه نيول پکې مستحب دي.

- .....
.....

س٢ بشپړ کړئ:

١ - تر ټولو غوره روژه : .....

٢ - أيام البيض هغو ورځو ته ويل کيږي چې: .....



نولسم لوست

حج او عمره

د حج حکم:

حج د اسلام یورکن اود الله تعالی له فرضونو څخه یو فرض دی چې پر مسلمانانو يې فرض کړی دی

الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾[آل عمران سورت: ۹۷ ایت].

ژباړه: (او د الله لپاره پر خلکو د دې کور حج (لازم) دی، څوك چې هغه ته د لارې وس پیدا کړي).

له سنت څه يې دليل د جبرائيل عليه السلام حديث دی چې له عمر بن الخطاب رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې هغه وفرمايل: ای محمده! صلی الله عليه وسلم ما ته د اسلام په اړه خبر راکړه، هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

ژباړه: «اسلام هغه دی چې ګواهي ورکړي پدې چې په حقه د عبادت وړ نشته مګر يوازې الله دی او دا چې محمد د الله رسول دی، لمونځ قائم کړي او زکات ورکړي، د رمضان روژه ونيسي، او د بيت الله حج وکړي که له وسې دې پوره وه».

مسلم په کتاب الإيمان، باب: بيان الإيمان والإسلام والإحسان، کې په [۱] شمیره روايت کړی دی.

- **عمره په ژوند کې يو ځل واجب ده.**
- **حج د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د هجرت په نهم کال فرض شوی او رسول الله صلی الله عليه وسلم يو حج کړی چې هغه حجة الوداع دی.**

حج او عمره

د عمرې حکم:

عمره په عمر کې یو ځل واجب ده.

د حج او عمرې د وجوب شرطونه:

۱ اسلام، نو په کافر حج واجب نه دی.
۲ عقل، په لیونې حج فرض نه دی.
۳ بلوغ، په نابالغ باندې واجب ندي.
۴ وړتیا، چې خوراکي توکي او سپرلۍ ومومي، او د مکې لاره خوندي وي، او د ښځې لپاره د محرم شتون [۲۷].

- د ښځې محرم د هغې میړه یا هغه څوک دی چې د خپلوی له امله یې ورسره نکاح نه کیږي، لکه پلار، زوی، ماما، او داسې نور، یا د رضاعت له امله یې ورسره نکاح نه کیږي لکه: رضاعي ورور.



پوښتنې

س١ حج د الله تعالی لخوا پر مسلمانانو فرض شوی عمل دی، له قرآن او سنت څخه يې دليل ذکر کړئ؟

.....

.....

س٢ صحيح ځواب غوره کړئ او کرښه تري لاندې کش کړئ:

أ- حج د هجرت په (نهم - لسم - دويم) کال فرض شوی دی.

ب- حج (په هر کال - په عمر کې دوه ځلې- په عمر کې يو ځل) واجب دی.

ج- عمره (په کال کې يو ځل - په ټول عمر کې دوه ځلې - په ټول عمر کې يو ځل) واجب ده.

س٣ د حج او عمرې د فرضيت شرطونه وښيئ؟

.....

.....

شلم لوست

د حج او عمرې میقاتونه

● میقاتونه په دوه ډوله دي: **زماني میقاتونه** او **مکاني میقاتونه**.

اول: زماني میقاتونه:

د حج زماني میقاتونه د حج میاشتې دي او په لاندې ډول دي:

١ د شوال میاشت.
٢ د ذوالقعدې میاشت.
٣ د ذوالحجې لس ورځې.

او د عمرې لپاره ټاکلی وخت نشته، بلکې د کال په هر وخت کې کیږي.

دویم: مکاني میقاتونه:

دا هغه ځایونه دي چې مسلمانان ترې د حج او عمرې لپاره احرام تړي او په لاندې ډول دي:

١ ذو الحليفة چې اوس ورته (أبيار علي) ویل کیږي او د مدینې د خلکو میقات دی.
٢ قرن المنازل چې اوس ورته (السیل الکبیر) ویل کیږي، دا د نجد او طائف د خلکو میقات دی.
٣ جحفة، د شام، مصر او المغرب د خلکو میقات دی، خو اوس خلک له (رابغ) څخه احرام تړي.
٤ یلملم، چې اوس ورته السعدیة ویل کیږي، دا د یمن د خلکو میقات دی.
٥ ذات عرق، چې د عراق د خلکو میقات دی او اوس ورته الضریبة ویل کیږي.

د حج او عمرې مېقاتونه

- دا مېقاتونه دي، نو څوک چې د حج يا عمرې اراده ولري هغه ته روا ندي چې له احرام پرته تري تېر شي.
- لدې مېقاتونو څخه يې اوسيدونکي احرام کوي چې يادونه يې وشوه او هغه خلک چې له دوې پرته پرې تيريږي او د حج او يا عمرې اراده ولري.
- د چا کور چې د مکې او د دې مېقاتونو تر منځ وي، نو هغه به له خپل ځای څخه احرام کوي.
- د مکې خلک د حج لپاره له مکې څخه احرام تړي او د عمرې لپاره د حرم له حدودو څخه د باندې ځای نه لکه: تنعيم او جعرانه.
- د چا لار چې پدې مېقاتونو نه وي، نو کله چې له دې څخه يو ته نږدې د مېقات له برید څخه تيريږي بايد احرام وتړي.

دليل يې د ابن عباس رضي الله عنهما حديث
دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم

د مدينې د خلکو لپاره ذوالحليفة، او د شام د خلکو لپاره جحفه او د نجد د خلکو لپاره قرن المنازل او د يمن د خلکو لپاره يلملم تاکلي دي، دا يې د استوګنو او هر هغه چا لپاره مېقاتونه دي چې پرې تيريږي او د حج يا عمرې اراده ولري. او څوک چې له دې څخه نږدې (د مېقات دننه وي)، نو له کوم ځای نه چې وي همغه يې مېقات دی، آن د مکې خلک به له مکې څخه احرام تړي.

بخاري په کتاب الحجّ، باب: مَهِلّ أهلِ اليَمَن کې په (١٥٣٠) شمېره او مسلم په کتاب الحجّ، باب: مَواقِيت الحجّ کې په (١١٨١) شمېره روايت کړی دی.

پوښتنې

س۱ د حج زماني مېقاتونه وښيه.

.....

.....

س۲ درې نېک عملونه وښيه چې د رمضان په مياشت کې يې زيات کول په کار دي؟

.....

.....



پوښتنې

س۵ د مکې خلک د حج او عمرې لپاره له کوم ځای نه احرام تړي؟ دلیل یې ذکر کړئ.

.....

.....

.....

.....


س۶ د جدې خلک د حج او عمرې لپاره له کوم ځای نه احرام تړي؟ دلیل یې ذکر کړئ.

.....

.....

.....

.....



احرام

احرام:

په مناسکو کې د نیت داخلیدو ته وایي.

نسک:

د حج او یا عمرې اعمالو ته وایي



د احرام حکم:

د حج او عمرې له ارکانو څخه یو رکن دی، نو چا چې د حج او یا عمرې اراده وکړه، له میقات څخه پرې احرام تړل واجب دي.

د استوګنې معنا :

- د احرام معنا: (د حج او عمرې) په مناسکو کې د داخلیدو نیت دی. او معنا یې د احرام لباس اغوستل نه دي لکه څنګه چې د ډیرې خلکو باور دی، یوازې پدې سړی په احرام کې نه داخلیږي چې کنډل شوې جامې لرې کړي او په مناسکو د داخلیدو له نیت پرته د احرام لباس واغوندي.
- ښوونکی له خادر او لنګ څخه موخه تشریح کوي، او په عملي توګه د احرام طریقه تشریح کوي.

احرام

د احرام له مستحباتو څخه:

څوک چې د حج يا عمرې اراده لري نو لاندې کارونه ورته مستحب دي:

١ غسل کول او پاکوالی.

٢ په بدن خوش بويي لګول نه په لباس.

٣ د سړي لپاره دوه سپين پاک څادر او لنګ اغوستل دي او د ښځې لپاره چې هر څه وغواړي په احرام کې اغوستلی شي، خو چې د سړيو د لباس سره ورته والی ونه لري.

د احرام طريقه:

- ګنډلې جامې لرې کوي او د احرام لباس اغوندي، بيا چې له حج او عمرې څخه په هرو مناسکو کې د داخليدو نيت لري داخليږي، نو که د حج اراده يې درلوده: (لَبَيْك حَجّاً) وايي او که د عمرې اراده يې درلوده (لَبَيْك عُمْرَة) وايي.

- بيا په تلبيې ويلو پيل کوي: (لَبَيْك اللَّهُمَّ لَبَيْك، لَبَيْك لا شَرِيكَ لك لَبَيْك، إنَّ الحمدَ والنِّعمَة لك والمُلْك، لا شَرِيك لك)، د تلبيې زيات لوستل مستحب دي، چې نارينه به يې په لوړ او ښځينه به ټيت غږ وايي.

پوښتنې

س۱ د احرام څخه مراد څه دی؟

.....

.....

س۲ له میقات څخه د احرام تړلو حکم څه دی؟

.....

.....

س۳ د هغه چا لپاره چې غواړي د حج یا عمرې لپاره احرام وتړي ځینې سپار ښتنې شته، یادونه یې وکړه.

.....

.....

س۴ هغه څوک باید څنګه احرام وکړي چې غواړي حج وکړي؟

.....

.....

س۵ د تلبيې (ويلو) طريقه څنګه ده؟

- .....
.....

س۶ په تلبيه کې څه شی مستحب دی؟

- .....
.....



دوه ويشتم لوست


د احرام ممانعتونه او د هغوی فديه

- کله چې مسلمان د حج يا عمرې لپاره احرام وکړي، نو ځينې کارونه پرې حرامېږي چې د (احرام ممانعتونه) ورته وايي، او که چا ترې کوم شی قصدي وکړ، پر هغه فديه لازمېږي.

- ځينې دا ممانعتونه او که چا ترې کوم څه وکړل په لاندې ډول يې فديه بيانېږي:

ممانعت

١ ويښتان خريل
٢ نوکان پرې کول
٣ په نښتي شي سره سر پټول (لکه خولۍ).
٤ کنډل شوې (جامې) اغوستل.
٥ په ځان يا بدن کې خوشبويي لګول.



د احرام ممانعتونه او د هغوی فدیه

- **که له پورته پنځو محظوراتو څخه چا کوم کاروکړ، اختیارلري چې له دریو کارونو څخه باید یو وکړي:**

۱ - درې ورځې روژه نیول.

۲ - شپږو مسکینانو ته ډوډۍ ورکول؛ هر مسکین ته له (غنمو یا وریجو) څخه نیم صاع ورکول او داسې نور.

۳ - یا پسه حلالول.

۴ - ژوی ښکار کول.

- **چا چې ښکاروکړ او حیوان یې ووژه نو اختیارلري چې په دریو کې یو کار باید وکړي.**

۱ - د دې حیوان په څېر یو بل حیوان حلالول.

۲ - په پیسو د حیوان قیمت معلومول، بیا پرې خواړه اخېستل او په غریبانو یې داسې ویشل چې هر یوه ته یوه لپه ورسیږي.

۳ - د هرې لپې پر ځای روژه نیول (یوه لپه: د صاع څلورمه برخه کیږي)



پوښتنې

س۱ د احرام له محظوراتو څخه درې وښیه؟

.....

.....

س۲ که مُحرِم سر وخړي کومه فدیه پرې لازمیږي؟

.....

.....

س۳ که مُحرِم ښکار وکړي کومه فدیه پرې لازمیږي؟

.....

.....



د حج او عمرې ارکان

درویشتم لوست

د حج ارکان

- احرام
- په عرفات ودریدل
- د اِفاضې (زیارت) طواف
- سعی



د حج او عمرې ارکان

د حج واجبات

- له میقات څخه احرام تړل
- ترلمرلویدو پورې په عرفات ودریدل
- په مزدلفه کې د قربانۍ شپه تېرول
- د تشریق شپې په منا کې تېرول.
- جمرات ویشتل
- ویښتان خریل یا لنډول
- د الوداع طواف

* چا چې د حج یا عمرې کوم رکن پرېښود، نو ترهغه پورې یې حج یا عمره نه صحیح کیږي چې هغه رکن یې پر ځای کړی نه وي، او چا چې واجب پرېښوده پر هغه دم لازمیږي.

پوښتنې

س١ په مناسب ځای کې عبارت وکاروئ:

أرکان	احرام	واجبات
یوازې په حج کې رکن	په عرفات دریدل	یوازې په حج کې واجبات
یوازې په عمره کې رکن	د افاضې طواف	یوازې په عمره کې واجب
په حج او عمره کې رکن	سعی	په حج او عمره کې واجب

أرکان	احرام	واجبات

س٢ د هغه چا حکم څه دی چې له لاندې کارونو څخه یې یو پریښود:

أ - په عرفات دریدل.

ب - جمرې ویشتل.

ج- سعی.

د- د افاضې طواف.

هـ - الوداعي طواف.

خلورويشتم لوست (۳۱)

د عمرې طريقه

څوک چې غواړي عمره وکړي، بايد لاندې پراوونه په پام کې ونيسي:



۱ کله چې ميقات ته ورسيږي، غسل کوي، ځان پاکوي، او د احرام جامې اغوندي، بيا د عمرې لپاره احرام کوي او (لبيك عُمْرَةً) وايي، بيا په تلبيه پيل کوي، او تر هغه پورې تلبيه وايي چې طواف ته ورسيږي.

۲ کله چې حرم ته ورسيږي نو د عمرې په طواف پيل کوي او له کعبې شريفې څخه اووه ګردشه تاويږي.

د استوګنې معنا:

ښوونکی لاندې خبرې تشريح کوي:

۱- حجر اسود د طواف پيل او پای دی. - د حجر الأسود ښکلول سنت دي، او موږ يې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم پسې د اقتدا له مخې ښکلوو، لکه څنګه چې د عمر بن الخطاب رضى الله عنه په حديث کې دي چې: هغه حجر الأسود ته راغی، ښکل يې کړ او ويې ويل: "زه پوهيږم چې ته يوه ډبره يې؛ نه زيان رسولی شې او نه ګټه، که چيرته ما د الله تعالى رسول نه و ليدلی چې ته يې ښکل کړې وي، نو ما به نه وې ښکل کړی. بخاري په کتاب الحج باب: ما ذُكِرَ فِي الحجَرِ الأَسْوَدِ، کې په (۱۵۹۷) شميره روايت کړی دی.

۲- ملتزم د حجر الأسود او کعبې شريفې د دروازې تر منځ دی چې نږدې څلور ذراعه کيږي.

۳- شاذروان: دا هغه د ديوال ۳/۲ برخه ده چې د کعبې شريفې له ديوال څخه اضافه شوې ده او د پاسه پرې طواف کول صحيح نه دي، ځکه چې د کعبې شريفې برخه ده.

۴- مقام ابراهيم: دا هغه ډبره ده چې د کعبې د ودانولو پر مهال پرې ابراهيم عليه السلام ولاړ او اسماعيل عليه السلام به ډبرې ورکولې.

- د جابر بن عبدالله رضى الله عنه د حديث بر بنسټ، چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې د حج په اړه روايت کړی چې له هر طواف نه وروسته د مقام ابراهيم تر شا لمونځ کول سنت دي، بيا مقام ابراهيم ته ورواندې شو نو دا آيت يې ولوست: (وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى) او (مونږ وويل:) له مقامِ ابراهيم نه " د لمونځ ځای" جوړ کړئ)، نو مقام يې د هغه او بيت الله تر منځ وګرځاوه، او هغه به په دې دوو رکعتونو کې: (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ) او (قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ) لوستل. مسلم په کتاب الحج، باب: حجة النبي صلى الله عليه وسلم کې په (۱۲۱۸) شميره روايت کړی دی.

۵- په حجر (حطيم) کې دننه طواف نه صحيح کيږي، ځکه چې د کعبې برخه ده، او ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د حجر تر شا طواف کړی دی او فرمايلي يې دي: " لِتَأْخُذوا مَناسِكَكُم " «تر څو مو مناسک زده کړئ». مسلم په کتاب الحج، باب: استحباب رمى جمرة العقبة کې په (۱۲۹۷) روايت کړی دی.

۶ - د رکن يماني يوازې لمس کول سنت دي، نه مچې کول او نه ورته اشاره کول.

۷ - د رکن يماني او حجر الأسود تر منځه به وايي: "رَبَّنا آتِنا في الدُّنيا حَسَنَةً، وفي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وقِنا عَذابَ النّارِ". «ای زمونږ ربه! مونږ ته په دنيا کې نعمت راکړه او په اخرت کې (هم) نعمت راکړه او مونږ د اور له عذابه وساته».

د عمرې طريقه

څوک چې غواړي عمره وکړي، بايد لاندې پراوونه په پام کې ونيسي:

د عمرې طريقه: په حجر الأسود پيل کوي، نو (که شونې وه) هغه مچې کوي (ښکل کوي) او لاس پرې راکاږي، يا ورته اشاره کوي او (بسم الله و الله اکبر) وايي، بيا له کعبې داسې طواف کوي چې کعبه يې چپ لاس ته راشي، تر دې چې حجر الأسود ته دويم ځل ورسيږي او پدې سره يو ګردش پای ته ورسيده. بيا دويم ګردش او دريم ګردش هم همداسې کوي تر دې چې اووم ګردش پای ته ورسيږي، او هر کله چې د حجر الأسود په برابرۍ تيريږي مچې کوي يې او يا پرې لاس راکاږي، که چيرته پدې ونه توانيده نو په ښي لاس ورته اشاره کوي او الله اکبر وايي، او د رکن يماني او حجر الأسود تر منځ : (رَبَّنا آتِنا فِي الدُّنْيا حَسَنَةً وفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وقِنا عَذابَ النّارِ) وايي.

٣ بيا که شونې وه نو د مقام ابراهيم شاته دوه رکعته لمونځ کوي، که نه د حرم په هر ځای کې يې چې وکړل لمونځ يې صحيح دی.

٤ بيا د سعی لپاره صفا او مروا ته ځي، هلته د دواړو غونډيو تر منځه اووه ځلې تګ راتګ کوي، په صفا يې پيلوي او په مروه يې پای ته رسوي (له صفا څخه مروا ته يې تګ يو ګردش او بيرته راګرځيدل يې بل ګردش حسابيږي).

٥ بيا د خپل سر ټول ويښتان يا خريي او يا يې کموي.

نو دا کاريې چې وکړ عمره يې بشپړه شوه، او هر هغه څه چې پرې د احرام له امله حرام شوي و، کول يې ورته روا دي لکه: خوشبوی لګول، ګنډل شوی لباس اغوستل، سرپټول، نوکان پرې کول او ويښتان خريل.

پوښتنې

س١ له بیت الله شریف څخه د طواف طریقه بیان کړه؟

- .....
.....

س٢ خالي ځایونه بشپړ کړئ:

أ - مُحرِم تر هغه وخته پورې تلبیه وایي چې پر ..... پیل وکړي.

ب- څوک چې طواف کوي نو په .....يې پیلوي، هغه ښکلوي او یا پرې لاس راکاږي او یا ورته ..... کوي او ..... وایي، بیا له کعبې شریفې داسې طواف کوي چې کعبه يې ..... ته راشي، تر دې چې ..... ته دویم ځل ورسیږي او پدې سره یو ګردش پای ته ورسید.

ج- عمره کوونکی د .....او ..... تر منځ سعي کوي، له..... څخه يې پیلوي او په ..... يې پای ته رسوي.

س٣ د سعی طریقه بیان کړه؟

- .....
.....

پنځه ویشتم لوست

د حج طریقه

(دحج) د مناسکو ډولونه

مناسک په درې ډوله دي چې عبارت دي له:

۱ تمتع: دې ته وایي چې د حج په میاشتو کې د عمرې احرام وکړي، عمره پای ته ورسوي او له احرام څخه یې ځان ازاد کړي، بیا په همغه کال کې د حج لپاره احرام وتړي.

۲ قِران: دې ته وایي چې د حج او عمرې دواړو لپاره یو احرام وکړي.

۳ اِفراد: دې ته وایي چې یوازې د حج لپاره احرام وتړي.

نو څوک چې د حج اراده ولري، کولی شي له دې درې ډوله مناسکو څخه د یو لپاره احرام وکړي، او تر ټولو غوره یې تمتع دی.

د تمتع او قِران هدی (ذبحه):

هَدی: پسه او یا هغه څاروی دی چې اووه نفر پکې ګډون کوي لکه: اوښ او غوا او د حرم په ځمکه به یې حلالوي.

بَدَنة: نر او ښځې اوښې ته ویل کیږي.

- د تمتع او قِران حج کوونکي - که د مکې استوګن نه وي - نو په دواړو هدی شته، او د اِفراد پر حج کوونکي هدی نشته.
- څوک چې هدی ونه مومي، لس ورځې روژه نیسي: درې د حج په ورځو کې او اووه کور ته له ګرځیدلو وروسته.

د حج طريقه

د تمتع طريقه:

لومړی: عمره ادا کول:

د حج په مياشتو کې د عمرې لپاره احرام کوي او عمره کوي (وړاندې د احرام او د عمرې طريقه بيان شوې ده).

دويم: د اتمې ورځې کارونه (د ترويې ورځ) [۳۳].

دې ورځې ته ځکه د ترويې ورځ ويل کيږي چې حاجيانو به د ځانونو لپاره په مِنا او عرفات کې د اړتيا وړ اوبه ذخيره کولې؛ ځکه په هغو وختونو کې اوبه په اسانۍ نه موندل کېدې، او اوس خو الحمد لله د الله احسان دی اوبه ډيرې دي.

د ذی الحجې په اتمه ورځ، حاجي د "لبيک حجًّاً" په ويلو سره د حج احرام تړي او په منا کې د نهمې ورځې شپه تيروي.

دريم: د نهمې ورځ کارونه (د عرفې ورځ)

په نهمه ورځ، حاجي له لمر ختو وروسته له مِنا څخه عرفات ته ځي، او د ورځې پاتې برخه هلته پاتې کيږي، ډيرې دعاګانې کوي، بخښنه غواړي، د الله تعالی زيات ذکر او د قرآن کريم تلاوت کوي، او کله چې لمر پريوځي مزدلفې ته روانيږي، هلته شپه تيروي تر دې چې د سهار لمونځ وکړي، له سهاره مخکې له مزدلفې څخه نه وځي، پرته له کوم عذر څخه، لکه کمزورې ښځې، ماشومان او هغه کسان چې ورسره مل وي.

د حج طريقه

د تمتع طريقه:

څلورم: د لسمې ورځې کارونه (د اختر ورځ) :

۱ جمرة العقبة په اووه کانړو ولي او له هر کانې سره الله اکبر وايي.

۲ قرباني حلالول.

۳ د سر ویښتان خریل یا کمول، خو خریل یې غوره دي.

۴ د اِفاضې (زیارت) طواف.

۵ د صفا او مروه تر مینځ سعی.

د جمرةُ العقبې له ویشتلو، سر خریلو او یا کمولو وروسته حاجي له احرام څخه ازادیږي.

پنځم: د یوولسمې ورځ کارونه:

په یوولسم ورځ، حاجي له زوال نه وروسته درې واړه جمرې په ترتیب سره ولي، هره جمره په اوو کانړو/تیږو ولي او له هر کانې سره الله اکبر وایي، دا جمرې عبارت دي له: لومړۍ جمرې، بیا منځنۍ جمرې، بیا لوی جمرې چې (جمرة العقبة) ورته وایي.

شپږم: د دولسمې او دیارلسمې ورځو کارونه :

په دولسمه او دیارلسمه ورځ حاجي هغه کارونه کوي چې په یوولسمه ورځ یې کړي دي، د حاجي لپاره روا دي چې بیړه وکړي او د دولسمې ورځې د لمر له ډوبیدو نه مخکې له منا څخه ووځي.

اووم: د تشریق د ورځو شپې په مِنا کې تېرول:


د حاجي لپاره د تشریق د ورځو شپې په مِنا کې تیرول واجب دي چې هغه (یوولسمه، دولسمه او دیارلسمه) ورځې دي.

د حج طريقه

د تمتع طريقه:

اتم: طواف الوداع:

که حاجي غوښتل چې له مکې مکرمې څخه ووځي، نو د خدای په امانی طواف (طواف الوداع) پرې واجب دی.



پوښتنې

س۱ د مناسکو ډولونه وښیه، قرباني څه شی دی؟ او پر چا واجب ده؟

.....

.....

س۲ متمتع په کومه ورځ د حج لپاره احرام تړي؟

.....

.....

س۳ حاجیان په کومه ورځ پر عرفات ودریږي؟ او کله تړي وځي؟

.....

.....

س۴ له عرفات څخه د وتلو نه وروسته حاجیان چیرته ځي؟

.....

.....

س۴ هغه کوم کارونه دي چې حاجیان يې په لسمه ورځ کوي؟

.....

.....

س ۶ هغه کوم کارونه دي چې حاجيان يې د تشريق په ورځو کې کوي؟

.....

.....



درسي نصاب

حليث

شپږمه سويه

لنډه کتنه

- دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کونکو لپاره د تعلیمي نصاب اصلاح شوی لنډیز دی چې په بېلابېلو سویو ویشل کیږي، په دې کې یو مضمون فقهي ته ځانګړی شوی او په [۸] سویو ویشل کیږي.

- تر ټولو اړین هغه څه چې په اوومه سویه کې دي، د یو لړ مهمو نبوي حدیثونو تشریح ده چې ډیری شرعي احکامو، علمي او عملي فائدو ته شامل دي لکه: هغه حدیثونه چې د ایمان او استقامت د مفهوم سره تړاو لري، د لمانځه مرتبه او د لمانځه د پرېښودونکي حکم، د نفاق علامې او څانګې، د قرآن کریم د زده کړې او نورو ته د ښوونې فضیلت پکې بیان شوی دی.

- د دې تشریح ځانګړتیا دا ده چې له یوه اړخه یې اسلوب اسان دي او له بله اړخه یې عبارتونه واضح دي، دا (تشریح) په یوه ځانګړي مېتود وړاندې کیږي چې د صحابي (د حدیث د راوي) په پېژندنې سره پیلیږي، بیا د لغتونو معنا تشریح کیږي، ورپسې په حدیث کې راغلي مهم احکام او لارښوونې له دلایلو او د علماوو له اقوالو سره بیانیږي او په پای کې یو لړ پوښتنې وړاندې کیږي چې (ځوابونه یې) ټول لوست په بر کې نیسي، او له مخې یې د زده کوونکو د پوهې کچه معلومیږي.

ایمان او استقامت

لومړی حدیث


له سفیان بن عبدالله - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایي چې ما وویل: ای د الله رسوله، په اسلام کې راته داسې یو څه ووایه چې له تا وروسته یې په اړه له بل هیچا څخه پوښتنه ونه کړم، هغه وفرمایل:

«ووایه: په الله ایمان لرم، او استقامت ولره».

مُسلِم روایت کړی دی [۱].مُسلِم په خپل صحیح کې په [۶۵/۱]، کتاب الإیمان. باب: جامِع أَوْصافِ الإسلام کې [۶۲] شمیره روایت کړی دی.

راوي پېژندنه:

هغه جلیل القدر صحابي سفیان بن عبدالله الثقفي - رضی الله عنه - دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې ځینې احادیث روایت کړي دي، او عمر بن الخطاب - رضی الله عنه - د طائف پر زکات او صدقو راټولولو ګمارلی و.



ايمان او استقامت

د لغتونو معنا

لغت	معنا يې
الإيمانُ باللهِ	په الله تعالی ایمان، د هغه پر یووالي باور درلودل او یوازې د هغه ذات عبادت کول چې شریک نه لري.
آمَنْتُ باللهِ	په الله تعالی مې ایمان راوړی.
الاستقامة	د اوامرو تر سره کول او د نواهیو پریښودل.
استقم	استقامت ولره، یعنې د الله تعالی په اوامرو پابند او له نواهیو څخه یې ځان وساته.

د حدیث لارښوونې:

مسلمان ته په کار دي چې د خپل دین د هغو مسایلو په اړه پوښتنه وکړي چې پرې نه پوهیږي، تر څو په بصیرت سره د الله تعالی عبادت وکړي.

د هغه څه په زده کړه د صحابه کرامو - رضي الله عنهم - ټینګار چې د دوی د دین په چارو کې ورته ګټه رسوي.

په الله جل جلاله ایمان د دین بنسټ دی.

پر مسلمان واجب دي چې د الله تعالی په دین استقامت ولري، اوامر یې پر ځای کړي او له نواهیو څخه یې ډډه وکړي.

الله تعالی د یو بنده عمل تر هغه پورې نه قبلوي تر څو چې په الله تعالی ایمان ولري او د هغه په اطاعت ثابت قدم پاتې شي.

د ایمان او نیک عمل د یوځای کولو اړتیا.

د بحث پوښتنې

س١ ولې باید یو مسلمان د خپل دین د مسئلو زده کولو ته لیواله وي؟

.....

.....

س٢ له استقامت څخه مراد څه شی دی؟

.....

.....

س٣ د دین اساس څه شی دی؟

.....

.....

س٤ د سفیان بن عبدالله الثقفي - رضي الله عنه - په اړه په څه پوهیږې؟

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س ۱ الله تعالى فرمايلي:
ژباړه: (بې شکه هغه کسان چې وايي: زمونږ رب الله دی بيا پرې ټينګ ودريږي نو هيڅ ډار به پرې نه وي او نه به غمجن شي.
ژباړه: دغه خلک د جنت خاوندان دي او تل به هملته وي. دا يې د هغو کړنو پوره بدل دی چې په دنيا کې يې کولې).[الأحقاف: ١٣ - ١٤].

آيت د ايمان او استقامت پر وجوب دلالت کوي، واضح يې کړه؟

.....

.....

.....

.....

آيت د هغو کسانو په بدلې دلالت کوي چې ايمان يې راوړي او پابند پاتې شوي، هغه کومه بدله ده؟

.....

.....

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س۲ په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطې اصلاح کړئ.

پر مسلمان واجب دي چې د الله تعالی په شریعت پابندي وکړي

په جومات کې له جماعت سره پنځه وخته لمونځ ادا کول له استقامت څخه دي

د مور او پلار اطاعت له استقامت څخه دي

بد الفاظ کارول له استقامت څخه دي

لارویان ازارول د استقامت نښه ده

ښوونکي ته

ښوونکي ته په کار دي چې د استقامت ډیری مثالونه وړاندې کړي لکه: لمونځ، د والدینو اطاعت، په ځان کې ښه اخلاق پیدا کول، د الله تعالی د کتاب لوستل، حفظول او داسې نور. * همدا رنګه غوره ده چې د ځینو هغو کړنو بیلګې وښیي چې استقامت ته زیان رسوي.

دويم حديث

د لمونځ پريښودونکي کفر

له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې:

ژباړه: «د سړي، شرک او کفر تر منځه توپير: د لمانځه پرېښودل دي».

مسلم روايت کړی [۳].مُسلِم په كتاب الإيمان، باب: بيان إطلاق اسم الكُفْر على من تَرَكَ الصَّلاةَ، کې په [۸۲] شمېره روايت کړی.

د راوي پېژندل:

هغه جليل القدر صحابي جابر بن عبدالله بن عمرو بن حرام الانصاري السُّلَمِي، دی، مور او پلار يې - رضي الله عنهم -دوه مشهور صحابه وو، دی د رسول الله صلى الله عليه وسلم د احاديثو له حافظانو څخه و، په نبوي جومات کې يې يوه حلقه درلوده چې خلک به ترې هلته د علم زده کولو لپاره راټوليدل، د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې په نولس غزاګانو کې ګډون وکړ ... جابر وايي: په اُحد او بدر کې مې ګډون ونه کړ، ځکه چې پلار مې منع کړم، خو کله چې هغه ووژل شو له هېڅ غزا پاتې شوی نه يم، نومورې په ۷۸ کال کې وفات شوی دی.

د حديث لارښوونې:

د لمانځه اهميت، لمونځ د اسلام ستن ده او دين د لمانځه پرته ثابت نشي پاتې کېدلی.
لمونځ د انسان تر ټولو مهم عمل دی چې هغه خپل رب جل جلاله ته نږدې کوي.
لمونځ د اسلام او کفر ترمنځ عملي توپير دی.
پر مسلمان واجب دي چې په کلکه لمونځ ادا کړي او هېڅ بل کوم عمل ته پرې لومړيتوب ورنه کړي.
لمونځ ډيری دنيوي ګټې او په آخرت کې لوی اجر لري.

د بحث پوښتنې

س۱ په اسلام کې د لمانځه حیثیت څه دی؟

.....

.....

س۲ حدیث په لنډه توګه تشریح کړئ؟

.....

.....

س۳ تر ټولو مهم فرضي عمل کوم یو دی چې بنده پرې الله تعالی ته نږدې کیږي؟

.....

.....

س۴ د لمانځه ځینې دنیوي ګټې وښیه.

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س١ د اذان په اوريدو سره مسلمان ته څه کول واجب دي؟

- .....
.....

س٢ د لمانځه د اهميت په اړه له قرآن کريم څخه يو آيت ووايه؟

- .....
.....

س٣ لاندې تش ځايونه ډک کړه:

هغه فرض عمل چې په ورځ او شپه کې پنځه ځله تکرارېږي ..... دی.

څوک چې په قصدي توګه..... پرېږدي، کافر دی.

س٤ ووايه د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما په اړه په څه پوهيږې؟ (٤).

- .....
.....

ښوونکي ته

* ښوونکي ته په کار دي چې د لمانځه ډېرې ګټې بيان کړي..

د ذِکر فضیلت

درپیم حدیث

له ابو موسی - رضي الله عنه - څخه رو ایت دی و ایې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي:

ژباړه: «د هغه چا مثال چې خپل رب یادوي او هغه څوک چې خپل رب نه یادوي د ژوندي او مړي په څېر دی».

بخاري روایت کړی [٥].

بخاري په کتاب الدَّعوات، باب: فَضْل ذِكْرِ اللهِ عزَّ وجَلّ کې په: [٦٤٠٧] شمیره روایت کړی دی.



د حدیث لارښوونې:

د الله جل جلاله ذِکر په تهلیل (لا اِله اِلا الله)، تحمید (الحمدلله)، تسبیح (سبحان الله)، د قرآن کریم په تلاوت او داسې نورو سره کیږي.

د الله پاک د ذِکر فضیلت:

ذِکر د زړونو لپاره ژوند دی، ځکه چې په همدې سره کیږي.

د الله تعالی سره اړیکه جوړول.

د زړه ډاډ او سکون.

د انسي او جني شیطانانو څخه ساتنه.

مسلمان ته په کار دي چې د الله تعالی ذکر وکړي ترڅو یې ګټې ترلاسه کړي.

د الله تعالی له یاد څخه غفلت د زړه د مرګ لامل دی.

د ذِکر فضیلت

د راوي پېژندل:

هغه جليل القدر صحابي ابو موسی عبدالله بن قيس الاشعري دی، په مکه کې يې اسلام راوړ او حبشې ته يې هجرت وکړ، د عمر رضی الله عنه په واکمنۍ کې يې د بصرې او د عثمان رضي الله عنه په واکمنۍ کې يې د کوفې د امارت دندې پرغاړه درلودې، د هغه ځای استوګنو ته يې قرآن کريم او فقه ورزده کړې، د قرآن کريم په تلاوت کې يې ښکلی غږ درلود، نوموړی د هجرت په دوه څلوېښتم کال وفات شوی دی.



د بحث پوښتنې

س۱ د هغه چا ترمنځ څه توپير دی چې خپل رب یادوي او هغه څوک یې چې نه یادوي؟

.....

.....

س۲ د الله تعالی د ذِکر له کټو څخه دوه کټې بیان کړه؟

.....

.....

س۳ د ذکر ځینې ډولونه وښیه؟

.....

.....



د کورنۍ دندې سوالونه

س۱ په لاندې مواردو کې ناسم کارونه په ګوته کړئ:

یو ځوان خپل کور ته ننوت، داسې یو څه یې ولیدل چې له امله یې وځورید او سخت غصه شو، کوچني ورور لوبني مات کړي وو نو هغه ته یې کنځلې وکړې او د غصې پر مهال له کوره ووت، خپل موټر ته پورته شو او په ډیره چټکۍ سره یې موټر چلاوه، تر دې چې نه پوهېده چیرته روان دی، نو د خوراکي توکو په دکان کې یې ورسره ملګری مخ شو او د غوسې په اړه یې تري وپوښتل، نو کیسه یې ورته وکړه.

س۲ په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطۍ اصلاح کړئ.

ذِکر په ژبه دروند خو په تله کې سپک دی

د الله تعالی یادول انسان د انسانانو او پېریانو له شر څخه ساتي.

څوک چې الله تعالی نه یادوي د ژوندي په مثال دی.

د کورنۍ دندې سوالونه

س٣ الله تعالى فرمايلي:ژباړه: (هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او زړونه يې د الله په ذکر سره ډاډمنيږي، خبردار شئ! يوازې د الله په ذکر (ياد) سره زړونه ډاډمنيږي) **له آيت څخه د الله تعالى د ذِکر يوه ګټه وښيه؟**(٦).



ښوونکي ته

- ښه ده چې د ذِکر ګټې په لږ څه تفصيل سره بيان شي، وګورئ: (الوابِل الصَّيِّب) د ابن القيم الجوزية - رحمه الله - کتاب.
-.* ښه به وي چې د ذِکر ځينې ډولونه بيان شي لکه: تسبيح، تحميد، تکبير تولې دعاګانې او داسې نور.
- * مناسبه ده چې ښوونکی د زده کوونکو تر منځه د يو څه اذکارو د حفظولو سيالۍ په لار واچوي، او د دې کار لپاره اړونده کتابونو ته مراجعه وکړي، وګورئ: الأذکار د امام نووي - رحمه الله - کتاب، او : تحفة الأخيار د شيخ عبد العزيز بن باز - رحمه الله - کتاب، او : حصن المسلم، د شيخ سعيد بن علي القحطاني کتاب.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مينه

ځلورم حدیث

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي:

ژباړه: «له تاسو څخه به هیڅوک تر هغه وخته مؤمن نشي تر څو چې زه ورته له خپل پلار، زوی او ټولو خلکو څخه زیات محبوب نه شم».

بخاري او مسلم روایت کړی دی [۷].بخاري په کتاب الإيمان، باب: حُبّ رسولِ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم من الإيمان کې په [۱۵] شمیره روایت کړی او الفاظ د همده دي، او مسلِم په کتاب الإيمان، باب: وُجوب محبَّةِ رسولِ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم أَكْثَر مِن الأَصْلِ والوَلَد والنّاسِ أجمَعِين کې په: [٤٤] شمیره روایت کړی دی.



د حدیث لارښوونې:

د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مينه کول، او د هغه مينې ته پر ټولو خلکو لومړیتوب ورکول، حتى خپل پلار، اولادونو او پر ځان.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم مينه کول د ایمان نښه ده.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د مينې له نښانو څخه:

چې په اوامرو کې يې پیروي وکړو، له ممانعتونو څخه يې ځان وساتو او په ویناوو کې يې ریښتینی وګڼو.

د هغه صلى الله عليه وسلم د یادولو پر مهال پرې درود ووایو.

په ویناوو او کړنو کې پسې اقتدا وکړو او له شریعت څخه يې ونه وځو.

د نورو ټولو خلکو له محبت څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره محبت ته لومړیتوب ورکړل شي.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مينه

راوي پېژندنه:

هغه جليل القدر صحابي أنس بن مالک الأنصاري الخزرجي - رضي الله عنه - دى، مور يې ام سُليم په لس کلنۍ کې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راووست او ورته يې وويل: اى د الله رسوله! دا أنس هلک به ستا خدمت کوي، هغه ترې قبول کړ، دعا يې ورته وکړه او ويې ويل:(اللَّهمّ أَكْثِر مالَه ووَلَدَه، وأَدْخِلْه الجنَّةَ) [٨]،

«اى الله مال او اولاد يې زيات کړه او جنت ته يې داخل کړه».

ډېرى حديثونه يې روايت کړي، او دى وروستى کس دى چې له صحابه کرامو څخه په بصره کې د هجرت په درې نويم کال وفات شوى دى -رضي الله عنه و أرضاه-.

أنس رضي الله عنه فرمايلي دي: **«ما د خپلو اولادونو له اولادونو پرته چې زما له شا دي، ۱۲۵ ښخ کړي دي (يعنې زما مخکې مړه شوي دي) او زما ځمکې په کال کې دوه ځلې ميوه نيوله (دوه فصلونه يې کول)»** وګورئ: الإصابَة لابن حجر [٧٢/١].



د بحث پوښتنې

س۱ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د محبت حکم څه دی؟

.....

.....

س۲ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د محبت ځینې نښانې وویایه؟

.....

.....

س۳ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نوم په اوریدلوسره باید څه وکړئ؟

.....

.....



د کورنۍ دندې سوالونه

س ۱ الله تعالى فرمايلي:ژباړه: (اى نبي!) (ته ووايه: كه چېرې يئ تاسو چې له الله سره مينه كوئ، بيا نو زما پيروي وكړئ، الله به له تاسو سره مينه وكړي او تاسو ته به ستاسو ګناهونه وبخښي او الله ډېر بخښونكى، بې حده رحم كوونكى دى).
آيت په څه شي دلالت كوي؟

.....

.....

س ۲ **آيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صفتونو په اړه په څه پوهيږې؟**
دري صفتونه يې وښيه.

.....

.....

س ۳ **ولې پر مورږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره محبت واجب دى؟**

.....

.....

ښوونكي ته

* رسول الله صلى الله عليه وسلم د ټولو خلكو لپاره ښلګه ده، نو ښوونكي ته په كار دي چې د هغه ځيني ځانګړتياوې ذكر كړي، ترڅو زده كونكي وهڅوي چې اقتدا پسې وكړي، د دې كار لپاره د نبوي سيرت كتابونو ته مراجعه كوي لكه: د شيخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب رحمه الله كتاب: مختصر سيرة الرسول صلى الله عليه وسلم.

بنـه اخلاق

پنځم حديث

له عبد الله بن عمرو - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايي چې:

ژباړه: رسـول الله صلى الله عليه وسلم نه فاحش و (هغه څوک چې فحاشي يې عادت ګرځېدلی وي) او نه متفحش و (هغه څوک چې فحاشي يې عادت نه وي خو په عمدي توګه يې کوي) او فرمايل به يې چې: «يقينا چې په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې بنه اخلاق ولري».

بخارِي اومُسلِم روايت کړی [١٠].بخاري په کتاب المناقب، باب: صِفَة النَّبيّ صلَّى الله عليه وسلَّم کې په (٣٥٥٩) شميره روايت کړی او الفاظ د همده دي، او مُسلِم په کتاب الفَضائل، باب: كَثْرَة حَياتِه صلَّى الله عليه وسلَّم کې په (٢٣٢١) شميره روايت کړی دی.

د راوي پېژندل:

هغه جليل القدر صحابي عبدالله بن عمرو بن العاص بن وائل السهمي القرشي دی، د اسلام له لومړنيو راوړونکو څخه و، د رسـول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې ډېری حديثونه روايت کړي او د رسـول الله - صلى الله عليه وسلم - سره يې په ډېری غزاګانو کې ګډون کړی دی، په ډير عبادت سره مشهور و، نوموړی د نبوي هجرت په پنځه شپېتم کال کې وفات شوی دی.

ښه اخلاق

د لغتونو معنا:

لغت	معنا
فاحش	فاحش: هغه چا ته ویل کیږي چې (د عادت له مخې) پوچې وینا او کړنې کوي.
متفحش	متفحش: هغه چاته ویل کیږي په قصدي توګه ناوړه وینا او کړنې کوي (خوعادت يې نه وي)
غوره ستاسو	په تاسو کې بهتر.
ښه اخلاق	د نیکیو ترسره کول او له بدیو څخه ډډه کول.

د حدیث لارښوونې:

رسول الله صلی الله علیه وسلم په خویونو او اخلاقو کې تر ټولو غوره دی.
پر مسلمان واجب دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي وکړي، او په ښو اخلاقو ځان سمبال کړي.
غوره خلک هغه دي چې ښه اخلاق ولري، لکه: ښه چلند، نرمه وینا، ورین تندی، نیکي کول، له نورو زیان لرې کول، او سلام خپرول.
په ښو اخلاقو سره د الله تعالی او د خلکو مینه ترلاسه کوي.
ښه اخلاق له ایمان څخه دي.
رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به د قیامت په ورځ تر ټولو نږدې خلک هغه وي چې ښه اخلاق ولري.

د بحث پوښتنې

س۱ فاحِشاً – مُتَفَحِّشاً - حُسْن الخُلُق ؟ څه معنا؟

.....

.....

س۲ د ښو اخلاقو لپاره درې بېلګې وړاندې کړه.

.....

.....

س۳ د بدو اخلاقو درې بېلګې وښیه؟

.....

.....

س۴ د ښو اخلاقو ثمره څه شی دی؟

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س۱ ووایه چې د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما په اړه په څه پوهیږئ؟

.....

.....

س۲ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د الله تعالی دا وینا څه معنا:
(وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ)(القلم سورت: ۴ ایت)

.....

.....

س۳ الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صفت کې فرمایلي:
ژباړه: (یقیناً تاسو ته له هم ستاسو له جنس نه رسول راغلی دی، هغه څه چې تاسو په تکلیف کې اچوي؛ پر ده ډېر سخت (او درانه) دي، ستاسو (د هدایت) لپاره پر تاسو باندې ډېر حرصناك دی، په مومنانو باندې ډېر نرمي کوونکی، ډېر مهربان دی)
په مبارک آیت کې ذکر شوي اخلاق راوباسئ.

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س۴ لاندې کلمې په مناسبو ځایونو کې وليکه:

حيا - سخاوت - بې حيايي - پوچه وينا - کنځلې - ورين تندی.

لغت	معنا يې
.....	.....
.....	.....
.....	.....
.....	.....
.....	.....
.....	.....



ښوونکي ته

* د الله تعالی او د خلکو سره ښه اخلاق د اسلام له اهدافو څخه يو هدف دی، له همدې امله مهمه ده چې د زده کونکو په روان کې ځای پر ځای کولو کې دې موضوع ته پاملرنه وشي، چې ښو اخلاقو ته وهڅول شي او له بدو اخلاقو وويرول شي.

شپږم حدیث

د حیا فضیلت

له عمران بن حصین - رضي الله عنهما - څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

(الحياءُ لا يَأْتي إلّا بخَيْرٍ)

«حیا یوازې خیر راوړي»

بُخاري او مُسلِم روایت کړی دی [١٢].بخاري په کتاب الأدب، باب: الحياء کې په: [٦١١٧] شمیره، او مسلم په کتاب الإيمان باب: بَيان عَدَد شُعَب الإيمان وأَفْضَلها وأَدْناها، وفَضِيلَة الحياءِ وكَوْنه مِن الإيمان کې په [٣٧] شمیره روایت کړی دی.

د حدیث لارښوونې:

د حیاء پر خوی د اسلام ټینګار.

حیا د ټولو نیکیو کیلي ده. ځکه چې د غوره کارونو د تر سره کولو غوښتنه کوي او د بدۍ کولو مخه نیسي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له صفتونو څخه یو صفت: حیا ده.

له بدو خبرو، پوچو الفاظو، کنځلو، بدو ردو ویلو څخه ډډه کول حیاء ده.

د حيا فضيلت

د راوي پېژندل:

هغه جليل القدر صحابي عمران بن حسين الخزاعي دی، هغه او پلار يې دواړو د خېبر د جګړې په کال اسلام راوړی، د صحابه کرامو له فقهاوو او عالمانو څخه و، عمر بن الخطاب - رضي الله عنه - بصرې ته ولېږه تر څو يې استوګنو ته علم ورزده کړي، نوموړی د هجرت په دوه پنځوسم کال کې وفات شوی دی، رضي الله عنه و أرضاه.

د لغتونو معنا:

لغت	معنا
حيا	د هرې هغې وينا او کړنې پرېښودل چې له امله يې انسان ملامته کيږي.

د بحث پوښتنې

س۱ له (حیا) څخه مراد څه شی دی؟

.....

.....

س۲ د حدیث له کتو څخه دوه کتې بیان کړه؟

.....

.....

س۳ ولې حیا یوازې ښېګڼه راوړي؟

.....

.....

س۴ د ځینو کړنو بېلګې وښیئ چې د حیاء خلاف دي؟

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س۱ لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

..... د خپر د ټولو دروازو کیلي ده.

حیا د ..... له صفتونو څخه یو صفت دی.

د والدینو، ښوونکو او همکارانو سره په ..... خبرې کول حیا ده.

د ښوونکي بې احترامي یوه داسې ځانګړتیا ده چې د ..... سره په ټکر کې ده.

س۲ د (أ) د ستون جملې د (ب) د ستون له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

نورو ته د خطاب کولو پر مهال په غږ کې اعتدال	أ- د حیا سره په ټکر کې عمل دی
حیا	ب - له حیاء څخه دی.
د ښوونځي په دیوالونو لیکل.	ج - اسلام پرې ټینګار کوي.
	د- له ناوړه الفاظو څخه دي.

د کورنۍ دندې سوالونه

س۳ ووایه چې د عمران بن حصین رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږې؟[۱۳].

.....

.....



ښوونکي ته

* ښوونکی باید د ښې حیاء چې په حدیث کې ذکر شوې ده او ناوړه حیاء چې (شرمیدل او خجالت) دی تر منځه توپیر وکړي.
(خجالت) هغه حالت دی چې انسان له پوښتنې، ځان پوهولو او زده کړې څخه منع کوي.

اووم حديث

د منافقت له نښانو څخه

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

ژباړه: «منافق درې نښې لري: کله چې خبرې کوي درواغ وايي، کله چې وعده وکړي؛ وفا پرې نه کوي، او کله چې امانت وروسپارل شي خيانت پکې کوي».

بُخارِي او مُسلم روايت کړی دی [١٤].بخاري په کتاب الإيمان، باب: عَلامات المنافِق کې په [٣٣] شميره او مُسلِم په کتاب الإيمان، باب: بَيان خِصالِ المنافِقِ کې په [٥٩] شميره روايت کړی دی.



د حديث لارښوونې:

اسلام د بدو عادتونو او غير اخلاقي چلندونو په وړاندې خبرداری ورکوي.
منافقت يو له هغو بدو صفتونو څخه دی چې مسلمان ترې بايد ډډه وکړي.
منافقت نښانې لري چې ځان ترې بايد وساتل شي لکه:
په خبرو کې دروغ ويل.
وعده خلافي.
خيانت.
چا کې چې د منافقت يو صفت پيدا شو نو الله تعالى او خلک ترې کرکه کوي.

د منافقت له نښانو څخه

راوي پېژندنه:

هغه جليل القدر صحابي عبد الرحمن بن صخر الدوسي دی چې د هجرت په اووم کال؛ د خيبر د فتحې په کال کې يې اسلام راوړی دی، د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې د سختې ملګرتيا له امله ډيری حديثونه حفظ کړي دي، نوموړی هغه صحابي دی چې تر ټولو زيات حديثونه يې روايت کړي او د نبوي هجرت په اووه پنځوسم کال کې وفات شوی دی، رضي الله عنه و أرضاه.

د لغتونو معنا:

لغت	معنا
آية	نښه
ثلاث	يعنې: درې خويونه.
المنافق	هغه څوک چې د باطن خلاف ښکار کوي. (ظاهر يې يو ډول او باطن يې بل ډول وي).
حَدَّثَ	خبرې يې وکړې.

د بحث پوښتنې

س۱ د (منافق) څخه مراد څه دی؟

.....

.....

س۲ د منافق د نښو یوه بیلګه وښیئ؟

.....

.....

س۳ د منافقت پایله څه ده؟

.....

.....

س۴ د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا تشریح کړه:«منافق درې نښانې لري».

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س١ ووایه چې د ابوهریرة رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږی؟

.....

.....

س٢ د مومن ځینې هغه صفتونه وښیه چې د منافقانو د صفاتو ضد وي.

.....

.....

س٣ لاندې هغه جملې سمې کړئ چې سمونتیا ته اړتیا لري:

په خبرو کې دروغ ویل د منافقانو له صفتونو څخه دي.

مؤمن هغه دی چې په وینا او کړنو کې رښتیا وایي.

د ځینو لمونځونو پرښودل د منافقانو صفت نه دی.

چا چې له خپل ملګري څخه قلم واخیست او بیا پرې منکر شو، نو د منافق یو صفت پکې پیدا شوی دی [١٥].

ښوونکي ته

* منافقت یوه جدي موضوع ده او پایلې یې ډېرې خطرناکې دي، نو په کار ده چې زده کوونکي ترې وویرول شي.
* محترم ښوونکی باید د اعتقادي نفاق چې انسان پرې له دین څخه وځي او عملي نفاق چې په حدیث کې ذکر شوی ترمنځ توپیر وکړي

عفو او بښنه

اتم حدیث

د عائشې - رضی الله عنها - څخه روایت دی وایې:

«رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هیڅکله د دوو کارونو ترمنځ د ټاکلو واک نه دی ورکړ شوی مګر دا چې د دواړو ترمنځه به یې اسان غوره کاوه خو چې ګناه به نه وه، که چیرته به ګناه وه نو تر ټولو لرې انسان به تري دی و، او هیڅکله رسول الله صلی الله علیه وسلم په هیڅ شي کې د ځان لپاره غچ نه دی اخیستلی مګر دا چې د الله حرمت به د پښو لاندې شو، نو د الله لپاره به یې غچ اخیسته».

بُخارِي او مُسلم روایت کړی دی [١٦].بخارِي په کتاب الأدَب، باب: قَوْل النَّبيِّ صلَّى الله عليه وسلَّم:" يَسِّروا ولا تُعَسِّروا "، کې په [٦١٢٦] شمیره روایت کړی، او الفاظ د همده دي. او مُسلِم په کتاب الفَضائِل، باب: مُباعَدَتُه صلَّى الله عليه وسلَّم للآثام، واختِياره مِن المباحِ أَسْهَله کې په [٢٣٢٧] شمیره روایت کړی.

د راوي پېژندل:

هغه د مومنانو مور، صادقه مېرمن او د صدیق لور عایشه - رضی الله عنها - د رسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمن ده، نوموړې فقیهه او عالمه مېرمن وه، له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې ډېری احادیث روایت کړي دي، د هجرت په اوه پنځوسم کال وفات شوې ده، رضي الله عنها.

د لغتونو معنا:

لغت	معنا
أَيْسَرهُما	په دواړو کې آسان
إثماً	اثم: ګناه
قط	هیڅکله.
تُنْتَهَك حُرْمَة اللهِ	هغه څه کېدل چې الله تعالی منع کړې دي.

د حدیث لارښوونې:

اسلام د اسانتیا، مهربانی، عفو او بخښنې دین دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ځانګړتیاوو څخه، عفو کول، بخښنه او پر زیان صبر کول دي، نو د هغه پسې اقتدا واجب ده.

د الله تعالی په حقونو کې بخښل نشته لکه پر منکراتو راضي کیدل.

د الله تعالی د حرمتونو، حدودو او اوامرو تعظیم او احترام واجب دی، او ترې سرغړونه حرامه ده.

کوم مسلمان چې عفو او بخښنه کوي د الله تعالی لخوا لوی اجر تر لاسه کوي او د خلکو ورسره محبت پیدا کیږي.

د بحث پوښتنې

س١ **د هغې رضي الله عنها وينا تشريح کړئ (چې فرمايي):**
((ما خُيِّرَ رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم بين أَمْرَيْن قَطّ إلّا أخَذَ أَيْسَرهما)).
«يعنې هيڅکله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دوه ټاکنې ندي ورکړل شوي مګر دا چې په دواړو کې يې آسانه غوره کړې ده».

.....

.....

.....

س٢ **ووايه چې د عائشې په اړه په څه پوهيږئ، الله تعالى دې له هغې او د هغې له پلار څخه راضي شي.**

.....

.....

س٣ **د لاندې جملو مخې ته (√) او يا (×) علامې وکاروئ او غلطې اصلاح کړئ.**

پر منکر چوپ پاتې کيدل په عفو او بخښنه کې نه راځي

عفو او بښنه کمزورې او عاجزې بلل کيږي

عفو او بښنه د الله تعالى په حقونو کې وي

د کورنۍ دندې سوالونه

س١ (تُنْتَهَك حُرْمَة اللهِ) څه معنا؟

- .....
.....

س٢ ځيني هغه صفتونه وښيه چې د عفوې او بښنې له خويونو سره په ټکر کې وي.

- .....
.....

س٣ الله تعالى خپل پېغمبر صلى الله عليه وسلم ته فرمايلي:ژباړه: (نو (يوازې) د الله د رحمت په سبب ته د دوی لپاره نرم يې او که چېرې ته بدخويَه، سخت زړی وَی (،نو) خامخا دوی به ستا له خواوشا نه خواره شوي وو، نو دوی ته عفو کوه، او د دوی لپاره بخښنه غواړه، او له دوی سره په کار کې مشوره کوه، بيا چې کله ته پخه اراده وکړې، نو په الله باندې توکل کوه، يقينًا الله له توکل کوونکو سره مينه کوي).[آل عمران سورت: ١٥٩ ايت].

- .....

س٤ په حديث شريف کې هغه اخلاق په نښه کړه چې پدې آيت کې راغلي دي [١٧].

- .....
.....

ښوونکي ته

حديث د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوو ځانګړتياوو په اړه خبرې کوي، چې عبارت دي له: ١- پر خلکو اسانتيا راوستلو، بخښنې او زغم سره د هغه مينه. ٢- د الله تعالى پر حرمتونو غيرت کول، نو پدې دوو ځانګړتياوو کې د هغه پسې اقتدا کول مهمه چاره ده، او کيدی شي چې د دې لپاره ځيني بېلګې بيان کړی شي لکه: عفو کول، بخښنه، سخت زړيتوب او سختي نه کول، همدارنګه له نورو سره مينه، له بدی کرکه کول او غندنه.

نهم حدیث

د مسلمان ورور سره د پریکون حراموالی

له أبو ايوب الأنصاري - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

ژباړه: «د يوه سړي لپاره روا ندي چې خپل ورورله دريو شپو څخه زيات پريږدي، کله چې له يوله بل سره مخ کيږي نو دا ترې مخ اړوي او هغه هم ترې مخ اړوي، په دوی دواړو کې غوره کس هغه دی چې لومړی سلام واچوي».

بُخارِي او مسْلِم روايت کړی دی [١٨].بخاري په کتاب الأدب، باب: الهجرة کې په [٦٠٧٧] شميره روايت کړی، او مسلم په کتاب البِرّ والصِّلَة والآداب، باب: تحرِيم الهَجْر فَوْقَ ثَلاث بِلا عُذْر شَرعِي کې په: [٢٥٦٠] شميره روايت کړی او الفاظ د همده دي.

د حديث لارښوونې:

اسلام د مسلمانانو ترمنځ د همغږۍ او يووالي غوښتنه کوي.

د يو مسلمان لپاره دا روا نه ده چې له خپل مسلمان ورور څخه مخ واړوي، او له دريو ورځو څخه زيات پرې سلام اچول پريږدي.

پر مسلمان واجب دي چې له هر هغه څه څخه ځان وساتي چې د مسلمانانو ترمنځ نفاق او شخړې ته لمن وهي.

که مسلمان ورور دې درسره پريکون وکړ، نو هڅه وکړه چې لومړی سلام پرې ته واچوې، ځکه دا د الله تعالى په نزد ستا لپاره غوره ده.

کله چې د ورونو او ملګرو ترمنځ شخړه يا بې اتفاقي راشي، نو بايد تر منځه يې پخلاينه وشي.

د مسلمان ورورسره د پريکون حراموالی

د راوي پېژندل:

هغه جليل القدر صحابي خالد بن زيد الانصاري دی، د عقبې په بيعت او د بدر په جګړه او له هغه وروسته جګړو کې يې ګډون کړی دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کله مدينې ته راغی نو د هغه په کور کې تر هغه پورې مېشت شو، تر څو يې چې خپل کورونه او جومات ودان کړل، هغه د وحی له ليکوالانو څخه دی او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له وفات وروسته يې د الله په لاره کې جهاد جاري وساته تر دې چې د قسطنطينية په غزا کې د هجرت په پنځوسم کال وفات شو، رضي الله عنه و أرضاه.

د لغتونو معنا:

لغت	معنا
لا يحل	حرام دی.
يَهْجُر أَخاه	چې خپل ورور پرېږدي او خبرې ورسره نه کوي.
فَيُعْرِض	مخنيوی کوي او مخ اړوي.
يبدأ	له خپل ملګري نه په سلام اچولو کې مخکې کيږي.

د بحث پوښتنې

س١ لاندې کلمې معنی کړئ: يَهْجُر- أَخاه - فَيُعْرِض- يَبْدَأ ؟

.....

.....

س٢ د يو مسلمان لپاره د خپل مسلمان ورور سره پريکون څه حکم لري؟
دليل يې څه دی؟

.....

.....

س٣ دوه ملګري دې وليدل چې سره يې پريکون کړی دی، نو تاته څه کول په کار دي؟

.....

.....



د کورنۍ دندې سوالونه

س١ د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا تشريح کړه:(وخَيْرُهُما الذي يَبْدَأ بِالسَّلام).

.....

.....

س٢ يو مسلمان بايد د خپل مسلمان ورور په وړاندې څه دريځ ولري، کله چې ورسره پريکون وکړي؟

.....

.....

س٣ په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او څه چې سمونتيا ته اړتيا لري، سم يې کړئ:

کنځلې او سپکې سپورې د مسلمانانو تر منځ د پريکون لامل ګرځي

سلام اچول مينه، محبت او صداقت رامنځته کوي

چا چې درته سلام واچاوه، نو سلام ځوابول يې واجب نه دي.

کينه او کرکه د ملګرو تر منځ د بېلتون لامل ګرځي.

د کورنۍ دندې سوالونه

س۴ ووایه د ابو ایوب الأنصاري رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږي.(۱۹)

.....

.....



ښوونکي ته

* په اسلام کې اړیکې او دوستۍ د الله لپاره د مینې پر بنسټ ولاړې دي، نو باید پر همدې اساس پراختیا وموميږ.
* په همدې اساس د ولاړو اړیکو فضیلت بیانول، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «الحبّ في اللهِ أَوْثَق عُرَى الإيمان» «د الله لپاره محبت د ایمان تر ټولو ټینګه رسۍ ده» او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «المتَحابُّونَ في جَلالي أظِلُّهُم في ظِلِّي يَوْمَ لا ظِلَّ إلّا ظِلِّي». «هغه کسان چې زما د جلال لپاره یو له بل سره مینه لري، زه به هغوی ته په هغه ورځ زما د سیوري لاندې ځای ورکړم چې زما له سیوري پرته بل سیوری نه وي».

د قرآن کريم د زده کړې او تدريس فضيلت

لسم حديث

له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

ژباړه: «په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې قرآن زده کړي او نورو ته يې وښيي».

بخاري روايت کړی [۲۰].بخاري په کتاب: فَضائِل القرآن، باب: خيرکُم مَن تَعَلَّمَ القرآنَ وعَلَّمَه کې په [۵۰۲۷] شمیره روایت کړی.



د حديث لارښوونې:

په لوستلو او حفظ سره د قرآن کريم زده کړه الله تعالى ته د نږدې کېدلو عزتمنده او د مرتبې له اړخه تر ټولو لويه وسيله ده، ځکه چې د الله تعالى کلام دی.

مسلمان ته په کار دي چې په مدرسه، کور او په جوماتونو کې د قرآن کريم په حلقو کې له ورځوکوالی څخه د قرآن کريم زده کړي ته ليواله وي.

د قرآن کريم د هر توري په لوستلو سره مسلمان ته لس نيکۍ ورکول کيږي.

مسلمان بايد د قرآن کريم د تلاوت آداب مراعات کړي، د تلاوت په پيل کې له رټلى شوي شيطان څخه په الله پناه وغواړي (أعوذ بالله ... ووايي)، ځان پاک کړي، او داسې نور.

د منافقت له نښانو څخه

راوي پېژندنه:

هغه جليل القدر صحابي عثمان بن عفان رضی الله عنه، دريم راشد خليفه او يو له هغو لسو کسانو څخه دی چې د جنت زيری ورکړل شوی او يو له هغو کسانو څخه دی چې خپل مالونه يې په غزا او جهاد کې مصرف کړي دي. هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم له دوو لونو سره واده کړی دی؛ رقية او بيا أم کلثوم رضي الله عنهما، ډير حياناک انسان و، نوموړی د نبوي هجرت په پنځه ديرشم کال په شهادت رسيدلی دی. رضي الله عنه و أرضاه.



د بحث پوښتنې

س۱ په خلکو کې غوره انسان څوک دی؟

.....

.....

س۲ ولې د قرآن کریم زده کړه له غوره عبادتونو څخه ده؟

.....

.....

س۳ د قرآن کریم د تلاوت کوونکي ثواب څومره دی؟

.....

.....

س۴ د قرآن کریم د تلاوت ځینې آداب وښیه؟

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س۱ په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطې اصلاح کړئ:

په ځوانۍ کې د حفظ کولو په پرتله په زاړه عمر کې حفظ کول غوره دي

زده کوونکی باید هره ورځ د قرآن کریم د لوستلو او حفظ کولو لپاره وخت ځانګړی

د قرآن کریم درناوی او قدر باید وشي او له بې احترامۍ څخه یې ډډه وشي

د قرآن کریم د تلاوت لپاره اودس کول ښه کار نه دی

س۲ که تاسو هره ورځ د قرآن کریم دوه کرښې حفظ کړئ او د جمعې ورځ د حفظ شوو آیتونو د مراجعې لپاره ځانګړې کړئ، نو په څلورو اونیو کې به څومره اندازه حفظ وکړئ شئ؟

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س٣ په لاندې تشو ځایونو کې مناسبه کلمه وليکئ:

..... تر ټولو لوی او غوره کتاب دی.

مسلمان باید هره ورځ د ..... یو څه تلاوت وکړي.

یو مسلمان ته روا نه دي چې ..... پریږدي.

د..... حافظ باید نورو خلکو ته قرآن ورزده کړي.

س٤ ووایئ د عثمان بن عفان رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږئ؟ (٢١).

- .....
.....

ښوونکي ته

د خلکو په روح او روان کې د قرآن کریم تعظیم ته ځای ورکول ستره اړتیا ده، نو قدرمن ښوونکي ته په کار دي چې دا اصل له مختلفو لارو د هغوی په زړونو کې ځای پر ځای کړي لکه: د قرآن کریم د فضیلت بیانول او حفظ ته پې هڅول، په فکر او تدبر سره پې لوستل او عمل پرې کول، همدا رنګه د حفظ په اړه پې سیالۍ په لار اچول او داسې نور .

يوولسم حديث

د ملګري اغېز

له ابو موسى الأشعري - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي چې : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

ژباړه: «د ښه ملګري او بد ملګري مثال د مشکو والا او د پخ (آهنګر دی)، نو کوم چې د مشکو والا دی: یا به درته مشک ډالی کړي او یا به تري ښایسته بوی درشي، او پخ چې دی؛ یا خو به دې کالي وسوځي او یا به تري بد بوی درشي».

بخارِي او مُسلِم روایت کړی دی [1].بخاري په کتاب البيوع، باب: في العَطّار وبَيْع المِسْك، او مسلِم په: كتاب البِرّ والصِّلَة والآداب، باب: استِحباب مُجالَسَة الصّالحين ومُجانَبَة قُرنَاء السَّوء کې په [٢٦٢٨] شمیره روایت کړی او الفاظ د مسلم دي.

د راوي پېژندل:

هغه جليل القدر صحابي أبو موسى عبد الله بن قيس الأشعري - رضي الله عنه - دی، په مکه کې يې اسلام راوړی او حبشې ته يې هجرت کړی، د عمر رضي الله عنه په خلافت کې د بصرې والي پاتې شوی، د کوفې خلکو ته يې قرآن کريم او فقه ورزده کړل، د قرآن کريم په تلاوت کې د ډير ښکلي غږ درلودونکی و، نوموړی د نبوي هجرت په دوه څلويښتم کال وفات شو؛ رضي الله عنه و أرضاه.

د ملګري اغيز

د لغتونو معنا:

لغت	معنا
مسک	د عطرو يو ډول دی چې ښايسته بوی لري.
الکِير	د پخ اور لګوونکی
يُحذِيك	وړيا درکړي.
تَبْتاع	واخلي، وپيري
رِيحاً خَبِيثَةً	بد بوی

د حديث لارښوونې:

اسلام هغه لور ته د خپلو اولادونو لارښوونې او پاملرنې ته ارزښت ورکوي چې په دنيا او اخرت کې يې خير پکې وي.
صالح او ريښتينی ملګری د انسان سره د خير په کارونو کې مرسته کوي او له شر څخه يې لرې کوي.
بد ملګری د بدو کارونو له امله پر ملګري ناوړه اغيزې لري لکه: لمونځ پرېښودل، د مور او پلار نافرماني او خلک ازارول.
مسلمان بايد د ښو خلکو پر ملګرتيا ټينګار وکړي چې ښه اخلاق ولري، او د بدکارانو له دوستۍ ځان وساتي.

د بحث پوښتنې

س١ د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا تشريح کړه:
(إنَّما مَثَل الجَلِيسِ الصّالح كَحامِلِ المِسْكِ).

.....

.....

.....

س٢ د نېکانو له ناستې پاستې څه ګټه تر لاسه کوې؟

.....

.....

س٣ څوک چې د بدو خبرو، نورو ازارول، سکرټ څښل، د شپې ویښ پاتې کېدل او داسې نور خویونه لري. نو آیا دا نېک ملګری دی که بد؟ سبب یې ووایه.

.....

.....

س٤ اسلام ولې د ښو خلکو پر ملګرتیا ټینګار کوي؟

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س١ د ښو خلکو درې صفتونه وښیه چې ملګرتیا یې په کار ده.

- .....
.....

س٢ ووایه چې د عبد الله بن قيس الأشعري رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږې؟

- .....
.....

س٣ الله تعالی فرمایلي:ژباړه: (اې مؤمنانو! د سړیو کومه ډله باید په نورو سړیو ملنډې ونه وهي کیدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي او نه دې ښځې پر نورو ښځو ملنډې وهي، کیدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي. او هم یو د بل بد مه یادوئ او مه یو بل ته بد لقبونه ږدئ له ایمان راوړلو وروسته د فسق نوم یادول ډیر بد کار دی. او هر څوک چې له دې وانه ووښت نو همغوی لوی ظالمان دي).

[الحجرات سورت: ١١ ایت].

د ځینو هغو ځانګړتیاوو یادونه وکړئ چې الله تعالی یې په اړه خبرداری ورکړی دی. ایا دا د ښه ملګري ځانګړتیاوې دي که د بد ؟ (٢)

- .....
.....
.....
.....

ښوونکي ته

* د ښو ملګرو ښه صفتونه بیانول لکه: پر اطاعت حرصناک یا په کار کې جدیت ښودل.
* د بدو ملګرو د زیانونو تشریح کول، لکه: د دوی له بدو عادتونو، ناوړه اخلاقو، تنبلۍ خوښولو او په حرامو کې واقع کېدلو څخه اغېزمن کېدل.
* دا تشریح کول چې یو سړی پوهیږي چې باید ملګری یې څوک وي. وګورئ: كتاب الآداب الشَّرعِيَّة د محمَّد بن مفلح رحمه الله (٥٢٧/٣)، او ورپسې.

دولسم حديث

د مور او پلار له حقونو څخه

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې:

يو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: په خلکو کې زما د ښې ملګرتيا تر ټولو زيات مستحق څوک دی؟ هغه وفرمايل: (ستا مور). ويې ويل: بيا څوک؟ هغه وفرمايل: (بيا ستا مور). هغه وويل: بيا څوک؟ ويې فرمايل: (بيا ستا مور). هغه وويل: بيا څوک؟ ويې فرمايل: (بيا ستا پلار).

بخاري او مسلم روايت کړی دی [٣] بخاري په كتاب الأدب، باب: مَن أَحَقّ النّاسِ بِحُسْن الصُّحْبَة کې په [٥٩٧١] شمېره روايت کړی او مسلم په كتاب البِرّ والصِّلَة والآداب، باب: بِر الوالِدَيْن وأَيّهما أَحَقّ به کې په: [٢٥٤٨] شمېره روايت کړی، او الفاظ د همده دي.

د راوي پېژندل:

هغه جليل القدر صحابي عبد الرحمن بن صخر الدوسي دی چې د هجرت په اووم کال؛ د خيبر د فتحې په کال کې يې اسلام راوړی دی، د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې د کلکې ملګرتيا له امله ډيری حديثونه حفظ کړي دي، نوموړی هغه صحابي دی چې تر ټولو زيات حديثونه يې روايت کړي او د نبوي هجرت په اووه پنځوسم کال کې وفات شوی دی، رضي الله عنه و أرضاه.

د حديث لاربښوونې:

د مور او پلار سره د مينې او محبت کولو وجوب، د هغوی اطاعت کول، او له نافرمانۍ څخه يې ځان ژغورل.

مور او پلار انسان ته تر ټولو نږدې خلک او د ملګرتيا او نيکۍ يې زيات حقدار دي.

د مور د حق لوی والی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه درې ځلې وصيت تکرار کړ.

د مور او پلار سره د نيکۍ له ښکلو څخه: د هغوی اطاعت او درناوی دی، د هغوی نافرماني نه کول، خبرې يې نه پرې کول، هغوی نه ازارول، په ژوند کې او له مرګ نه يې وروسته ورته دعا کول او د هغوی د دوستانو ليدل دي.

د مور او پلار اطاعت جنت ته د ننوتلو او نافرماني يې دوزخ ته د ننوتلو لامل دی.

د بحث پوښتنې

س۱ د ښې ملګرتیا تر ټولو مستحق څوک دی؟

.....

.....

س۲ ولې د مور حق د پلار له حق څخه ډېر لوی دی؟

.....

.....

س۳ درې هغه ناوړه کړنې وښیه چې د مسلمان لپاره یې د مور او پلار یا یو پر وړاندې کول حرام دي؟

.....

.....

.....

.....

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س ۱

الله تعالى فرمايلي: ﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ﴾(٢٣)
(او ستا رب حكم کړی چې له هغه پرته د بل چا بنده کې مه کوئ، او مور پلار سره ښېګڼه کوئ. که تا سره يو له هغو يا دواړه يې زړښت ته ورسېږي نو هغوی ته اُف هم مه وايه، رته يې مه او هغوی سره په درناوي خبرې کوه.
(او ته د دوی لپاره له مهربانۍ نه د تواضع وزر ښکته کړه او وايه: ای زما ربه! ته پر دوی دواړو مهرباني وکړه، لکه څنګه چې دوی دواړو زما پالنه کړې ده، په داسې حال کې چې زه وړوکی وم).[الإسراء سورت: ٢٣ -٢٤ ايتونه].

له مور او پلار سره د مهربانۍ په اړه له آيت څخه درې کړنې راوباسه.

.....

.....

دا آيت د مور او پلار د حقونو په عظمت دلالت کوي، تشريح يې کړئ؟

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س٢ لاندې عبارتونه تصحیح کړئ:

د مور او پلار نافرماني او ازارول جنت ته د داخلیدو لامل دی.

د مور او پلار درناوی یوازې د هغوی په ژوند پورې محدود دی.

دا د مور او پلار درناوی نه دی چې د هغوی د دوستانو عزت وشي.

س٣ ووایه د ابوهریرة رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږې؟ (٤)

- .....
.....

ښوونکي ته

* د ځینو دلایلو یادونه چې د والدینو د اطاعت فرضیت او د نافرمانۍ حراموالی بیانوي.
* د والدینو د اطاعت د ښېلابېلو ډولونو بیان.
* د هغوی د نافرمانۍ د مختلفو ډولونو بیان.
* ښه ده چې پدې اړه د ځینو دلایلو او کېسو یادونه وشي لکه: د غار د خاوندانو کېسه. وګورئ: صحيح البخاري، كتاب البيوع، باب: اذا اشترى شيئا لغيره بغير إذنه فرضي کې په ٢٢١٥ شمیره روایت کړی او مسلم په کتاب الذِّكر والدُّعاء والتَّوبة والاستِغفار، باب: قِصَّة أَصحاب الغارِ الثّلاثَة، والتَّوسُّل بِصالِحِ الأَعمال کې په: (٢٧٤٣) شمیره روایت کړی دی.

د ژبې اولاس ساتنه

دیارلسم
حدیث

له ابو موسى الأشعري رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې:

هغوى وويل: اى د الله رسوله! كوم اسلام غوره دى، هغه وفرمايل: ((مَن سَلِمَ المسلِمُونَ مِن لِسانِهِ ويَدِه)).

«-كامل- مسلمان هغه دى چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له ضرر څخه خوندي وي».

بخارِي او مُسلِم [٥] روايت كړى دى.بخاري في كتاب الإيمان، باب: أيّ الإسلامِ أَفْضَل كې په [١١] شميره او مسلم په كتاب الإيمان، باب: بَيان تَفاضُل الإسلامِ وأيّ أُمورِه أَفْضَل كې په: [٤٢] شميره روايت كړى دى.

راوي پېژندنه:

په يوولسم حديث كې يې پېژندنه شوې ده..

د حديث لارښوونې:

اسلام د انسان د بدن د ټولو غړو په سموالي ټينګار كوي او د انحراف مخنيوي ته يې لیواله دى.
ژبه د الله تعالى يو نعمت دى، نو مسلمان يې بايد په ښو كارونو كې وكاروي لكه ذِكر، لوستل، د علم زده كړه او داسې نور.
انسان بايد محتاط اوسي چې ژبه په ګناهونو كې ونه كاروي لكه دروغ، غيبت، چغلي، سپكې سپورې ویل او داسې نور.
لاس د الله تعالى له لورې يو نعمت دى، نو بايد محتاط اوسي چې د الله تعالى په نافرمانۍ كې يې ونه كاروي.
پر نورو تېرى كول او د هغوى حقونه اخيستل حرام دي، كه څه هم لږ شى وي.

د بحث پوښتنې

س۱ د اسلام کومه ځانګړتیا غوره ده؟

.....

.....

س۲ ژبه د الله تعالی نعمت دی، نو څنګه باید وکارول شي؟

.....

.....

س۳ اسلام ټینګار کوي چې مسلمان په خپلو ویناوو او کړنو کې ریښتینی اوسي، له حدیث څخه دې دا فایده څنګه راوویسته؟

.....

.....

س۴ آیا د نورو د عیبونو یادول پر هغوی تیری ګڼل کیږي؟

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س۱ له ملګري څخه دې د هغه له اجازې پرته د قلم او خطکش اخېستل څه حکم لري؟

.....

.....

س۲ د خېر په کارونو کې د ژبې او لاس کارولو ځینې مثالونه وښیئ؟

.....

.....

س۳ ووایه چې د ابو موسی الأشعري رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږې؟

.....

.....

س۴ آیا د هغو خبرو وړل راوړل روا دي چې د ملګرو تر منځ د دښمنۍ او تفرقې لامل ګرځي؟

.....

.....

ښوونکي ته

* اسلام غواړي د خپلو کوچنیانو ذهنونه او د بدن غړي یې په استقامت (وروزي).
* ښه به وي چې ښوونکی د لاس او ژبې د استقامت لپاره ځینې مرستندویه وسایل په ګوته کړي لکه: د قرآن کریم په تلاوت، ذِکر او مباحې وینا سره ژبه عادت کول، همدا رنګه لاس عادت کول چې پر بل چا تېری ونه کړي، او په دنیا او آخرت کې یې د نورو سره د ظلم له پایلو څخه وویروي.

د شرعي علم پرزده کړه ټينګار



له معاوية بن أبی سفيان رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې اوريدلي چې فرمايل يې:

«چا ته چې الله تعالی د خير اراده وکړي، هغه ته په دين کې پوهه ورکوي».

«چا ته چې الله تعالی د خير اراده وکړي، هغه ته په دين کې پوهه ورکوي».بخاري په کتاب العلم، باب: مَن يُرِدِ اللهُ بِه خَيْراً يُفَقِّه في الدِّين کې په [۷۱] شميره او مسلم په کتاب الزَّكاة، باب: النَّهْي عن المَسأَلَة کې په [۱۰۳۷] شميره روايت کړی دی.

د راوي پېژندل:

هغه جليل القدر صحابي امير المؤمنين معاويه بن ابی سفيان؛ صخر بن حرب القرشي الأموي دی، له بعثت څخه پنځه کال وړاندې زيږيدلی، د فتحې په کال يې اسلام راوړی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له ليکوالانو څخه و، عمر - رضي الله عنه - پر شام والي وټاکه، نوموړی د نبوي هجرت په ۶۰ کال د رجب په مياشت کې وفات شوی دی. رضي الله عنه و عن أبيه.



د شرعي علم پرزده کړه ټينګار

د لغتونو معنا:

لغت	معنا
يُفَقِّهْه	پوهه ورکوي



د حديث لارښوونې:

په دين کې د پوهې فضيلت پر نورو ټولو علومو.
دا چې څوک په دين کې پوهه ونه لري، يقينا چې له ډير خير څخه محروم شوی دی.
علم د زړونو ژوند او د بصيرت رڼا ده، او په همدې سره يو مسلمان په بصيرت سره د خپل رب عبادت کوي او په دنيا او اخرت کې يې شان لوړوي.
د نيت اخلاص د علم زده کړه عبادت ګرځوي، چې انسان ته يې اجر ورکول کيږي.

د بحث پوښتنې

س١ ووايه د معاوية بن أبی سفيان رضي الله عنهما په اړه په څه پوهيږې؟

.....

.....

س٢ حديث څه ته لارښوونه کوي؟

.....

.....

س٣ بخاري رحمه الله په خپل صحيح کې فرمايلي: باب: التَّناوُب في العِلْمِ
عن عُمَر رَضِيَ اللّٰهُ عنه:زه او يو انصاري ګاونډی مې له بني امية بن زيد څخه چې په مدينه کې د عوالي سيمه ده، مورِ به رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په نوبت ورتلو، يوه ورځ به هغه ورته او يوه ورځ زه، نو کومه ورځ به چې زه ورغلم د هغې ورځې معلومات به مې ورته راوړل لکه: وحی او داسې نور، او که هغه به ورغی همداسې به يې کول[٨].بخاري په کتاب العلم، باب: التَّناوب في العلم کې په [٨٩] شمیره روایت کړی دی.

د دې کيسې ګټې بيان کړئ.

.....

.....

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س١ الله پاک فرمايلي: ﴿أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو رَحْمَةَ رَبِّهِ ۗ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾
(ايا هغه څوک چې عاجزي کوونکی دی، د شپې په اوږدو کې
په سجده او ولاړه له اخرت نه په ډار او د خپل رب د مهربانيو هيله من وي؟
(او هغه سره برابر دي چې د هيڅ پروا نه ساتي) ای محمده! ووايه ايا هغه چې
پوهيږي له هغو سره يو شان دي چې نه پوهيږي، خبره همدا ده چې پند يوازې
د عقل خښتنان اخلي).[الزمر سورت: ٩ آيت].

آيت په څه شي دلالت کوي؟

- .....
.....

س٢ **لاندې تش ځايونه ډک کړئ:رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**
(مَن يُرِدِ اللهُ بِهِ .....).[٩]

- .....
.....

ښوونکي ته

* د علم فضيلت بيانول او پدې اړه د ځينو آيتونو يادونه. لکه د الله تعالى دا وينا: (يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ) [المجادلة: ١١]. (الله به په تاسو کې هغه کسان په درجو کې اوچت کړي چې ايمان يې راوړی دی او هغه کسان چې هغوی ته علم ورکړی شوی دی)
او د الله تعالى دا وينا: (شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُو الْعِلْمِ قَائِمًا بِالْقِسْطِ ۚ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ) [آل عمران: ١٨].
(الله ګواهي ورکړي ده د دې خبرې چې يقيناً نشته هيڅ لايق د عبادت (په حق سره) مګر هم دی دی او ملايکو او د علم خاوندانو، (هم) په داسې حال کې چې دی په انصاف سره قايم دی، نشته هيڅ لايق د عبادت (په حق سره) مګر هم دی دی چې ډېرغالب، ښه حکمت والا دی)،
ابن القيم رحمه الله په خپل کتاب "مفتاح دار السعاده" کې له دې آيت څخه د علم د فضيلت په اړه لس استنباطه کړي دي، او ورپسې يې يو سل او درې پنځوس استنباطه د علم د فضيلت په اړه بيان کړي دي.
* هغه د ځينو هغو لارو چارو يادونه کړې ده چې د علم په زده کړه کې مرسته کوي، لکه په مطالعه کې زيار ويستل، ازاده او ګټوره مطالعه، او په جوماتونو کې د قرآن کريم د حفظ حلقو او د علماوو درسونو ته حاضريدل او داسې نور .
* له زده کړې موخه چې پر علم عمل او هغه ته بلنه ده.
* د زده کړې آداب بيانول لکه: ښوونکي ته درناوی، عاجزي او غوره اخلاق. وګورئ: الآداب الشرعية د ابن مفلح رحمه الله (٣٣/٢) او ورپسې، حلية طالب العلم د شيخ بكر أبو زيد رحمه الله.

پنځلسم حدیث

د لارې حق

د أبو سعيد الخدري - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

(إيّاكُم والجلوسَ بالطُّرقات) په لاروکې له ناستې ډډه وکړئ، هغوی وويل: ای د الله رسوله، زمونږ خوله دې ناستو او خبرو اترو پرته بله چاره نشته: نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (إذا أَبَيْتُم إلّا المجلِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّه) (که په ناستې ټينګار کوې، نو لارې ته د هغې حق ورکړئ) هغوی وويل: د لارې حق څه شی دی ای د الله رسوله! هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (غَضّ البَصَرِ، وكَفّ الأَذَى، ورَدّ السَّلام، والأَمْر بالمعروفِ، والنَّهْي عن المنكَر). د سترګو ساتنه، خلکو ته له ضرر رسولو ډډه کول، سلام ځواب ول، په نیکۍ امر او له بدۍ څخه منع کول يې حق دی.

بُخارِي او مُسلِم روايت کړی دی [١٠].بخاري په كتاب الاستِئذان، باب: قَوْلِ الله تعالى:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ) کې په [٦٢٢٩] شمیره روايت کړی دی او دا الفاظ د همده دي، او مسلم په كتاب اللِّباس والزِّينَة، باب: النَّهي عن الجلوسِ فِي الطُّرقات وإعطاء الطَّرِيق حَقَّه کې په: [٢١٢١] شمیره روايت کړی دی.

د حديث لارښوونې:

اسلام موخه لري چې مسلمانه ټولنه د غوره والي لوړو پوړيو ته ورسوي، نو ځکه يې د هر هغه څه لپاره آداب ټاکلي چې بايد رعايت شي.

لار د هغو زيانونو له امله د ناستې ځای نه دی چې له هغې څخه رامينځته کيږي لکه: په کنځلو، د خولې سترګو او لاسونو په اشارو د خلکو ازارول او د خلکو له حالاتو ځان خبرول او داسې نور.

که چيرته په لاره کې له کښيناستلو چاره نه وي، نو ناست کس بايد سلام ځواب کړي، ورک شوو ته لارښوونه وکړي، خلکو ته د نیکۍ لارښوونه وکړي، له بدۍ څخه يې وويروي، او د هغو کسانو سره مرسته وکړي چې مرستې ته اړتيا لري.

هر هغه څوک چې په عامه پارک، سړک يا داسې نورو ځايونو کې ناست وي، بايد خپلې سترګې له هغه څه څخه ښکته وساتي چې الله تعالى منع کړي دي.

په وينا او يا کړنه د نورو آزارول حرام دي.

د لارې حق

د راوي پېژندل:

هغه جليل القدر صحابي سعد بن مالک بن سنان الخدري الأنصاري دی، د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې د خندق په غزا او بيعة الرضوان کې حضور درلود، لدې پرته يې په دولسو غزاګانو کې ګډون کړی دی، نوموړی له فقهاوو، مجتهدينو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د أحاديثو له ډيرى روايت کوونکو څخه و او د نبوي هجرت په ۷۴ کال کې وفات شوی دی رضي الله عنه و أرضاه.

د لغتونو معنا:

لغت	معنا
إيّاكُم	ځان وساتئ
مَالَنا مِن مجالِسِنا بُدّ	يعني پدې ځايونو کې مو له ناستې پرته چاره نشته.
فإذا أَبَيْتُم	که انکار کوئ.
غَضُّ البَصَرِ	ستركې هغه څه ته له کتلو ساتل چې الله حرام کړي دي.

د لارې حق

د لغتونو معنا:

لغت	معنا
المعروفُ	د ټولو ښېګڼو لپاره یو جامع نوم دی.
المُنْكَرُ	د ټولو بدیو لپاره یو جامع نوم دی.

د بحث پوښتنې

س١ رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:(إيّاكُم والجلوسَ بِالطُّرقات ...).
حديث له يادو بشپړ کړه.

.....

س٢ **ولې اسلام د لارې لپاره حق ټاکلی دی؟**

.....

.....

س٣ **د لارې له حقونو څخه يو ضرر لرې کول دي، تشريح يې کړه، او خلکو ته د ضرر رسولو دوه بيلګې بيان کړه؟**

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س١ ووایه د أبو سعید الخدري رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږې؟

.....

.....

س٢ د لارې له حقونو څخه یې درې حقونه ووایئ؟

.....

.....

.....

س٣ په لاندې کړنو کې سمې او ناسمې کړنې په ګوته کړئ:

د لمانځه په وخت کې په لارو کې کښناستل.

د ګاونډیانو د کور مخې ته په توپ لوبې کول.

له هغه څه نه ستړکې ساتل چې الله حرام کړي دي.

د کورنۍ دندې سوالونه

س۴ لاندې تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:
ادب - کور - سلام - ښېګڼه - ځانګړی - سرک.

د لارې له حقونو څخه .....ځوابول او .....ته لارښوونه

په ..... کې له ملګرو سره کښناستل، په ..... کې له ودرېدلو څخه غوره دي.

په لاره کې په ..... سره تلل غوره دي لدې چې بې ځایه حرکتونه پرې وشي.

لوبې په هغو ځایونو کې کیږي چې ورته ..... شوي وي.(۱۱)

ښوونکي ته

* د اسلام د هر اړخیزوالي بیان چې هر حقدار ته یې خپل حق ورکړی دی، لکه د الله تعالی حقونه، د ځان، مور او پلار، اولادونو، ګاونډیانو او نورو حقونه.
* دا تشریح کول چې مسلمان باید د هر ځای اداب مراعت کړي.

شپاړسم حدیث

پیاوړی مؤمن له کمزوري مؤمن څخه غوره دی

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«پیاوړی مؤمن الله ته له کمزوري مؤمن څخه خوښ او غوره دی او په دواړو کې خیر دی، په هغه څه ټینګاروکړه چې ګټه درته رسوي او د الله تعالى نه مرسته وغواړه او مه کمزورى کیږه، که چیرته درته څه - زیان - ورسیده نو داسې مه وایه چې: که چیرته مې داسې کړي وای، نو داسې او داسې به شوي و، بلکې وایه چې: د الله تقدیر دی او هغه چې څه غوښتل هغه یې وکړل؛ ځکه د (که چیرته) کلمه د شیطان کړنې پرانیزي». بخارِي مُسلِم روايت کړی [١٢] مسلم په کتاب القدر، باب: في الأَمْر بِالقوَّة وتَرْك العَجْز، والاستِعانَة باللهِ وتَفوِيض المَقادِيرِ لله کې په: [٢٦٦٤] شمیره روايت کړی، او ابن ماجه په المقدِّمَة، باب: في القدر کې په: [٧٩] شمیره او بيهقي په السُّنن الكبرى کې په کتابِ آداب القاضِي، باب: فَضْل المُؤمِن القَوِيّ الذي يقومُ بِأَمْرِ النّاسِ ويَصْبِر على أَذاهُم کې روايت کړی دی.

راوي پېژندنه:

په دولسم حدیث کې معرفي شوی دی.

د حدیث لارښوونې:

اسلام مسلمان ته لارښوونه کوي چې په خپل ایمان، پوهه، اراده او بدن کې قوي اوسي.

پیاوړی مومن باید خپل ځواک د الله تعالى د اطاعت او د نورو سره د مرستې لپاره وکاروي.

په مومن کې خیر دی، که څه هم کمزوری وي.

مسلمان باید د خپر د کارونو په وړاندې سست کمزوری نه وي.

مسلمان ته په هرحالت کې په کار دي چې په الله تعالى مرسته وغواړي او هغه ته په آسانه او سخته کې پناه یوسي.

په قضا او قدر ایمان درلودل او د مصیبتونو پر وړاندې صبر کول واجب دي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم په یو تېر شوي کار د پښېمانتیا له امله د (که چیرته) له کلمې څخه منع فرمایلې ده؛ ځکه چې د شیطان د وسوسې لپاره کیلي ده، او د الله تعالى په تقدیر ناخوښي ده.

پیاوړی مؤمن له کمزوري مؤمن څخه غوره دی

د لغتونو معنا:

لغت	معنا
المؤمن القوي	يعني په ايمان، علم، عزيمت، جسم، ديني او دنيوي چاروکې پياوړی مؤمن
خير	غوره دی
احْرِص على ما يَنْفَعُك	هغه څه ته پاملرنه وکړه چې ګټه درته رسوي
واسْتَعِن بِالله	اوپه الله مرسته وغواړه
وان أصابک شيئ	اوکه د الله له تقدير څخه درورسيدل ولا تعجز: نو مه کمزوری کيږه
تفتح عمل الشيطان	د (که چيرته) کلمه د شيطان د وسوسو لارپر انيزې

د بحث پوښتنې

س١ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې وينا څه معنا:
(احْرِص على ما يَنْفَعُكَ، واسْتَعِن باللهِ ولا تَعْجَز)؟

.....

.....

س٢ رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:(المؤمِن القَوِيّ خَيْرٌ .....).
حديث له يادو بشپړ کړه.

.....

.....

س٣ په قضا او قدر ايمان راوړل واجب دي، پدې څنګه پوه شوې، تشريح يې کړه؟

.....

.....

س٤ چاته چې ناروغي ورسي او يا يې خپلوان مړ شي نو څه کول ورته په کار دي؟

.....

.....

س٥ د حديث دوه ګټې له حديث څخه بيان کړه؟

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س١ د رسول الله صلى الله عليه وسلم وينا تشريح کړه (چې فرمايي):
(فإنَّ لو تَفْتَح عَمَل الشَّيطانِ).

.....

.....

س٢ لاندې کلمې دې چې له حديث څخه زده کړې، هره يوه يې په ګټوره جمله کې وکاروه.
مرسته، پياوړتيا، ګټور، ليواله.

.....

.....

س٣ لاندې عبارتونه سم کړئ:

پياوړی مومن هغه دی چې لمانځه ته ناوخته راځي.

د مور او پلار خبره منل هغه کمزوري ده چې منع تري راغلې ده.

مصيبتونه د الله تعالى له تقدير څخه نه دي.

له پياوړتيا څخه مراد يوازې د جسم پياوړتيا ده.

د کورنۍ دندې سوالونه

س۴ ووایه د ابوهریرة رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږې؟ (۱۳).

- .....

.....

.....

.....



ښوونکي ته

* په حدیث کې ذکر شوي د ځواک ډولونه تشریح کول، کوم چې په ایمان کې دي لکه څنګه چې په پوهه کې دي، او په اراده او عزم کې دي لکه څنګه چې په بدن کې دي.
* د دې ځواک هدف د الله تعالی اطاعت لپاره ځان پیاوړې کول دي.
* دا تشریح کول چې هر څه چې پیښیږي د الله تعالی په فرمان او تقدیر سره دي. پدې اړه د شیخ عبدالرحمن بن حسن رحمه الله لخوا لیکل شوي، فتح المجید، د توحید د کتاب شرحې ته مراجعه وکړئ.

اوولسم حديث

د اجازې غوښتلو آداب

له ابو موسى الأشعري رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«الاسْتِئْذانُ ثَلاث، فإن أَذِن لك وإلّا فارْجِع».

«اجازه غوښتل درې ځلې دي، نو که اجازه درکړل شوه (ښه ده) کنه نو وګرځه».

بُخارِي او مُسلِم روايت کړى دى [١٤].مسلِم په کتاب الآداب، باب: الاستِئْذان کې په: [٢١٥٤] شميره روايت کړى او الفاظ د همده دي، او بخارِي په نورو الفاظو سره په کتاب الاستِئذان، باب: التَّسلِيم والاستِئْذان ثَلاثاً کې په [٦٢٤٥] شميره روايت کړى دى.

د راوي پېژندل:

په يوولسم حديث کې معرفي شوى دى.



د لغتونو معنا:

لغت	معنا
الاستِئْذانُ	د ننوتلو لپاره اجازه غوښتل
ثلاث	درې ځلې

د حديث لارښوونې:

اجازه غوښتل آداب لري چې يو مسلمان يې بايد په خپل ورځني ژوند کې رعايت کړي.

د اجازې غوښتلو له ادابو څخه درې ځلې دروازه ټکول دي، چې د هر ځل ټکولو پسې بايد يو څه وخت تېر شي؛ تر څو د (کور خاوند ته) د ځواب ورکولو لپاره فرصت ورکړل شي، له دريو ځلو زيات ټکول هم باک نه لري که چېرته يې ګومان دا و چې کيدی شي د کور خاوند د دروازې ټکول اوريدلي نه وي.

که چېرته اجازه ورکړل شوه (نو ښه ده) کنه بيرته دې لاړ شي، لدې پرته چې خلک تنګ کړي.

اجازه په دروازې ټکولو سره غوښتل کيږي، تر څو يې د کور خاوند دننه واوري، او تنګول به نه کوي، چې په موټر هارن ووهي يا ټيزې چغې ووهي، يا د کور په زنګ د اوږد وخت لپاره ګوته زور ونيسي.

کور، ټولګي، يا شخصي ځايونو ته د ننوتلو لپاره اجازه غوښتل کيږي.

مسلمان د چا ځانګړې کوټې ته نه ننوځي، مګر له اجازې غوښتلو وروسته.

د بحث پوښتنې

س١ الله تعالى فرمايلي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَىٰ أَهْلِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤْذَنَ لَكُمْ ۖ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا ۖ هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨﴾

(اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى تاسو له خپلو كورونو نه غير نورو كورونو ته مه داخليږئ، تر دې چې تاسو اجازه وغواړئ او د هغو په اوسيدونكو سلام واچوئ، دا ستاسو لپاره ډير غوره دي، د دې لپاره چې تاسو پند واخلئ.

نو كه تاسو په دې (كورونو) كې څوك ونه مومئ، نو تاسو هغو ته مه ننوځئ، تر دې چې تاسو ته اجازت دركړل شي او كه تاسو ته وويل شي چې بېرته وګرځئ، نو تاسو بېرته وګرځئ، دا ستاسو لپاره ډير پاكيزه دى او الله په هغو كارونو چې تاسو يې كوئ ؛ ښه عالم دى).[النُّور سورت: ٢٧ -٢٨ ايتونه]

- .....
.....
.....
.....

س٢ له اجازې غوښتلو څخه مراد څه شى دى؟ او څنګه كيږي؟

- .....
.....

س٣ له حديث څخه دوه فايدې راوباسه؟

- .....
.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س١ که چاته د ننوتلو اجازه ونه شي نو څه بايد وکړي؟

- .....
.....

س٢ په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطې اصلاح کړئ:

د دروازې له سوري څخه کتل روا دي

له درې ځلو زيات دروازه ټکول باک نه لري که چيرته يې د کور خاوند وانه وري

س٣ اجاز غوښتل د څه لپاره روا شوي دي؟

- .....
.....

س٤ ووايه چې د ابو موسى الأشعري رضي الله عنه په اړه په څه پوهيږې؟ (١٦)

- .....
.....

ښوونکي ته

* د زده کوونکو په روان کې عمومي آدابو ته ځای ورکول لکه: د اجازې غوښتلو آداب.
* دا تشريح کول چې اسلام د اجازې په غوښتلو سره په کورونو کې د شرمګاوو پر ساتلو ټينګار کوي.
* د دې وضاحت چې اجازه غوښتل ډيرى آداب لري لکه: - په نرمۍ سره دروازه ټکول. - څوک چې اجازه غواړي بايد د دروازې د پرانيستلو پر مهال مخامخ ونه درېږي بلکې ښي يا کيڼ اړخ ته دې ودرېږي. - که وويل شي چې په دروازه کې څوک دى، نو ووايه: چې فلانى د فلاني زوى، او داسې مه وايه چې: ((زه))؛ ځکه چې د دې اطلاق په هر چا کيږي، د جابر رضى الله عنه په روايت کې راځي چې هغه پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته دروازه وټکوله نو هغه وويل: (څوک دى) نو ما وويل: زه، هغه وفرمايل:"زه، زه " لکه چې د دې الفاظو يې بد راغلل.

د ايمان خوارِه

اتلسم حديث

انس رضى الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت كوي فرمايي:

ژباړه: «درې شيان داسې دي چې په چا كې وي هغه به د ايمان خوارِه ومومي: دا چې الله او رسول يې ورته ترټولو محبوب وي، اوله چا سره چې مينه كوي يوازې د الله لپاره يې وكړي، او دا چې له كفر نه الله ژغورلى، نو بيرته ورګرځيدل داسې بد وګڼي لكه څنګه چې په اور كې غورځيدل بد ګڼي».

بُخارِي او مُسلِم روايت كړى دى [١٧].بخاري په كتاب الإيمان، باب: حَلاوَة الإيمان كې په: [١٦] شميره روايت كړى، او مسلم په كتاب الإيمان، باب: بَيان خِصالٍ مَن اتَّصَف بِهِنّ وَجَدَ حَلاوَةَ الإيمان كې په: [٤٣] شميره روايت كړى، او الفاظ د همده دي.

د راوي پېژندل:

هغه جليل القدر صحابي أبو حمزه أنس بن مالک الأنصاري الخزرجي - رضي الله عنه - دى، مور يې ام سُليم په لس كلنۍ كې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راووست او ورته يې وويل: اى د الله رسوله! دا انس هلک به ستا خدمت كوي، هغه ترې قبول كړ، دعا يې ورته وكړه او ويې ويل:(اللَّهُمّ أَكْثِر مالَهُ ووَلَدَه، وأَدْخِلْه الجنَّةَ)[١٨]،

«اى الله مال او اولاد يې زيات كړه او جنت ته يې داخل كړه».

هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د ډيرى حديثونو روايت كوونكى او وروستى هغه صحابي دى چې په بصره كې د نبوي هجرت په درې نويم كال وفات شوى دى، رضي الله عنه و أرضاه.

أنس رضي الله عنه فرمايلي دي: «ما د خپلو اولادونو له اولادې پرته چې زما له شا دي، ١٢٥ نښې كړي دي (يعنې زما مخكې مړه شوي دي) او زما ځمكې په كال كې دوه ځلې ميوه نيوله (دوه فصلونه يې كول)» وګورئ: الإصابَة لابن حجر [٧٢/١].

اتلسم حدیث

د ایمان خوارې

د لغتونو معنا:

لغت	معنا
ثَلاث	درې خویونه او صفتونه.
حَلاوَة الإيمانِ	د ایمان خوارې، چې دا په زړه کې ډاډ، د روح تسکین او د اطاعت د اعمالو له ترسره کولو سره مینه ده.
لا يحبُّه إلّا لله	مینه ورسره نه کوي (مګر د الله لپاره).

د حدیث لاربښوونې:

ایمان یو خوند لري چې یوازې هغه کسان یې څکلی شي چې د ریښتینو مومنانو صفات پکې وي.
د مومن یوه ځانګړتیا دا ده چې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم سره مینه د ټولو مخلوقاتو، حتی د مور او پلار، اولاد او ځان سره له مینې کولو پورته ګڼي.
څوک چې د الله تعالی او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه لري نو د اوامرو په پر ځای کولو سره یې اطاعت کوي او نواهیو څخه یې ځان ساتي.
د مسلمان له صفاتو څخه د الله تعالی لپاره د خپل مسلمان ورور سره مینه کول دي، او نښه یې دا ده چې: خپل ورور ته هغه څه خوښ کړي چې ځانته یې خوښوي.
پر مسلمان واجب دي چې کفر داسې بد وګڼي لکه څنګه چې بد ګڼي په اور کې وغورځول شي.

د بحث پوښتنې

س۱ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:(ثَلاثٌ مَن کُنَّ فیه وَجَد .....).
حدیث له یادو بشپړ کړئ.

.....

س۲ د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم سره د انسان د مینې دلیل وښیه؟

.....

.....

س۳ س۴- هغه نښه وښیه چې له مخې یې تاسو د خپل مسلمان ورور سره مینه کول پیژنئ؟

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س۱ په چا کې چې دا درې خویونه پیدا شي څه حس ورته پیدا کیږي؟

.....

.....

س۲ الله تعالی د خپل پیغمبر او د هغه د صحابه کرامو په صفت کې په سورة الحشر کې فرمایلي:

﴿وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِن قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾

(او د هغو کسانو لپاره دي چې دوی له دغو (مهاجرینو) نه مخکې په دغه کور (مدینه) کې او په ایمان کې ځای نیولی دی، دوی له هغو کسانو سره مینه کوي چې دوی ته یې هجرت کړی دی او دوی په خپلو سینو (زړونو) کې هیڅ غصه (او حسد) نه مومي د هغه (مال) په وجه چې دغو (مهاجرینو) ته ورکړی شو او دوی په خپلو ځانونو (هجرت کوونکو ته) ترجیح ورکوي اګر که په دوی باندې تنګي (او حاجت

.....

.....

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س۳ د کفر او کافرانو په وړاندې باید څه وکړې؟

د مور او پلار نافرماني او ازارول جنت ته د داخليدو لامل دی.

د مور او پلار درناوی یوازې د هغوی په ژوند پورې محدود دی.

دا د مور او پلار درناوی نه دی چې د هغوی د دوستانو عزت وشي.

س۴ ووایئ د أنس بن مالک رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږئ [۱۹].

.....

.....

ښوونکي ته

الله تعالی فرمایلي: (قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ) [آل عمران: ۳۱]. (ای نبي!) ووایه: که چېرې یئ تاسو چې له الله سره مینه کوئ، بیا نو زما اتباع وکړئ، الله به له تاسو سره مینه وکړي او تاسو ته به ستاسو ګناهونه وبخښي او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی. ښوونکي ته په کار دي:

* د هغه څه د پیروی معنی تشریح کول چې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له خوا راغلي دي او پرې ټینګار کول.
* د الله تعالی لپاره د محبت د فضیلت بیان او په دنیا او آخرت کې یې اغېزې پېژندل.

نولسم حدیث

پر خلکو ترحم

له جرير بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

ژباړه: «څوک چې پر خلکو رحم نه کوي، الله تعالى پرې رحم نه کوي».

مسلم او ترمذی روايت کړی دی.بخاري په کتاب الأدب، باب: رَحْمَةُ النّاسِ والبَهائِم کې په: (٦٠١٣) شمیره روايت کړی، او مسلم په کتاب الفَضائل، باب: رَحْمَته صلَّى الله عليه وسلم الصِّبْيان والعِيال وتَواضعه وفَضْل ذلك کې په: (٢٣١٩) شمیره روايت کړی او الفاظ د همده دي، او ترمذي په کتاب البِرّ والصِّلَة، باب: ما جاء في رَحْمَة المُسلِمِين کې په: (١٩٢٢) شمیره روايت کړی او أبو عِيسى ترمِذي ويلي: «دا حديث صحيح دی».

راوي پېژندنه:

هغه جليل القدر صحابي جرير بن عبد الله البجلي رضي الله عنه دی، له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وروسته يې په جګړو کې ګډون کړی دی، د قادسې د جګړې په فتح کې يې لوی اغيز درلود، له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې ډيری حديثونه روايت کړي دي، جرير وايي: له کومې ورځې چې مسلمان شوی يم رسول الله صلى الله عليه وسلم منع کړی نه يم، او هيڅکله راسره مخ شوی نه دی مګر دا چې تبسم يې کړی دی، نومورې د نبوي هجرت په ۵۱ کال وفات شوی دی، رضي الله عنه.

پر خلکو ترحم



د حدیث لارښوونې:

پر خلکو د یو مسلمان رحم کول د الله تعالی د رحمت لامل ګرځي.
پر خلکو رحم کول د ریښتینو مومنانو له صفتونو څخه دي.
خلکو ته درناوی ساتل، ورسره مرسته کول او پرې مهربانه کېدل، یتیم پالنه دا ټول پر هغوی د ترحم نمونې دي.
له خدمتګارانو، ډرېورانو او کاریګرو سره نیک چلند کول او هغوی نه ازارول پر هغوی د مهربانۍ نمونې دي.
څوک چې بې رحمه، خوشک او سخت زړی وي هغه پر خلکو ترحم نه کوي.

د بحث پوښتنې

س١ د مؤمنانو ځینې صفتونه وښیه چې الله تعالی یې خوښوي؟

.....

.....

س٢ د هغه چا پایله به څه وي چې پر خلکو ترحم کوي؟

.....

.....

س٣ یوه کیسه وکړئ چې د ترحم څرګندونه کوي؟

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س١ الله تعالى خپل رسول صلى الله عليه وسلم ته فرمايلي:

﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾

(نو (يواځې) د الله د رحمت په سبب ته د دوی لپاره نرم يې او که چېرې ته بدخويَه، سخت زړی وې (،نو) خامخا دوی به ستا له چاپېره نه خواره شوي وو، نو دوی ته معافي کوه، او د دوی لپاره بخښنه غواړه، او له دوی سره په کار کې مشوره کوه).[آل عمران سورت: ايت ١٥٩].

هغه کوم خويونه دي چې الله تعالى ترې په دې آيت کې ويرول کړي دي؟

- .....
.....
.....
.....

س٢ لاندې عبارتونه تصحيح کړئ:

د خلکو ځورول د الله تعالى د رحمت لامل ګرځي.

سختي (د زړه سختوالى) د مومنانو له صفتونو څخه يو صفت دى.

د مور او پلار سره سخت چلند له هغوى سره نيکي ده.

د کورنۍ دندې سوالونه

س٣ د معیوبینو پر وړاندې باید څه وکړې؟

.....

.....

س٢ ووایه د جریر بن عبد الله البجلي په اړه په څه پوهیږې؟ (٢١).

.....

.....

ښوونکي ته

*رحمت هر هغه څه ته شاملیږي چې ترحم پرې واجب دی له مخلوقاتو څخه، ښه به وي چې دلته د ترحم د ځینو بېلګو او شواهدو یادونه وشي. وګورئ: صحيح البخاري، كتاب الأدب، باب: رَحْمَة الوَلَد وتَقْبِيله ومُعانَقَته، د باب شمیره ده (١٨)، او باب: رَحْمَة النّاس والبَهائِم، د باب شمیره ده: (٢٧).

مسلمان ورور سره د مسلمان مينه

شلم حديث

له انس -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي:

«په تاسو کې هيڅوک (پوره) مومن کيدلی نه شي؛ تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي».

بُخارِي او مُسلِم روايت کړی [۲۲].بخاري په کتاب الإيمان، باب: مِن الإيمان أن يُحِبَّ لأخِيهِ ما يُحِبّ لِنَفْسِه، کې په [۱۳] شميره، او مسلم په کتاب الإيمان، باب: الدَّلِيل على أنَّ مِن خِصال الإيمان أن يُحِبّ لأخِيهِ المُسلِم ما يُحِبُّه لِنَفْسِه مِن الخَيْرِ، کې په [٤٥] شميره روايت کړی دی.

د راوي پېژندل:

په اتلسم حديث کې يې پېژندنه شوې ده.

د حديث لارښوونې:

محبت کول د ريښتينو مومنانو له صفاتو څخه دی.

د بشپړ ايمان له نښو څخه يو دا ده چې يو مسلمان خپل مسلمان ورور ته هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي، او هغه څه ورته بد وګڼي چې د ځان لپاره يې بد ګڼي.

حسد، کينه او بغض هغه ناروغۍ دي چې ايمان کموي.

د مسلمان ورور سره د محبت کولو يوه نښه دا ده چې غلطي يې اصلاح کړي، ښېګڼې ته بلنه ورکړي او د ظلم کولو څخه يې لاسنيوی وکړي.

يو مسلمان بايد له هر هغه څه څخه ډډه وکړي چې مينه اغيزمنوي، لکه خود غرضي ([۲۳]) او نور.

انانيت دې ته و ايي چې: له نورو پرته هر څه يوازې د ځان لپاره خوښوي.

د بحث پوښتنې

س۱ مينه او کرکه دوه متضادې کلمې دي، تر منځه ځينې توپيرونه وښيئ.

- .....
.....

س۲ د مسلمان ورور سره دې د محبت کولو نښه څه شی ده؟

- .....
.....

س۳ هغه څه چې د ايمان په کمښت دلالت کوي هغه: د مسلمان ورور سره کينه کول دي، تشريح يې کړه؟.

- .....
.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س١ رسولُ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم فرمايلي: «سَبْعَةٌ يُظِلُّهم اللهُ في ظِلِّه يَوْمَ لا ظِلَّ إلّا ظِلّه ..... » «اووه کسان دي چې الله تعالى به په هغه ورځ د خپل سيوري لاندې ځای ورکړي چې د هغه له سيوري پرته به بل سيوری نه وي» او له دوی څخه يې ..... «رَجُلان تحابّا في اللهِ، اجْتَمَعا عليه وافْتَرَقا عليه». «دوه هغه کسان دي چې د الله لپاره يې سره مينه کړې ده، پر همدې سره يو ځای شوي او پر همدې سره جلا شوي دي» ياد کړي. مُتَّفَق عليه [٢٤].

بخاري په کتاب الآذان، باب: مَن جَلَس فِي المَسْجِد يَنْتَظِر الصَّلاةَ وفَضْل المَساجِد، کې په: [٦٦٠] شميره روايت کړی، او مسلِم په: کتاب الزكاة، باب: فَضْل إخفاء الصَّدَقَة کې په: [١٠٣١] شميره روايت کړی دی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو دوو کسانو لپاره څه بدله ښودلې ده چې د الله لپاره سره مينه کوي؟

.....

.....

.....

.....

س٢ د مينې لاملونه څه دي؟

.....

.....

د کورنۍ دندې سوالونه

س٣ لاندې کلمې په ګټورو جملو کې د هغه څه پر بنسټ وکاروئ چې تاسو له حدیث څخه زده کړې دي:

ورک شوي ته لارښوونه، کینه، د اړمن سره مرسته، د مور او پلار سره مینه، ښوونکی.

.....

.....

.....

.....

.....

س٤ ووایئ د أنس بن مالک رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږئ؟ (٢٥).

.....

.....

ښوونکي ته

* محترم ښوونکي ته - چې د لوستونو د پای ته رسولو په درشل کې دی - په کار دي چې د زړونو پر پاکوالي او د زده کوونکو ترمنځ په خپلمنځي محبت ټینګار وکړي او له بدو صفتونو څخه یې وویروي لکه: کرکه کول، کینه او بغض او داسې نور.

* ښه به وي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابه کرامو د ځینو صفتونو یادونه وکړي، په ځانګړې توګه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د هجرت پر مهال، کله چې هغه د مهاجرینو او انصارو تر منځ ورورګلوي اعلان کړه، تر دې چې خپلو کې یې خپل کورونه یو تر بل ځار کړل.

فهرست

لومړی حدیث	ایمان او استقامت
دویم حدیث	د لمونځ پریښودونکي کفر
دریم حدیث	د ذِکر فضیلت
څلورم حدیث	د رسول الله صلی الله علیه وسلم محبت
پنځم حدیث	ښه اخلاق
شپږم حدیث	د حیا فضیلت
اووم حدیث	د منافقت له نښانو څخه
اتم حدیث	عفو او ښښنه
نهم حدیث	د مسلمان سره د پریکون حراموالی
لسم حدیث	د قرآن کریم د زده کړې او تدریس فضیلت

فهرست

يوولسم حديث	د ملګرې اغېز
دولسم حديث	د موراو پلارله حقونو څخه
ديارلسم حديث	د لاس اوژبې ساتنه
څوارلسم حديث	په شرعي زده کړه ټينګار
پنځلسم حديث	د لارې حق
شپاړسم حديث	پياوړی مؤمن له کمزورې څخه غوره دی
اوولسم حديث	د اجازې غوښتلو آداب
اتلسم حديث	د ايمان خواږه
نولسم حديث	پرخلکو ترحم
شلم حديث	د مسلمان له خپل مسلمان ورورسره مينه کول.

